FATF

# INTERNATIONAL STANDARDS ON COMBATING MONEY LAUNDERING AND THE FINANCING OF TERRORISM & PROLIFERATION

# The FATF Recommendations

February 2012

د مالي اقداماتو اداري (FATF) سپارښتنې د نشه يي توکو او جرمونو پر وړاندې د ملګرو ملتونو دفتر
(UNODC) په مسؤوليت او د مالي اقداماتو اداره د دارالانشاء په اجازې پښتو او دري ژبو باندي ژباړل شوي
دي. که چیرته د یادو سپارښتنو د تفسیر په اړه کومه ستونزه منځته راشي، انګلیسي او فرانسوي متنونه چې د
مالي اقدامات اداري په ویب پاڼه (www.fatf-gafi.org/recommendations) کې چې په رسمي توګه
خپاره شوي، د اعتبار وړ بلل کیږي.

2015

FINANCIAL ACTION TASK FORCE

د مالي اقداماتو اداره (FATF) یوه مستقله بین الحکومتي اداره ده چې د پیسو د تطهیر ، د ترهګرۍ د تمویل او د ډله ایزې وژنې د وسلو د خپرښت په وړاندې د نړۍ د مالي سیستم د خوندیتوب لپاره ځانګړې پالیسۍ طرح او تطبیقوي . د دې ادارې سپارښتنې د پیسو د تطهیر پر ضد (AML) او د ترهګرۍ د تمویل پر ضد (CFT) د مبارزې د نړیوالو معیارونو په توګه پیژندل شوي دي.

ددې ادارې په هکله د زیاتو معلوماتو د ترلاسه کولو لپاره د هغې انترنیتي پاڼې ته مراجعه وکړئ:

www.fatf-gafi.org

© 2013 FATF/OECD. All rights reserved.
No reproduction or translation of this publication may be made without prior written permission.
Applications for such permission, for all or part of this publication, should be made to
the FATF Secretariat, 2 rue André Pascal 75775 Paris Cedex 16, France
(fax: +33 1 44 30 61 37 or e-mail: contact@fatf -gafi.org).

# د پیسو د تطهیر او د ترهګرۍ د تمویل او د ډله ایزې وژنې د وسلو د خپرښت پر ضد د مبارزې نړیوال معیارونه

## دمالي اقداماتو ادارې (FATF) سپارښتنې

د ۲۰۱۲ کال د فبروري میاشت

د ۲۰۱۳ کال دفبروري چاپ

## د مطالبو فهرست

د FATF د سپارښتنو فهرست ........................................................ ۴
پیلیزه ........................................................ ۸
د FATF سپارښتنې ........................................................ ۱۲
د FATF د سپارښتنو په هکله تفسیري یادښتونه ........................................................ ۳۲
د مالي موسسو او DNFBPs په هکله د حقوقي مبناګانو مقتضیات ........................................................ ۱۱۴
اصطلاحات ........................................................ ۱۱۷
د مخففاتو (لنډیزونو ) جدول ........................................................ ۱۳۰
لومړی ضمیمهٔ: د FATF لارښودونکي اسناد ........................................................ ۱۳۲
دوهمه ضمیمهٔ: د FATF په سپارښتنو کې د وروستیو بدلونونو په باب معلومات ........................................................ ۱۳۴

## د FATF د سپارښتنو فهرست

| شمیره | پخوانۍ شمیره[1] | |
|---|---|---|
| | | الف) د پیسو د تطهیر او د ترهګرۍ د تمویل پر ضد د مبارزې کړنلارې او هماهنګي |
| 1 | – | د خطر ارزونه او د خطر پر مبتني چلند * |
| 2 | R.31 | په ملي کچه همکاري او هماهنګي |
| | | ب) د پیسو تطهیر او مصادره |
| 3 | R.1 & R2 | د پیسو د تطهیر جرم* |
| 4 | R.3 | مصادره او موقتي اقدامات * |
| | | ج) د ترهګر تمویل او د وسلو د خ تمویل |
| 5 | SRII | د ترهګر د تمویل جرم * |
| 6 | SRIII | د ترهګرۍ او د ترهګر د تمویل پر ضد موخه ایز مالي بندیزونه * |
| 7 | | د وسلو د خپرښت پر ضد موخه ایز مالي بندیزونه * |
| 8 | SRVII | غیرانتفاعي مؤسسې * |
| | | د ) وقایوي تدابیر |
| 9 | R.4 | د مالي مؤسسو د محرمیت قوانین |
| | | *د مشتریانو دقیق مراقبت او د سوابقو او اسنادو ساتنه* |
| 10 | R.5 | د مشتریانو دقیق مراقبت * |
| 11 | R.10 | د سوابقو او اسنادو ساتنه |
| | | *د ځانګړو مشتریانو او فعالیتونو په هکله اضافي تدابیر* |
| 12 | R.6 | معروف سیاسي اشخاص * |
| 13 | R.7 | منځګړې بانکداري * |
| 14 | SRVI | د پیسو او ارزښت د انتقال خدمات * |
| 15 | R.8 | نوې تکنولوژۍ |
| 16 | SRVII | الیکترونیک لیږد * |
| | | *اتکا ، کنترول او مالي ډلې* |
| 17 | R.9 | په دریمو(ثالث) اړخونو باندې اتکا* |
| 18 | R.15 & R.22 | کورنۍ کنترول او بهرنۍ ځانګې او نمایندګۍ * |
| 19 | R.21 | د لوړ ګواښ (ریسک ) هیوادونه * |
| | | *د شکمنو مراودااتو ریپوټ ورکول* |
| 20 | R.13 & SRIV | د شکمنو مراوداتو ریپوټ ورکول* |
| 21 | R.14 | افشاګري او محرمیت |
| | | *ټاکل شوي غیرمالي شرکتونه او مسلکونه (DNFBPs)* |

| | | |
|---|---|---|
| 22 | R.12 | DNFBPs: د مشتریانو دقیق مراقبت * |
| 23 | R.16 | DNFBPs: نور اقدامات * |
| | | هـ) شفافیت او د حکمي اشخاصو او ترتیباتو ذینفعانه مالکیت |
| 24 | R.33 | شفافیت او دحکمي اشخاصو ذینفعانه مالکیت * |
| 25 | R.34 | شفافیتاو دحکمي ترتیباتو ذینفعانه مالکیت * |
| | | و) د ذیصلاحو مقاماتو صلاحیتونه او مسئولیتونه او نور موسسهي اقدامات |
| | | *تنظیم او نظارت* |
| 26 | R.23 | د مالي موسسو تنظیم او نظارت * |
| 27 | R.29 | د نظارت کوونکو صلاحیتونه |
| 28 | R.24 | د DNFBPs تنظیم او نظارت |
| | | *کړنې او د قانون تنفیذ* |
| 29 | R.26 | د مالي استخباراتو واحدونه* |
| 30 | R.27 | د قانون د پلي کوونکو او پلټونکو مقاماتو مسئولیتونه* |
| 31 | R.28 | د قانون د پلي کوونکو او پلټونکو مقاماتو صلاحیتونه |
| 32 | SRIX | د نغدو پیسو انتقالوونکي * |
| | | *عمومي مقتضیات* |
| 33 | R.32 | احصائیه |
| 34 | R.25 | لارښوونه او د غبرګون راتولول |
| | | *بندیزونه* |
| 35 | R.17 | بندیزونه |
| | | ز) نړیواله همکاري |
| 36 | R.35 & SRI | بین المللی ابزار (اسباب) |
| 37 | R.36 & SRV | متقابله حقوقي مرسته |
| 38 | R.38 | متقابله حقوقي مرسته: انجماد او مصادره* |
| 39 | R.39 | استرداد |
| 40 | R.40 | د نړیوالې همکارۍ نور ډولونه * |

(۱) د «پخوانۍ شمیرې» کرښه د FATF د ۲۰۰۳ کال اړوندو سپارښتنو ته اشاره کوي.
(*) هغه سپارښتنې چې په دغې نښې سره په ګوته شویدي د تفسیري یادښتونو لرونکې دي چې باید د سپارښتنو په اړه په پام کې ونیول شي.

دا متن د ۲۰۱۲ کال د فبرورۍ د میاشتې په ۱۵ نېټه تصویب شویدی.

# پیلیزه

د مالی اقداماتو کاری ځواک (FATF) یوه مستقله بین الحکومتی اداره ده چی په ۱۹۸۹ کال کی د هغې د غړو هیوادونو د وزیرانو له خوا جوړه شویده. ددې ادارې دنده د معیارونو تدوین او د پیسو د تطهیر، د ترهګرۍ د تمویل ، د وسلودخپرښت د تمویل او د نړیوال مالي سیستم د خوندیتوب د نورو ګواښونو پر ضد د حقوقي،مقرراتي او عملیاتی اقداماتو د اغیزمن تطبیق هڅول دي

ددغې ادارې دنده دلاروچارو طرحه ، هڅونه اوتدوین دي چې دګتورو حقوقي،مقرراتي اوکاري کړو وړو په ترڅ کې د پیسودتطهیر،دترهګرۍ دمالي ملاتړ ، د وسلودخپرښت اونورو اړوندو ګواښونواونړیوال مالي سیستم دخوندیتوب په اړه په ګوته شوې دي. دغه اداره له بیلابیلواړوندو نړیوالواداروسره دنړیوال مالي سیستم دخوندی ساتنې په وړاندې دګواښونودراسپړلوپه موخه په ملي کچه له نړیوال مالي سیستم څخه دناوړې ګټې اخستنې دمخنیوي په ترڅ کې فعالیت کوي.

دFATF سپارښتنویوهراړخیزاو دومداره جوړښت رامنځ ته کړچې هیوادونه بایدهغه دپیسودتطهیر اوترهګرۍ مالی ملاترسره دمبارزې اوهم دډله ایزې وژنې دوسلودخپرښت دمخنیوي په موخه عملي کړي. هیوادونه په خپلوجوړښتونوکې دځانګړو حقوقي، اداري ، کاري اوملي سیستمونولرونکي دي ، له همدې امله هغوي ددې توان نه لري چې دپورته یادو شوو ګواښونو په وړاندې یوشان اوبرابر چلندوکړي. همداده چېFATF یوه کچه (نورم) رامنځته کړه چې هیوادونه باید هغه له خپلوځانګړو شرایطواوحالاتو سره سم عملي کړي . نوموړې سپارښتنې هغه بنسټیزکړه وړه چې هیوادونه یې باید په پام کې ونیسې په لاندې ډول په ګوته کوي:

- د ګواښونو په ګوته کول، د کړنلاروغوره کول او د کورني هماهنګۍ برابرول؛
- د پیسو د تطهیر او د ترهګرۍ د تمویل او د وسلو د خپرښت د تمویل تعقیب؛
- د مالی سکتور او نورو ټاکلو سکتورونو لپاره د وقایوی اقداماتو پلی کول؛
- د ذیصلاحه اداراتو لپاره د واکونو او مسئولیتونو ټاکل (دمثال په توګه، پلټونکې، د قانون پلی کوونکې او ښاروالۍ ادارې) او نور نهادي اقدامات ؛
- د حکمي اشخاصواو ترتیباتتودانتفاعي شتمنۍمعلوماتوته دلاسرسنې او د هغودشفافیت زیاتول؛ او
- د نړیوالې همکارۍ لپاره د آسانتیاوو برابرول.

دFATF څلویښت ګوني لومړنۍ سپارښتنې په ۱۹۹۰ کال کې د مخدراتو څخه د لاسته راغلو پیسو د تطهیرلپاره دمالي سیستمونوڅخه دناوړې ګټې پورته کونې سره د مبارزې لپاره دنوي اوتازه نوښت په توګه تدوین شوې. وروسته په۱۳۹۲ کال کې پرې بیاکتنه وشوه چې په هغه کې دلومړي ځل لپاره دپیسودتطهیر پیاوړې کیدونکې چمونه (تخنیکونه) او تمایلات منعکس شول او لمنه یې وروسته دپیسو دتطهیر او د نشه یی توکوترکچې پراخه شوه. د ۲۰۰۱ کال په اکتوبرکې دکاردځواک ادارې دخپلې حوزې دواک اوصلاحیت چلند ته پراختیاورکړه څکه یې د ترهګر مالي ملاتړ او ترهګرو سازمانو مساله هم په هغې کې ور زیاته کړه ، چې په دې توګه دترهګرو دمالي


© ۲۰۱۳

ملاتړ داتو ځانګړو سپارښتنو ( چې یوه سپارښتنه بله هم پرې ورزیاته شوه ) د رامنځ ته کېدو ګام پورته شو. د دغې اداري پر سپارښتنو باندې دویم ځل په ۲۰۰۳ کال کې بیاکتنه وشوه او د اخل هغه له ځانګړو سپارښتنو سره یو ځای تر ۱۸۰ زیاتو هیوادونه خوا لاسلیک کړه چې اوس په ګرده نړۍ کې دپیسو دتطهیر او ترهګرۍ دتمویل ضد نورمونو په توګه جوړه او منل شوې ده. (AML/CFT).

FATF اداري دخپلوغړو ددوه اړخیزو ارزونو د دریم پړاو دپای په لړکې نوموړې سپارښتنې له ورته سیمه ییزو ادارو ( FSRBs)څاروالو سازمانونو لکه دپیسو دنړیوال وجهی صندوق، نړیوال بانک او ملګرو ملتو سره دنژدې همکارۍ په ترڅ کې ترارزونې او بیا کتنې لاندې ونیوې . دغه بدلونونه دنړیوالومخ په زیاتیدونکو ګواښونو او زیات شمیر شتووجایو اودندو دتشخیص او پیاوړتیاپه ترڅ اوپه سپارښتنو کې دوړاو دقیق ثبات په لامل رامنځ ته شول.

دFATF سپارښتنو ته بیاکتنه شوې ترڅو هغه اړتیاوې چې په اوچتو خطري اوبیړنیو حالاتو کې احساس کیږي په ګوته او هیوادو ته داوخت ورکړشي څو په هغوبرخوکې چې هلته دځرګند خطرشونتیاوې اویادعملي اقداماتو زیاتوالي ته اړتیالري دقیق اودپام وړچلندترسره کړي. هیوادونه بایدپه لومړي ګام کې دپیسودتطهیر اودترهګرۍ خطرونه چې له هغوسره مخامخ دي په نښه اوو څیړي. دخطرپرېنسټ هڅه هیوادونو ته داشونتیا ورپه ګوته کوي چې د FATF دشرایطو په جوړښت کې یولړ انعطاف منونکي کړه وړه تر لاس لاندې ونیول شي څوکولای شي خپلې سرچینې په ګټوره توګه وکاروي اودخپلو هڅودتمرکزپه موخه په ګټوره توګه مخکینې تدابیر یا لارې چارې چې دګواښونوله ماهیت سره جوړښت ولري تر لاس لاندې ونیسي.

دترهګرۍ مالي ملاتړ په وړاندې مبارزه خورا مهم چلنددی. څو ورسره سم په ټولیزه توګه دAML/CFT یوه ګټورسیستم شته والی هم دپاملرنې وړدی.دترهګرۍ دمالي ملاتړپه اړه زیاتره پخواني کړه وړه اوس دادغام شویو سپارښتنوپه برخه کې راځي چې له دې پلوه دځانګړو سپارښتنو دارتیا دبشپړتیا لپاره ونډه کیدای شي.خویولړسپارښتنې بیا یوازې په ترهګریز مالي ملاتړپورې اړوندې دي چې دFATF دسپارښتنو په (ج) برخه کې راځي. په هغوکې ۵ مه سپارښتنه (دترهګریز تمویل ګناهګاریلل ) ۲ مه (دترهګرۍ اوترهګریزتمویل په اړوندموخه ییز مالي بندیزونه) او ۸ مه سپارښتنه (دغیرانتفاعي سازمانونداوړه ګټي اخیستنې دمخنیوي په موخه کړه وړه ). دډله ایزې وژنې دوسلو خپرښت په خپل وار دپاملرنې وړ امنیتی اندیښنه ده، په ۲۰۰۸ کال د FATF دواک ساحې پراختیاومونده اود ډله ایزې وژنې وسلودخپرښت اوتمویل چارې هم په هغې کې ورګدې شوې ، ددغه ګواښ په وړاندې دمبارزې په لامل FATF یوه نوې سپارښتنه ( ۷ مه سپارښتنه) تصویب کړه چې هدف یې دهغومالي بندیزونه بریالی اوګټورتطبیق و ، کوم چې دملګروملتود سازمان دامنیت شوراغوښتنه وه.

دFATF نورمونه دهغوسپارښتنواویاتفسیري یادښتونولرونکي دي چې هغه دهغوله اړوندو تعریفونوسره په لغتنامه کې راغلي دي دFATF اړوندلیکل شوي کړه وړه باید دFATF او FSRBs دټولواړخونوله خواعملي شي.اودتطبیق څرنګوالي یې باید ددوه اړخیزبهیرله لارې وارزول شي څکه چې هغه بیا دپیسودنړیوال وجهی صندوق اونړیوال بانک له لارې دFATFدګډې ارزونې دتګلارې پرېنسټ څیړل کیږي. یوشمیرتفسیري یادښتونه اوپه لغتنامه کې ځای پرځای شوې څرګندونې دهغوبیلګولرونکې دي کومې چې ددغو غوښتنودتطبیق په ډول پورې اړه لري. دغه بیلګې دFATF دنورمونودالزامي ترسره کیدو په مانا نه دي، یوازې دلارښونې په موخه یې په

دغه رساله کې یادونه شوې ده. اوهدف ترې داهم نه دی چې ګواکې داهراړخیزاوبشپړدي ، که څه هم دا ګټورارزښتونه بلل کیږي خو کیدای شي چې له ټولو برخوسره په تړاو کې نه وي.

دFATFاداره همدارنګه لارښونې، په ښوتګلاروپورې اړوندمضمونونه اونورې مشورې خپروې چې له هیوادونوسره دFATF دنورمونو دتطبیق په برخه کې مرسته وکړي. دغه اسناد دنورمونو دارزونې په خاطر اړین اوالزامي نه دي ، کیدای شي دهیوادو لپاره په دې ارزښتناک وي چې دFATFدیادوشویودنورمونودتطبیق په وخت کې هغو ته پاملرنه وکړي. دهغوټولولارښونواوډیروښوتګلارو په اړوندمضمونونه چې دFATF په انترنیتي پانه کې خپاره شوي هغه هم له دغو سپارښتنوسره مل دي.

دFATFاداره ژمنه ده چې له خصوصي سکتور،مدني ټولنې اونورو لیوالواړخونوسره دمهمو شریکانوپه توګه یوجوړونکي اونږدې دیالوګ دمالي سیستم د تطهیر اوخوندیتوب دسمبالتیا په موخه رامنځ ته کړي.څکه چې دپراخومشورو پربنسټ دسپارښتنوبیاکتنه ترسره شوې اودیادو شویومراجعو له تبصرو اونظریاتوڅخه یې ګټه پورته کړې ده. دFATF اداره دراوروسته فعالیتونو دسمبالتیا په موخه کیدای شي له خپل واک سره سم دنویواطلاعاتوپه رڼاکې دنړیوال مالي سیستم په وړاندې نوې راپیداشوي ګواښونه اوستونزې دخپل توان په کچه په نظرکې ونیسي.

دFATF اداره ټولوهیوادو ته بلنه ورکوي چې دخپلوملي سیستمونودتطابق په لامل دFATFد نویوکړوشویوسپارښتنوپه پام کې نیولوسره دپیسودتطهیر ، دترهګرۍ دمالي ملاتړاودهغو دخپریدو پرضدمبارزه عملي کړي.


© ۲۰۱۳

© ۲۰۱۳

# د FATF سپارښتنې

## الف) د پیسو د تطهیر او د ترهګرۍ د تمویل پر ضد د مبارزې (AML/CFT) پالیسۍ او هماهنګي

### 1 د خطر ارزونه او د خطر پر بنسټ د چلند کارول*

هیوادونه باید هغه خطرونه چې د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل له پلوه هغوی ته ورمخه دي په ګوته کړي ، وېې ارزوي او درک کړي ،او ور کړه وړه د یوې ټاکلې ادارې د شته والي او یوه مکانیزم چې د هغه له مخې د خطر ارزونې چلند او سرچینې د خطر د کتور کمښت پر بنسټ وکاروي رامنځ ته کړي د غه ارزونې باید هیوادونه د خطر پر اساس ولاړ چلند (risk-based approach -RBA) وکاروي ، دا له دې امله ، کوم تدابیر چې د پیسو د تطهیر پر لامل او د ترهګریز تمویل د مخنیوي په موخه تر لاس لاندې نیول کیږي باید له پیژندل شویو خطرونو سره انډول ولري د غه چلند او تګلاره باید د پیسو د تطهیر پر لامل او له ترهګریز تمویل (AML/CFT ) سره د مبارزې په ټول رژیم کې د سرچینو د کټورې پیژندنې او د FATF په سپارښتنو کې د په نښه شوي خطر پر بنسټ برابروي. پر هغو سیمو کې چې هیوادونه لړ او کمزوري خطرونه په ګوته کړي ، هغوي کولای شي د FATF د یو شمیر سپارښتنو لپاره تر ټاکلو شرایطو لاندې د ساده او آسانه کړو وړو اجازه ورکړي.

هیوادونه باید له مالي موسسو، شرکتونو او ټاکلو غیرمالي مهارتونو له برخو(DNFBPs)څخه هیله وکړي څو د پیسو د تطهیر پر لامل او ترهګریز تمویل خطرونه په ګوته کړي ، وېې ارزوي او د هغو د کمښت په موخه ګټورې لارې چارې تر لاس لاندې ونیسې.

### 2 همکاري او ملی هماهنګي

هیوادونه باید ملي تګلارې یا پالیسۍ AML/CFT ولري ،داسې چې باید له پیژندل شویو خطرونو سره برابر تیا ولري او په منظمه توګه وارزول شي ، یوه داسې جوړونکې اداره یا د سرته رسولو او سمبالتیا داسې میکانیزم په نښه کړي چې د داسې پالیسیو او تګلارو مسولیت ولري.

هیوادونه باید دا امر سمبال کړي چې یو موټی پالیسي جوړونکي، د مالي استخباراتو واحد ، د قانون پلي کولو مقامات، څارونکي او نور اړوند واکمن مقامونه د پالیسي جوړونې په کچو کې باید د ګټورو میکانیزمونو اجراآت ولري څو هغوی ته د اتوان ورکړي چې په هیواد کې د ننه له یوه او بل سره د پیسو د تطهیر، د ترهګریز تمویل او د ډله ییزې وژنې وسلو ضد مبارزې پر بنسټ د پالیسیو او فعالیتونو په برخه همکاري که یې اړتیاوي په همغږۍ سره سمبال او عملي کړي.

## ب) د پیسو تطهیر او مصادره

### 3 د پیسو د تطهیر جرم*

هیوادونه باید د پیسو د تطهیر اصل د ویانا او پالیرمو د کنوانسیونو پر بنسټ یو جرمي عمل وپیژني.
هیوادونه باید پیسو د تطهیر جرم د لویو او پراخ اړخو اوجدي جرمو نو په ډله کې وشمیري.



© ۲۰۱۳

## 4 مصادره او لنډ مهاله اقدامات*

هیوادونه باید دویانا ، پالیرمو او دترهګرۍ تمویل دکنوانسینو د لارو چاروته ورته تدابیر اولارې چارې دتقنینی کړو وړو په ګډون ترلاس لاندې ونیسی څوخپلو واک لرونکو ادارو ته دالاره چاره برابرکړي څولاندې تکې پرته له دې چې ددریم ګړي وړاو په شرایطو برابر لوري حقونو ته زیان ورسیږي ضبط او قابو کړي: (الف ) پاک شوي توکونه (ب ) دپیسو د تطهیر له درکه ترلاسه شوي ګټه او یاهغه شیان چې په دغه مواد کارول شوي او یاد کارولو لپاره ونده شوي دي (ج) دترهګرۍ دتمویل ، ترهګرو کړو وړو او یاترهګرو سازمانو له خوا ترلاسه شوي شیان چې په دغه موخه کار تری اخیستل شوی او یادغه کارته په پام کې نیول شوي دي (د ) او یاهم په ورته ارزښت شیان او توکي.

دغه کړه وړه باید پرهغو مقاموباندې قابو وي چې: (الف ) ضبط شوي شیان او مالونه باید په ډاګه او وارزول شي. (ب) موقت اقدامات لکه نیول او ضبطول باید ترسره شي څود پیراو پلور او یاددغو شیانو دلیږد مخنیوی وشي. (ج) دهغو کړو وړو پرضد باید عمل و شي چې دهیواد څواکمنی ته دضبط شویو شیانو دبیاراګرزوني او ترلاسه کونې په لامل زیان رسوي. او (د ) باید وړپلټونکې اقدامات ترسره شي.

هیوادونه باید داسې لارې چارې اوتدابیر ترلاس لاندې ونیسې څو ضبط شوی او ترلاسه شوي توکي پرته دحکمې جرم (دمحکمې له حکمه پرته )له عمل کیدو ترسره اویاداسې تدابیرچې ددرغل اومجرم دموادو قانونی ضبط کیدل په ډاګه کړي ، داسې چې دهغوی له کورنیو قوانینو او اصولو سره ورته والی او مطابقت ولري.

## ج) د ترهګرۍ او د وسلو خورولو مالی ملاتړ

## 5 د ترهګرۍ د تمویل جرم*

هیوادونه باید دکنوانسیون پربنسټ ترهګرمالي ملاتړ دیوه ترهګر عمل په توګه وپیژني ، نه یوازې دترهګرو کړو وړو ملاتړ بلکې دترهګرو سازمانو او څانګرو ترهګرو په وړاندې له یوه اویا زیاتو کړنو سره په تړاو کې د دوی جرمي عمل ددوی په نه شتون کې جرم وبولي.هیوادونه باید داومني چې داډول جرمونه باید دپیسو ترتطهیر دمخه جرمونو په ډله کې وشمیرې

## 6 د ترهګرۍ او د ترهګرۍ پر مالی ملاتړ باندې بندیزونه*

هیوادونه باید دموخه پیزو بندیزونورژیمونه یاتګلارې دملګرو ملتودامنیت شورا دپریکړه لیک پربنسټ دترهګرۍ اوترهګرملاتړ دټکونې اومخنیوي په لامل دود اوعام کړي. دغه پریکړه لیکونه له هیوادونوڅخه غوښتنه کوي چې دیوه کس اویا یوه ارګان (۱) پانګې او نورې شتمنی چې دملګرو ملتو دامنیت شوراله خوا دملګرو ملتودمنشور داووم فصل اود ۱۲۶۷ پریکړه لیک اونورو پریکړه لیکونو له مخې په نښه شوې وې کیدای شي دشورا په واک کې ولري او یا (۲ )دیوه هیوادله خوا د ۲۰۰۱ کال د ۱۳۷۳ شمیرې پریکړه لیک پربنسټ په ډاګه شي له ځنډه پرته کنګل اوداپه ګوته کړي چې هرډول پانګه او شتمنې په مستقیم او غیرمستقیم ډول دهغو ي په ګټه دهغوي په واک کې نه ورکول کیږي

7 د وسلو خپرېدو اړوند موخه ایز بندیزونه*

هیوادونه باید موخه ییز مالي بندیزونه د ملګرو ملتو د امنیت شورا د پریکړه لیک پربنسټ د ډله ییزې وژنې وسلې د خپرېښت مخنیوی او ځپلو دو دعام کړي. دغه پریکړه لیکونه له هیوادونو څخه غوښتنه کوي چې دیوه کس او یا یوه ارګان پانګې او نورې شتمنۍ چې د ملګرو ملتو د امنیت شورا له خوا د ملګرو ملتو د منشور د اووم فصل له مخې په نښه شوې وې کیدای شي د شورا په واک کې ولري او یا له ځنډه پرته کنګل او دا په ګوته کړي چې هرډول پانګه او شتمنې په مستقیم او غیر مستقیم ډول د هغوی په ګټه د هغوی په واک کې نه ورکول کیږي.

8 ناګټندوی سازمانونه*

هیوادونه باید د خپلو قوانینو او مقرراتو بشپړتیا له هغو ارګانو سره په اړیکو کې چې کیدای شي له هغو څخه د ترهګرۍ د تمویل په موخه ناوړه ګټه واخیستل شي د ارزونې تګلاره خپله کړي. غیرګټندوی سازمانه ترهرڅه د مخه د زیانمن کیدو تر اغیزلاندې راځي ځکه نو هیوادونه باید دا په پام کې ونیسي چې هغه باید د لاندې ټکو په پام کې نیولو سره په ناوړه توګه ونه کارول شي:

(الف ) د قانوني ارګانو په توګه د ترهګرو سازمانونو په ګوته کول.

(ب ) له قانوني ارګانو څخه د ترهګرو بهیرونو د تمویل او د شتمنیو د کنګل له کړو وړو څخه د تیښتې په موخه ناوړه ګټه اخیستنه.

(ج ) د ترهګرو سازمانو د موخو په لاملترروا موخو وړ په هغه خوا د پانګو پټول او یا شکمن کول

## د ) مخکې نیول شوی اقدامات

9 د مالي ځانګو د خوندیتوب (محرمیت) قوانین

هیوادونه باید دا په پام کې ونیسي چې د خوندیتوب قوانین باید د FATF د سپارښتنو د تطبیق خنډ نه شي.

د مشتریانو د قیقه څارنه (CDD) او د سوابقو ساتنه

10 د مشتریانو دقیقه څارنه(CDD ) *

هیوادونه باید مالي موسسې د ګونګو او مستعارو او یا جعلي حسابونو څخه لرې وساتي. له مالي موسسو څخه باید غوښتنه وشي چې په لاندې حالاتو کې د(CDD ) مشتریانو د څارنې لپاره لارې چارې په نښه کړې شي.

(i) د سوداګریزو اړیکو د برانستلو پر مهال

(ii) دنامنظموبانکي راکړو ورکړو پرمهال: (الف ) له ټاکلي کچې لوړې (۱۵۰۰۰ دالر/یورو ) او یا (ب) الکترونیکي راکړې ورکړې چې د ۱۲ سپارښتنې په تفسیري یادښتونو کې راغلي دي.

(iii) دپیسودتطهیر اویادترهګرو دتمویل دشک په ترخ کې او یا

(iv) په هغه حالت کې چې مالي څانګې دشخص دهویت په اړه دمعلوماتو ترلاسه کولو په حال کې له شک سره مخامخ کیږي.

دغه اصل چې مالي موسسې دې د خپلو (CDD) مشتریانو کلکه څارنه وکړي باید په قانون کې ولیکل شي. هرهیواد کولای شي له نوموړو تدابیرو سره اړوند ټاکلې دندې یاد قانون اویاهم داجرایوي لارو له پلوه په ډاګه او وټاکي. دغه لارې چارې دالاندې دي:

(أ ) داسنادو، معتبرې اوخپلواکې سرچینې دمعلوماتوپربنسټ چې دمشتري بشپړهویت په ډاګه کړي.

(ب) دګټیالي خاوند دهویت معلومولو اودهغه په ډاګه کولولپاره دمعقولواقداماتو ترسره کول، داسې چې مالي څانګه په دې قانع شي چې ګټیالی خاوند څوک دی. دیوشمیراشخاصو اوحکمي سازمانوپه دایره کې بایدداخبره په پام کې وي چې دمالي شتمنۍ اودمشتري کنترولي څانګړنوپه باره کې معلومات ول.

(ت) داړوندوسوداګریزواړیکو دموخو، هدفونواوداړتیاپه ترخ کې دمعلوماتو ترلاسه کولو دتګلارو په اړه پوهیدنګ اوخبرتیا.

(ث) دسوداګریزو اړیکو اوراکړو ورکړو دباریکیو پرله پسې اودقیقه څارنه ، هغه هم په دې لامل چې راکړې ورکړې دچلند په بهیرکې دي، په دغه حال کې باید پیرودونکی (مشتري )د مالي بنسټ دپیژندنې ، سوداګریزاړیکو، دهغوی دخطرونو اوداړتیا په ترخ کې دپانګونې دسرچینواندول په پام کې وساتي. له مالي څانګوڅخه باید غوښتنه وشي څوپورتنې یادې شوې تګلارې ګردې په کارواچاوي اودغه لارې چارې باید دتفسیري یادښتونو ددغې او دلومړۍ شمیرې سپارښتنې دخطرپربنسټ وټاکي.

له مالي موسسو څخه باید غوښتنه وشي څودمشتري اوګټیالي خاوند هویت باید دتجاري اړیکو دپیل اویاغیرمنظمو مشتریانو لپاره دبانکي راکړو ورکړو په بهیرکې په ډاګه کړي. هیوادونه کولای شي چې مالي موسسو ته اجازه ورکړي څو له سوداګریزواړیکو وروسته، په هغه حال کې چې دپیسودپاکوالی اوترهګریز تمویل په هراړخیزه توګه کنټرول شوی وي اوهم دعادي سوداګریزو چارو پرمختګ له ګډوډۍ سره مخامخ نه شي بشپړکړي.

کله چې یوه مالي موسسه ونه شي کولای چې د (ا ) او (ب ) پاراګرافونو له غوښتنو سره سم چلندوکړي ( په داسې حال کې چې دخطرپربنسټ دکړنو کچه دبدلون په حال کې ده ) ، باید بانکي حساب پرانه

نیزې ، باندنې سوداګریزاړیکې پیل نه کړي،نه دې راکړه ورکړه وکړي، باندنې سوداګریزاړیکې باید پای ته ورسوي او دپیرودنکي (مشتري ) په اړه باید دراکړې ورکړې دیوه شکمن رپوټ په فکرکې شي.

دغه غوښتنې باید دټولو نویو مشتریانو (مشتریانو ) په اړه ترلاس لاندې ونیول شي. که څه هم مالي موسسې باید دغه سپارښتنې دشتو مشتریانو په اړه دخطردمادیت په لامل وي او په مناسبووختو کې خپله دقیقه پاملرنه دڅارنې په اړه له یاده ونه باسي.

## 11 د سوابقو ساتنه

له مالي موسسو باید غوښتنه وشي چې لږ ترلږه دپنځوکالولپاره ټول سوابق او معاملې څه کورني وي اوڅه باندني. له ځان سره وساتي څوهغوی ته داتوان ورکړي چې داطلاعاتو په اړه غوښتنوته دواکمنو مقاماتو له خوابیړني ځواب ورکړشي. داسې سوابق باید په بشپړه توګه په لاس کې وي څودځانګړو راکړو ورکړودبیاجوړونې ( داسعارو دکچې په ګډون که چیرې وي ) لپاره دا آسانتیا په پام کې ونیسي چې دارتیا په وخت کې دجرمي عمل دعدلي څارنې لپاره لارې چارې اوآسانتیاوې برابرې کړي

له مالي موسسو څخه باید داغوښتنه وشي چې ټول هغه اسناد چې د(CDD)مشتریانو د دقیقې څارنې په ترڅ کې ترلاسه شوي (دبیلګې په توګه درسمي اسنادو کاپی. لکه پاسپورت، پیژندپاڼه، دموټرچلولو جواز اونور) دحساب دوسیې ،سوداګریزلیکونه دهغو دپایلو دتحلیل او ارزونې په ګډون ( دمثال په توګه دزیاتو پیسو دسابقې اوپیچلو بانکي لیکونو په باره کې څیړنې ) لږ ترلږه دپنځوکالو لپاره له هغه وروسته چې خبره دغیرمنظموبانکي اړیکو دلیکونو په لیږد رالیږد پای ته هم ورسیږي باید وساتل شي.

له مالي موسسو باید له قانون سره سم غوښتنه وشي چې ترلاسه شوې بانکي او اطلاعاتي لیکونه اوخبرتیاوې چې په(CDD )مشتریانو پورې اړوندوي وساتل شي.

د(CDD )مشتریانو دڅارنې خبرتیاوې اوسوابق باید دواکمنو کورنیومقاماتو په واک کې ددوی له واک سره سم ورکړل شي.

## دځانګړو مشتریانو او فعالینو لپاره زیات اقدامات

## 12 نوموتی سیاسی اشخاص*

له مالي ادارو څخه باید غوښتنه وشي چې دنوموتو خارجي سیاسي اشخاصو (PEP)په اړه دمشتري اویاګټیالي په توګه دڅارنې پر لاروچارو اوتدبیرونو برسیره دعادي مشتري په توګه دڅارنې دقیق اصول چې:

(أ) دخطر دمدیریت دورسیستمونولرونکي وي ترڅوداپه ثبته کړي چې مشتری یا ګټیالي خاوند یونوموتی سیاسي شخص دی اوکه نه ،

(ب) دداسې سوداګریزو اړیکودپیل (اویاداوسنیو مشتریانو لپاره ددغه اړیکو دوام )لپاره باید دمدیریت دلوړمقام منظوري ترلاسه شي.


© ۲۰۱۳

(ت) باید د پانګو او زیرمو د سرچینو د تثبیت لپاره ورا و معقول کړه وړه ترسره شي. او

(ث) سوداګریزا ړیکې باید ترجدي او دوامداري څارنې لاندې ونیول شي.

له مالي موسسو څخه باید غوښتنه وشي چې معقولي لارې چارې ترلاس لاندې ونیسي څو داورته څرګنده شي چې آیا یو مشتري اویاهم ګټیالي خاوند یو نوموتی کورنی څوک دی چې پخوا اویا اوس هم په یوه نړیوال سازمان کې مهم مقام لري. د سوداګریزو اړیکو د لوړخطر په ترڅ کې باید دداسې اشخاصو په اړه له مالي ځانګو څخه غوښتنه وشي چې په (ب) او(ث) پاراګرافونو کې راغلې یادونې او اقدامات ترلاس لاندې ونیسي . د نوموتو سیاسي اشخاصو په ټولو ډولونو اودکورنیو پرغړو اویا ورنږدې اشخاصو باندې هم باید اړوندې غوښتنې تطبیق شي.

## 13 منځلارې بانکداري*

له مالي ځانګو څخه باید غوښتنه وشي چې ترپولو هاخوا بانکداری، اونورو ورته معاملو په اړه دمشتري دڅارنې پرتدبیرونو برسیره دغه ټکي هم په پام کې ونیسي :

(أ) عامله اداره باید په دغه اړه بشپړاطلاعات راټول کړي څو ددغې ادارې پرماهیت باندې په هراړخیزه توګه رڼاواچوي .اوهم باید دعمومي اطلاعاتو پربنسټ دادارې دنظارت کیفیت په نښه اوپه ګوته کړي چې آیادا اداره دقانوني تحقیق او د پیسو دتطهیر دمقرراتو اویا دترهګرو دمالي ملاتړپرضد دکړو وړو سابقه لري اوکه نه ؛

(ب) دعاملې ادارې کنترولي وسیلې AML/CFT باید وارزوي ؛

(ت) د واسطو اړیکو ترپیلیدو دمخه باید دمدیریت دلوړمقام منظوري ترلاسه کړي؛

(ث) دهرادارې مسوولیتونه باید په څرګنده توګه ورمعلوم وي . او

(ج) د حسابونو له لارې راکړې ورکړې "payable-through accounts" په برخه کې باید خپل قناعت ترلاسه کړي چې عامل بانک دمشتري ددقیقې څارنې کړه وړه دهغو مشتریانو په اړه چې د واسطې بانک حسابونو ته نیغ لاسرسی لري دقیق کړه وړه ترسره کړي دي اویاداچې کولای شي دغوښتنې په ترڅ کې اړوند معلومات د واسط بانک لپاره هم برابرکړي.

مالي ځانګې باید له منځنۍ یا مجازي(shell banks) بانکدارۍ سره داړیکو له پیل اویادوام سره خدای پامانی اوانکاروکړي . له مالي موسسو باید پوښتنه وشي څو په دې ځان ډاډه کړي چې عاملې ادارې دخپلو حسابونو دګټې اخیستنې په ترڅ کې مجازي بانکونو ته اجازه نه ورکوي.

## 14 د پیسو یا ارزښتونو د لیږد خدمتونه*

هیوادونه باید ددغه امر دسمبالتیا په لامل ور تدبیرونه او لارې چارې ترلاس لاندې ونیسي څو طبیعي اوحکمي کسان چې دپیسو یا ارزښت دلیږد خدمتونو(MVTS) د ورانډې کولو اجازه لري ، راجسترشوي اویا دڅارنې دهغو لارو چارو چې په سپارښتنو کې لیکل شوي وي وپیژني.هیوادونه باید دهغوحکمي او طبیعي اشخاصو پرضد چې اجازه نه لري ، راجسترشوي نه وي څو دغه برخه کې یادشوي خدمتونه ترسره کوي جدي او مناسب بندیزونه وټاکي.

کوم طبیعي یا حکمي شوک چې د استازي په توګه کارکوي هغه هم باید له یوې واکمنې اداري څخه اجازه لیک ولري او په هغه اداره کې باید راجسترشوی وي ،هغه اداره چې نوموړي خدمتونه وراندې کوي باید دخپلو برحالو استازو یو لست ولري چې دهیوادو دواک لرونکو مقاماتو لپاره چیرې یې چې استازي خدمت کوي دلاسرسي وروي . هیوادونه باید ددغه امر دتامین په موخه کوم شوک چې دنوموړو خدمتونو لپاره له استازو څخه کاراخلي، باید هغوی په خپلو AML/CFT برنامو کې داخل اوددغو برنامه دمراعات کولو په برخه کې د ترڅارنې لاندې ونیول شي.

## 15 نوې ټکنولوژۍ

هیوادونه او مالي موسسې باید دپیسو دتطهیر او دترهګرۍ دتمویل خطرونه چې کیدای شي (الف ) دنویو محصولاتو دایجاد اودتجارت دنویو لارو چارو دلیږد دنویو میکانیزمونو لرونکي وي اویا (ب ) دتولید په حال کې دنوې تکنالوژۍ چې کیدای شي دنویو او پخوانیو تولیداتو لپاره په پام کې ونیول شي هم باید ارزیابی اوهم باید وپیژندل شي. دمالي موسسو په برخه کې دخطرونو داسې ارزونه باید دنوې تکنالوژۍ په واسطه دنویو محصولاتو ترکارولو دمخه دتولید په ترڅ کې دکارلپاره غوره کړه شي. هغوی باید دمدیریت اوددغو خطرونو کمښت هم ترلاس لاندې ونیسي.

## 16 الکترونیکي لیږد *

هیوادونه باید دا دود عام کړي چې مالي موسسې باید دالکترونیکي لیږد اودهغو داړوندو پیغامو په اړه وړ اودقیق معلومات داستوونکې مرجع څخه دلیږدونکې هغې ته په خپله تګلاره کې داخل کړي څکه چې دغه معلومات له خپل پیغام سره یو ځای د لیږد په پړاوونو کې باقي پاتې کیږي.
هیوادونه باید دا امر په عامه توګه په پام کې ونیسي چې مالي ځانګې باید برښنایي لیږدونه دهغو اشخاصو د کشف په لامل چې داستوونکي اواخیستونکي لوري په اړه معلومات نه لري هم دڅارنې کارترلاس لاندې ونیسي او وړ چلندونه په دغه اړه عملي کړي.
هیوادونه باید داهم دود کړي چې د الکترونیکي لیږد په بهیر کې مالي ځانګې اوبنسټونه له ګنګلي چلند څخه کاراخلي اوباید دراکړو ورکړو ترسره کول له ځانګړو اشخاصو اوټاکلیوادارو سره دملګرو ملتو دامنیت شورا دپریکړه لیکونو لکه د ۱۹۹۹ کال (۱۲۶۷) پریکړه لیک اونوراو همدارنګه د (۲۰۰۱) کال ۱۳۷۳ پریکړه لیک چې دترهګرۍ دخپلو اوترهګریز تمویل په لامل دي بند او منع کړي.

# تکیه اوباور، کنترول اومالي ډلې

## 17 پر دریم لوري تکیه اوباور *

هیوادونه کولای شي مالي ځانګو ته اجازه ورکړي څو په دریم ګړي باوري اود ډاډ وړ لوري تکیه اوباور وکړي اود (الف ) او(ب) اړوند برخې چې په CDD تدبیرونو او لارو چارو پورې اړه لري او په لسمه سپارښتنه کې درج دي سرته ورسوي اوهم کیدای شي په دغه اړه ټاکلي کسب اوکار دهغو معیارونو په شرط چې لاندې یې یادونه کیږي معرفي کړي. هرکله چې داسې تکیې اوباوري سرچینې ته اجازه ورکول کیږي ، CDDد لارو چارو ټول مسوولیت بیا پر هغه مالي بنسټ چې په ډاډ وړ دریم لوري پورې اړه لري ورلویږي.


© ۲۰۱۳

پورتني یادشوي معیارونه په لاندې ډول سره دي:

(أ) کوم مالي موسسې چې په دریم لوري باندې ډډه لګوي ، باید له څنډه پرته ورمعلومات د (الف )-(ت) برخو اړوند CDD تدبیرونه چې په لسمه سپارښتنه کې راغلي وي ترلاسه کړي.

(ب) مالي موسسې باید بشپړمعلومات دخپل ځان دقناعت په خاطر ترلاسه کړي ، دمعلوماتو کاپي، اونوراړوند اسناد له سي ډي ډي غوښتنو سره سم له دریم لوري څخه دغوښتنې په حال کې ترلاسه کولای شي.

(ت) مالي موسسې باید ځان په دې قانع کړي چې دریم لوری د (۱۰)او (۱۱) مې سپارښتنو پراساس د سي ډي ډي له غوښتنو ، مقرراتو او اصولو سره سم د سوابقو ساتلو کارد مقرراتو او غوښتنو په پام کې نیولو سره تراجراآتو لاندې نیسي.

(ث) کله چې دیوه په شرایطو برابردریم لوري دموقعیت په اړه په یوه هیواد کې پریکړه اوتصمیم نیول کیږي ، هیوادونه باید هغومعلوماتو ته چې دهیواد په کچه دخطر په اړه وي پاملرنه وکړي.

هرکله چې یوه مالي ځانګه په دریم لوري چې په هغې مالي ډلې پورې اړوندوي تکیه کوي: (۱) باید دغه دسي ډي ډي پراصلونو برابره ډله ، ټول سوابق د ۱۰ ، ۱۱، او۱۲ سپارښتنواودپیسودتطهیر پرلامل له تګلارې د۱۸ سپارښتنې پرینسټ کاراخلي او : (۲) کله چې دسي ډي ډي دغوښتنواوسوابقو اود AML/CFT دتګلاروااوبرنامو ګټورتطبیق دیوه واکمن مقام له خوا دڅارنې دډلې په کچه ترسره کوي. اړوندمقامات کولای شي داپه پام کې ونیسي ، کوم کړه وړه چې مالي موسسې یې د (ب) او(ت) فقروپراساس دخپلې ډلې په تګلاره کې عملي کوي ، کولای شي پرهغو باندې له (ث) فقرې سره سمه پریکړه هغه مهال چې په هیواد کې دلوړخطر پرمهال دAML/CFTs ډلې دپالیسیوکچه په پوره توګه راتیټه شوې وي وکړي ، چې دغه بیا دتکیه کولو اوډاډ په برخه کې اړین مخکیني شرط نه ګڼل کیږي.

## 18 کورنۍ، خارنې ، بهرنۍ دفترونه او نمایندګۍ*

له مالي ادارو څخه باید غوښتنه وشي چې دپیسودتطهیرپرلامل اوترورستي تمویل پرضد تګلارې اوبرنامې راپیل اوترلاس لاندې ونیسي. له مالي ډلو څخه باید غوښتنه وشي چې دپیسودتطهیر او ترهګرۍ ضد اقدامات، په ډله کې دننه دپالیسیواوداطلاعاتودشریکولو په ګډون د AML/CFT دموخولپاره په سراسري توګه په عمل کې پلې کړي.

له مالي موسسو باید غوښتنه وشي څوداعامه کړي چې دفترونه او خارجي نمایندګۍ دAML/CFTs اقدامات اوتګلارې دهیواد له شرایطواو دFATF له سپارښتنوسره سم د مالي ډلې له خوا دپیسو دتطهیر اوترهګریزتمویل په وړاندې کاروي.

## 19 لوړخطرلرونکي هیوادونه*

له مالي بنسټونوباید وغوښتل شي څود سي ډي ډي نوي اقدامات له طبیعي اوحکمي اشخاصو اومالي موسسو سره دخپلو سوداګریزو راکړو ورکړوپه ترڅ کې ، هغه چې FATF یې هم اړین بولي پرمخ بوځي. دسي ډي ډي دغه جدي کړه وړه باید ګټوراوله خطرونو سره په اندول کې وي.

هیوادونه باید دا توان ولري ، هغه کړه وړه چې په FATF کې یې غوښتنه شوې عملي کړي. هیوادونه باید په دې هم برلاسي وي څو دغه کړه وړه پرته له دې چې یوازې د سپارښتنو غوښتنې وې سرته ورسوي. دادول دوه اړخیز کړه وړه باید ګټور او له خطرونو سره په اندول کې وي.

## دشکمنو راکړو ورکړو راپور

## 20 دشکمنو راکړه ورکړو راپور*

کله چې یو مالي بنسټ شک کوي او یا دشک په اړه پوره لاملونه ولري چې ګواکي دنظرور وجه یو جرمي عمل دي او یا پر ترهګر تمویل پورې اړه لري ، باید په قانون کې داوړاندوینه شوې وي چې دخپل داسې یوه شکمن اړخ په اړه باید زر تر زره استخباراتي مالي واحد (FIU) ته خبرور کړي.

## 21 برالاکول او خوندیتوب (محرمیت)

مالي موسسې، دهغو ریسان، کارکونکي او مامورین باید:

(أ) ) دقانون له خوا باید د جزایي یا مدني تاوان دمعلوماتو دبرالاکولو په اړه چې په قرارداد یا تقنیني احکامو او مقرراتو یا اداري لحاظ تسجیل شوې وي ملاتړشي، هغه هم له دې امله چې که چیرې هغوی خپل شک په ربښتیاینې او ایمانداری سره دمالي استخباراتو واحد ته که څه هم هغوی دنظرور جرمي عمل په جزیاتو په دقیقه توګه پوه نه شي چې آیا په ربښتیاهم غیرقانوني عمل ترسره شوي یا نه ، ووایي

(ب) د قانون پر اساس دبرالا کولو ("tipping-off„) ددغه امر مخنیوی باید وکړي چې کله دیوې شکمني راکړې ورکړې(STR)په اړه خبرتیا او اړوند اطلاعات په په مالي استخباراتي څانګه کې دثبت په حال کې دي.

## مشخص شوي غیرمالي شرکتونه او حرفې (DNFBPs)

## 22 (DNFBPs) : دمشتریانو دقیقه څارنه *

د سي ډي ډي شرطونه او ساتل شوي سوابق چې د ۱۰، ۱۱،۱۲،۱۵او۱۷ شمیرو په سپارښتو کې خوندي شوي په لاندې حالاتو کې دمشخص شوو غیرمالي شرکتونو او حرفو (DNFBPs) په اړه دسرته رسیدو وړدي:

(أ) کازینوګانې – کله چې مشتري (مشتریان ) په داسې مالي راکړو ورکړو کې ښکیل کیږي چې کچه یې مساوي او یا له ټاکلې حده لوړه وي.

(ب) دغیرمنقولو شتمنیو دشرکتونو استازي ـ کله چې هغوی دخپلو مشتریانو په پیر او پلورکې څانونه ورګډوي.

(ت) دقیمتي ډبرو او فلزاتو معامله کونکي او دلالان ـ کله چې هغوی دخپلو مشتریانو په یوه نقدي راکړه ورکړه کې ور داخلیږي چې کچه یې مساوي او یا له ټاکلې اندازې لوړه وي.

(ث) حقوقي وکیلان، دارلوکالې، او نور حقوقي خپلواک کسبګر او حقوقي حسابګر ـ کله چې هغوی دخپلو موکلانو لپاره په لاندې فعالیتونو کې راکړې ورکړې برابروي او یا یې ترسره کوي:


© ۲۰۱۳

- دغیرمنقولو شتمنیو پیر او پلور ،
- دموکل دشتمنیو ، پیسو او امانتونو اداره ،
- دبانکي حسابو ، سپماګانو ،او امانتونو اداره،
- دشرکتونو دفعالیتونو اومدیریت اوبرخې اخیستنې سازمان ورکونه ،
- دحقوقي تنظیمونو ، اشخاصو اوخارجي شرکتونو د پیراوپلور سازمان ورکونه اوبرخه اخیستنه.

(ج) دشرکتې یااعتباري خدمتونو سمبالونکي ـ هغوی دخپلومشتریانولپاره په لاندې برخوکې خدمتونه ترسره کوي:

- دحکمي اشخاصو دتشکیل داستازي په توګه عمل کول.
- دیوه شرکت دمشر یا منشي په توګه (یا په دغه نامه دیوه بل شخص ګمارل )چې دمشارکت دشریک اوله ورته دریځه دحکمي اشخاصو په شان عمل وکړي.
- دیوې راجستر شوې اداري دجوړښت لپاره شرایط،دیوه تجارتي ادرس اواستوګنځي، دشرکت لپاره دیوه مراسلاتي ادرس ، له یوه حکمي شخص اویا تنظیم سره دمشارکت لپاره لاره چاره برابرول.
- دیوې اعتباري مرجع (یا په دغه شان دکوم بل چانومول )په توګه دیوباور په لامل بیړنی عمل کول،اویاهم دیوه بل حکمي تنظیم لپاره دورته دندې په ډاګه کول
- دیوه نومول شوي (یاپه دغه ډول دکوم بل چا نومول )په توګه چې دبل شخص لپاره د سهم لرونکې په توګه عمل کوي.

## 23 DNFBPs: او نور اقدامات *

دټولو مشخصو غیرمالي شرکتونواوحرفوپه اړه د ۱۸ او۲۱ سپارښتنو درج شوی شرطونه اوغوښتنې دلاندې ځانګړنو دلرلو په ترڅ کې دسرته رسیدو وړدي:

(أ) له ټولو حقوقي وکیلانو ، دارلوکالو ، اونوروخپلواکو حقوقی حرفه یانواومحاسبانو څخه باید غوښتنه وشي چې دشکمنوراکړو ورکړو په اړه باید ریپورټ ورکړي ، په تیره بیا چې کله هغوی دموکل اویادهغه په استازیتوب د یوې مالي راکړې ورکړې په داسې فعالیتوکې لکه چې د ۲۲مې سپارښتنې په (ث) فقره کې راغلې برخه اخلي . هیوادونه په پیاوړې توګه هڅول کیږي خودراپور ور کونې غوښتنه دنوروپاتې حرفه یې کړنو د څارنو په ګډون بهیرته پراختیاورکړي.

(ب) دقیمتي ډبرو اوفلزاتو له معامله کوونکوڅخه باید هیله وشي چې دشکمنومعاملوپه اړه راپور ورکړي،په تیره هغه مهال چې هغوی دیوه مشتري په یوه داسې نقدي معامله کې راښکیل کیږي چې کچه یې مساوي اویاله ټاکلې اندازې لوړه وي.


© ۲۰۱۳

(ت) داعتباري یاشرکتي خدمتونو له برابرونکو څخه باید غوښتنه وشي چې دشکمنو معاملو په اړه راپور ورکړي ، په تیره چې کله هغوي دیوموکل اویادهغه په استازیتوب په یوه مالي معامله کې د ۲۲ مې سپارښتنې د (ج ) له فقرې سره سم تړاو کې رانښکیل کیږي.

## هـ) د حکمي تنظیمونو او اشخاصو د ګټندویو شتمنیو روڼوالی

### 24 د حکمي اشخاصو د ګټندویو شتمنیو روڼوالی *

هیوادونه باید دهغوحکمي اشخاصودناوړې ګټې اخیستنې دمخنیوي لپاره وړ تدبیرونه اولازې چارې چې دپیسودتطهیر اوترهګرتمویل ضد برخه کې کارول کیږي ترلاس لاندې ونیسي. هیوادونه بایدداډلند دود کړي چې دګټندویوشتمنیو اوحکمي اشخاصو دڅارنې په اړه دقیق ، بشپړ اوپروخت معلومات چې واکمن مقامات هم وکولای شي هغوته په خپل وار لاسرسي ولري ترلاسه کړي.په تیره بیا هغه هیوادونه چې په هغوکې حکمي کسان وي اوکولای شي دخپلې برخې اوبرخمن توب په اړه شاهدی برابرې کړای شي، اویا هغه هیوادونه چې نومولیو برخه لرونکواویا برخه لرونکو ریسانو ته اجازه ورکوي چې باید ددغه کارلپاره ګټورې لارې چارې ترلاس لاندې ونیسي داسې چې له هغوی څخه دپیسو دتطهیر اوترهګر تمویل په برخه کې ناوړه ګټه وانه خیستل شي.هیوادونه باید په دغه برخه داسې تدبیرونه ترلاس لاندې ونیسي چې دګټیالۍ شتمنۍ دکنترول په اړه معلومات دمالي موسسواو مشخصو غیر مالي شرکتونو او حرفوله لارې راټول اود ۱۰ او۲۲ سپارښتنوله شرطونوسره سم عمل وکړي.

### 25 دحکمي تنظیمونوګټندویې شتمنۍ اوروڼوالي *

هیوادونه باید له حکمي تنظیمونو څخه دپیسودتطهیر اوترهګرۍ دتمویل دمخنیوي پرلارو چارو باندې فکر وکړي، په تیره بیاباید هغه وکړي چې دچتکو اعتبارونو په اړه بشپړ، دقیق اوپروخت معلومات دځایی اداري په ګډون ، داعتباري اواخیستونکي اداري په اړه چې د واکمنومقاماتو لاس رسي هم ورته وي ولري. هیوادونه باید په دغه اړه هغه اقدامات په پام کې ونیسي چې ګټندویې شتمنۍ اودمعلوماتوکنترول ته دمشخصوغیرمالي شرکتونواوحرفولاسرسی. برابر شي اود ۱۰ او۲۲ سپارښتنو دغوښتنو مطابق پرې وشي.

## و) د واکمنو مقاماتو واکونه، مسئولیتونه او نور بنسټیز اقدامات

### تنظیم او څارنه

### 26 د مالي موسسو تنظیم او څارنه *

هیوادونه باید ډاډ ترلاسه کړي چې مالي ارگانونه د بشپړې څارنې او مقرراتو تابع دي او د FATF سپارښتنې په ګټوره توګه تطبیقوي. مالي څارونکي یا واکمن مقاماتو باید ورقانوني تدبیرونه ترلاس لاندې ونیسي څو جرم کونکي اویا یې شریکان ځانونه په یوه مالي ارگان کې، د خاوند کیدو او د پاملرنې ورګټوله درلودلو څخه برخمن نه کړي. همداسې هیوادونه باید د مجازي بانکونو ایجاد او فعالیت ته اجازه ورنه کړي.

په هغو هیوادو کې چې د Core Principles) اساسي اصولو تابع دي، هلته مقرراتي او څارنیز تدبیرونه چې د احتیاطي هدفونو لپاره کارول کیږي او په عین حال د پیسو د تطهیر او ترهګر تمویل سره هم اړیکي لري باید له AML/CFT هدفونو سره یوځول وکارول شي. په عین حال کې دغه امر باید د AML/CFT هدفونو د برابرې څارنې لپاره هم د کارولو وړ وي.

بیلابیل مالي ارګانوا وبنسټونه بایداجازلیک ولري ،راجستراودبشپړو مقررات لرونکی وي. د پیسو د تطهیر او ترهګر ملاتړ د خطر د لوړوالي له امله هم باید دAML/CFTs د هدفو پر اساس په دغه برخه کې د نظارت او تفتیش تابع وي. لږ ترلږه په هغو ځایونو کې چې مالي موسسې د پیسو د لیږد او را کړې ورکړې د اسعارو خدمتونه برابروي ،هغوی باید قانوني اجازه لیک ولري ،راجسترشوی وي، د نظارت د سمبالیتا د نظام تابع واوسي او دAML/CFTs ملي تګلارې او شرطونه هم په پام کې ونیسي.

### 27 د څارونکو واکونه

نظارت کوونکي بایدپه بشپړه توګه د مالي ارګانو د څار واک ، د ترهګرۍ د تمویل او د پیسو د تطهیر پرضد د مبارزې پرمخ بیول په خپله اولکه کې ولري. هغوی باید دا واک ولري څو مالي موسسې نا چارکړي چې هغه معلومات چې په پورتنې څارنه پورې اړوندوي رامنځ ته کړي او د ۳۵ شمیرې سپارښتنې له حکمونو سره سم باید د پورتنیو غوښتنو په پام کې نه نیولو سره بندیزونه هم ورسره مله وي. څارونکی باید واک ولري څویولړ غندني یا مالي بندیزونه لکه تحریم لګول ،د مالي ارګانو د اجازه لیکونو ځنډول په هغو ځایو کې چې د اجرا وړ وي هم ترلاس لاندي ولري.

### 28 د DNFBPs تنظیم او څارنه

مشخص غیرمالي شرکتونه او حرفې باید دلاندې څارنیزو مقرراتو تابع وي:

(أ) کازینوګانې باید دیوه بشپړ څارنیز او مقرراتی نظم تابع واوسي څو په ډاګه کړي چې هغوی د AML/CFT اقدامات په ګټوره توګه تطبیق کړي څو لږ ترلږه:

- کازینو باید اجازه لیک ولري.
- واکمن مقامات باید وړ اولازمې لارې چارې او تدبیرونه ترلاس لاندې ونیسي څو جرم کونکي اویا یې شریکان د ګټیالي خاوندتوب، د پاملرنې وړ او یا برلاسي ګټې اویا په کازینو کې پریوې اداري او منجمنت د دندې لرلو مخنیوی وکړي. او



© ۲۰۱۳

- واک لرونکي مقامات باید داومني چې کازینوګانې دAML/CFT دغوښتنوپرېنسټ په سمه توګه څارل کیږي.

(ب) هیوادونه باید دا دود کړي او ومني چې دیادو شویو شرکتونونورې ډلې د AML/CFT له غوښتنوسره سم دنظارت اوڅارنې دسیستمونو تابع دي. دغه کارباید دخطرپه وړاندې دحساس کیدو پربنسټ ترسره شي. اوهم کیدای شي داامر: (الف ) دیوه نظارت کونکي (ب) دیوې خپله مناسبې نظارتي اداري (SRB)له خوا ترسره شي ، په دې شرط چې داسې یوه اداره په دې وتواتیږي چې دهغې غړي خپلې دندې د پیسودتطهیر اوترهګرتمویل پرضد مبارزې په څنګ کې په سمه توګه ترسره کوي.

نظارت کونکې یا پورتنۍ اداره باید (الف ) داسې وړ لازې چارې ترسره کړي چې دحرفه يي مجرمینو اودهغوی دشریکانودباور ،دګټیالې خاوندتوب اویادمدیریت دندې لرلو مختنیوی دیوې برابرې آزموینې پربنسټ وکړي. او (ب)که چیرې له۳۵ مې سپارښتنې سره سم د AML/CFTغوښتنې په خپلوکړو وړو کې په پام کې ونه نیسي بایدچې ګتور، وړ اوکلک بندیزونه پرې ولګول شي.

### د قانون عملي کول

### 29 دمالي استخباراتوڅانګې*

هیوادونه باید دمالي استخباراتو یوواحد(FIU) دیوه ملي مرکزپه توګه دراغونډولو اوتحلیل کولوپه موخه: (الف ) دشکمنو راپورونواومعاملو لپاره ، (ب) دپیسو په تطهیر پورې اړوندو بیلابیلو خبرتیاوو ، اړوندو پخوانیو جرمونو اوترهګرتمویل اوتحلیل دپایلوپه موخه جوړکړي.دغه واحدباید په دې برلاسی وي چې زیات اطلاعات له راپور ورکونکو واحدونوڅخه ترلاسه کړي. اوهم باید هغه مالي ،اداري اواجرایي معلومات چې هغه واحد هغو ته دخپلو دندو دمناسب پرمختګ په خاطر اړتیا لري باید په خپل وخت کې ترلاسه کړای شي.

### 30 دقانون او پلټنو د عملي کوونکو مقامونو مسوولیتونه *

هیوادونه باید داهم دود کړي چې دقانون دعملي کولو په لامل ټاکلي مقامات د AML/CFT دملي پالیسیو په چوکاټ کې دپیسو دتطهیر اوترهګر تمویل پرضد دڅیړنودپرمخ بیولو مسوولیت لري.لږترلږه په ټولو هغوبرخوکې چې دعایداتودلیدونکو په جرمونوپورې اړوند وي. نوموړي مقامات دپیسودتطهیر دڅارنې په حال کې، باید داړوندو ورته تیرو جرمونواوترهګر تمویل سابقه هم په پام کې نیسي .دغه امرباید هغه پخوانۍ اړخونه هم په خپله اولکه کې راواخلي هغه چې د دوی دصلاحیت ترحوزې دباندې ترسره کیږي. هیوادونه باید داومني چې واک لرونکي مقامات دامسوولیت لري هغه شتمنۍ چې دضبطیدو په حال کې دي اویا کیږي، اویاهم دجرمي عاید اومحصول شک وربادې کیږي هغه باید په خپل وخت په نښه اوترڅیړنې لاندې ونیسي اویايي هم دضبط اوکنګل کیدو په برخه کې جدي ګام پورته کړشي. هیوادونه باید له څوګونو دایمي اویاموقتي ډلوڅخه چې دمالي څیړنو په برخه کې تخصص اوپوهه ولري کارواخلي. هیوادونه داهم باید په پام کې نیسي چې کولای شي داړتیا په وخت کې دهمکارۍ پرموخه له نورو هیوادو سره هم څیړنې ترسره کړي.

## 31 دقانون او پلټنو د عملي کوونکو مقامونو واکونه

واکمن مقامات دپیسودتطهیر اوارونده پخوانیوجرمونواوترهګرتمویل دڅېړنوپه ترڅ کې باید داتوان ولري ځوهغه ټول کره وره اولاسوندونه چې دعدلي څارنې په بهیرکې ترلاس لاندې نیول کېږي ترلاسه کړای شي. په دغه امر کې باید داجباري چلند په ګډون کره وره دهغو سوابقو دترلاسه کولو په لامل چې د مالي ارګانو ،شرکتو ،اوغیرمالي ټاکلیوحرفو، طبیعي اوحکمي اشخاصو اوځایونوپه اړه دمدارکو دترلاسه کولو او شاهدۍ په لامل غوښتل کېږي برابرکړل شي.

هیوادونه باید داهم ومني هغه واکمن مقامونه چې څېړنې پرمخ بیایی ددې توان لري چې دپیسودتطهیر اوارونده پخوانیوجرمونواوترهګرتمویل په خاطر دڅېړنوله پراخواوړ تګلارو څخه کارواخلي. دڅېړنودغه تګلارې دالاندې دي: پټ عملیات، دخبرو اترو اوریدل ،کمپوټري کنټرول شویوسیستمونو ته لاسرسي اونور. برسیره پردې هیوادونه باید په دغه اړه داسې ګټور جوړښتونه ولري څو په خپل وخت کې دا په ډاګه کړي چې آیا ټاکلي طبیعی اویا حکمي کس دمالي حسابو لرونکی اویا کنټرولونکی دی . هغوی باید داسې میکانیزم ولري څومعلومه کړي چې واکمن مقامات د شتمنیودخاوند ترپېژندنې مخکې یوڅه په لاس کې لري. واکمن مقامونه دپیسودتطهیر ،ترهګرتمویل اوپخوانیوجرمونو دڅېړنو په ترڅ کې باید په دې برلاسي وي څوهغه ټول معلومات چې دمالي استخباراتي واحد په لاس کې دي وغوښتلای شي.

## 32 دنغدوپیسولېږدونکي *

هیوادونه باید داسې تګلارې ترلاس لاندې ونیسي څوله پولوداسعارو ، چکونواو ارزښتناکو پولي اسنادو فزیکي لیږد دیوه سیستم داعلام په ترڅ کې کشف اوپه ډاګه کړي

هیوادونه باید په دې هم وپوهیږي چې واک لرونکي مقامونه قانوني واک لري څو شکمن قیمتي اسناد چې د تروریستي تمویل، دپیسو دتطهیر اویانوروارونده‌وتیرو جرمونو په اړه وي اویا په درواغو اعلام او په ډاګه شوي وي بند اومخه یې ونیسي.

هیوادونه باید داهم ومني ، دهغواشخاصوپرضد چې د درواغوخپرولو په اعلام تورن کیږي،هم ګټور، وړ اوبرابربندیزونه غوره شوي دي. څوپه هغوحالاتوکې چې دترهګرتمویل اودپیسودتطهیر اوپه دغه اړه دارونده تیروجرمونو دلړۍ په پیل سره خپله کاروایي ترسره کړي. هیوادنه ددغوا وتقنیني کړو وړو په ګډون باید د ۴ شمیرې له سپارښتني سره سم داآسانتاوې برابرې کړي څودپورتنیو اسعارو او اسنادو دضبط لپاره لاره برابره شي.

## عمومي غوښتنې

## 33 احصائیه

هیوادونه بایددخپلو AML/CFT سیستمونودکارندوالي اوګټورتیادچارو په اړه یوه بشپړه شمیرنه ولري.داکارباید په لاندو ټکوباندې ولاړ وي: دشکمنو راکړو ورکړو اوراپوروټو اودهغو دپراختیا په اړه لاسوندونه ،دمحکمو پریکړې،څېړنې اوعدلي څارنې ،دشتمنیو ضبطول ، ترلاسه کول ، کنګل کول اودنوروبیلابیلونړیوالوغوښتنوپه وړاندې دوه اړخیزه مرسته.


© ۲۰۱۳

### 34 لارښوونې او نظریات

واکمن مقامات ، څارونکي او پرځان بسیا نظارتي اداري باید لارښونې رامنځ ته کړي اوخپلې نظریي باید ووایي څو له مالي ارګانو ، شرکتونو ، اوغیرمالي تاکلیوحرفوسره دملي تدبیرونو ، دپیسو دتطهیر اوترهګرتمویل په تیره بیادشکمنو راکړو ورکړو دکشف اوراپور ورکونې په برخه کې مرسته وکړي.

### بندیزونه

### 35 بندیزونه

هیوادونه باید داپه پام کې ونیسي چې یولړ ګټور،برابراومنع کوونکي بندیزونه که جزایي،مدني اواداري هم وي له طبیعي اوحکمي اشخاصو سره دچلند په ترڅ کې چې په ۸،۲تر۲۳مې سپارښنې کې راغلي وي اود AML/CFT غوښتنې په پام نه نیسي رامنځ ته کړي.دغه بندیزونه بایدنه یوازې دمالي موسسو او مشخص شوو غیر مالي شرکتونو اوحرفو په اړه وي بلکې دهغو دمشرانو ، اولوړمدیریت په اړه هم ولګول شي.


© ۲۰۱۳

## ز) نړیوال همکاري

### 36 نړیوال وسیلې

هیوادونه بایدبیړني اقدامات دویانا،(۱۹۸۸) پالیرمو (۲۰۰۰)دملګروملتو داداري فساد (۲۰۰۳)اودترهګرۍ تمویل (۱۹۹۹) کنوانسیونو ته دتړاو اوبشپړتطبیق لپاره ترسره کړي . هیوادونه ترکومه خایه چې داجرا وړوي اوترکومه چې هځول کیږي باید نوراړوند کنوانسیونونه هم تصویب اوتطبیق کړي لکه داروپایي ټولنې د سایبرجرمونو (۲۰۰۱)، دترهګرۍ پرضد بین الا امریکایي کنوانسیون (۲۰۰۲) او داروپا دشورا کنوانسیون(۲۰۰۵) چې له ترهګرو جرمونو څخه دراپیداشویو عایداتو د تطهیر، پلټنې اوضبطولو په اړه دي

### 37 دوه اړخیزه حقوقي مرسته

هیوادونه باید په چټکه، په جوړونکې اوګټوره توګه پراخه حقوقي مرسته له څیړنو ،عدلي څارنو ، دپیسودتطهیر ، تیروجرمونو او ترهګرۍ ملاتړ په اړه برابره کړي. هیوادونه باید دمرستو دآسانتیاوو په اړه حقوقي بنسټونه ولري ، په هرځای کې چې وړ وي باید له بیلابیلو میکانیزمونو سره دهمکارۍ تړونونه او جوړ جاري ولري. په تیره بیا له هیوادو سره باید دالاندې تکي په پام کې ونیسي:

(أ) د دوه اړخیزو حقوقي مرستو دلارې خنډ نه شي اونه باید ناسم ،خنډیز اومنع کوونکي شرایط دهغو په هکله وړاندې کړي.

(ب) دا ومني چې دوی دحقوقي مرستو اوغوښتنود لومړیتوب اوسرته رسیدو لپاره دوه اړخیزې حقوقي ، څرګندې اوګټورې شوتنیاوې لري . هیوادونه باید دیوې مرکزي ادارې اویا کوم بل جوړشوي رسمي میکانیزم څخه د ورته غوښتنو دتطبیق په لامل کار واخلي. پرغوښتنوباندې دڅارنو په لامل باید دبیلابیلوبرخو دمدیریت یو سیستم هم وي.

(ت) دیوې دوه اړخیزې حقوقي غوښتنې دسرته رسیدو په وړاندې یوازې په دې لامل مخ وانه روي چې ګواکې جرم یوازې دمالي مسایلو په خاطر په پام کې نیول شوی دی.

(ث) د مرستې دیوې دوه اړخیزې حقوقي غوښتنې څخه یوازې په دی لامل مخ وانه روي چې ګواکې قوانین له مالي ارګانو ،شرکتوا وغیرمالي تاکلیوحرفو څخه غوښتنه کوي چې راز اومحرمیت وساتي (یوازې په هغه حالت کې چې اړوند معلومات په داسې حال کې وي چې هلته حرفه یې حقوقي امتیاز یادحقوقي محرمیت اړتیاوي ) .

(ج) خوندیتوب یامحرمیت چې له کومې حقوقي دوه اړخیزې مرستې غوښتنې ترلاسه کوي، دهغوڅرګندوی معلومات له کورنیو اساسي قوانینو سره سم باید له څیړنیزتمامیت یا تفاهم څخه تر لاسه اووساتل شي .که چیرې مطلوبه هیواد ونه شي کولای دمحرمیت له شرایطوسره جوړجاړی وکړي باید پرته له خنډه غوښتونکي هیواد ته دخپلې نیمګړتیاخبرورکړي.

هیوادونه باید دوه اړخیزه مرسته دغبرګ خوندیتوب (محرمیت ) له نشتوالي سره سره، په داسې حال کې چې دغه مرسته دجبري اقداماتو پرینسټ نه وي ترلاس لاندې ونیسي. هیوادونه باید داسې لارې چارې

دهغوی دغبرګ خوندیتوب په غیاب کې دیوې پراخې ډلې لپاره دمرستې دتیارې په توګه په پام کې ونیسي.

په هغو ځایو کې چې دوه اړخیزه حقوقي مرسته غبرګوني مجرمیت ته اړتیا ولري ، باید دغه اړتیا پرته له دې چې دواړه هیوادونه جرم په کټ مټ ګټګورې کې شمیرې اویایې په مساوي نومونې سره یادوي، هغه ددغه شرط له امله چې دواړه هیوادونه ترنظرلاندې جرم دکټ مټ او یو جرم په توګه پیژني.

هیوادونه باید داتأمین کړي چې هغه واکونه اوتحقیقاتي تګلارې ،کومې چې په ۳۱ مه سپارښتنه کې خوندي دي اونور هغه واکونه او تګلارې چې دواکمنو مقاماتو په واک دي لکه:

(أ) ټول هغوی چې دمعلوماتو دتولید ، پلټنې، اسناد اومدارک (دمالي سوابقو په ګډون) له مالي ارګانو اویا نورو اشخاصو دشهادت په څرګندونو پورې اړه لري ؛ او

(ب) دنورو واکونو اوتحقیقي لارو چارو یوه پراخه کړۍ هم ؛

ددوه اړخیزې حقوقي مرستې دغوښتنو په ځواب کې په داسې حال کې چې دهغوی له داخلي چوکاټ سره مطابقت ولري دهغو مستقیمو غوښتنو په ځواب کې چې دخارجي قضایي یاعدلي مقاماتو له خوا متقابلو کورنیومقاماتو ته وړاندې کیږي دویلووړوي . دواکونو دحوزو دپریکرون دمخنیوي په لامل باید هڅه وشي چې دعدلي څارنې ښې تګلارې او میکانزمونه دعدالت پرښسټ هغه هم چې دیوه هیواد دعدلي څارنې تابع وي تطبیق شي.

د صلاحیتونو د حوزو د تقاطع د مخنیوی په موخه باید پاملرنه وشي تر څو دعدلی تعقیب دترټولو مناسب ځای د ټاکلو داسی میکانیزمونه طرحه او تطبیق شي چې له یوه نه د زیاتو هیوادونو د عدلی تعقیب د اصولو تابع وی.

هیوادونه باید ددوه اړخیزې حقوقي مرستې دوړاندې کولو په ترڅ کې خپلې ممکنې هڅې وکړي ترڅو بشپړاوحقیقي معلومات کوم چې دغوښتنوپروخت دګتورې ترسره کیدنې لارې چارې دهرډول اهمیت په ګډون برابر کړي.غوښتنې باید له چټکولارو په بیړنې ډول واستول شي.هیوادونه باید دغوښتنو تراستولو دمخه خپلې ټولې هڅې په دغه ټکي راوځرځوي څو وکولای شي دحقوقي مرستې پراوونه په ډاګه کړي.

ددوه اړخیزې حقوقي مرستې دمسوولو مقامونو (دمثال په توګه مرکزي اداري )لپاره باید پوره مالي، بشري اوتخنیکي سرچینې برابرې شي. هیوادونه باید داسې بهیرونه ولري څو دا امر تأمین شي چې د دې مقامونو کار کوونکي د محرمیت د موازینو تر څنګه په لوړه کچه تطهیر او لازم مهارت او وړتیا سمبال وي.

38 دوه اړخیزه حقوقي مرسته: کنګل اوضبطول *

هیوادونه بایدداومني چې هغوی دا واک لري چې د پیسودتطهیر،ترهګریز تمویل اوتیرواړوندو جرمونود عوایدو دتثبیت، کنګل اوضبط په اړه چټک چلند ترسره کړي کومې وسیلې چې په دغه برخه کې کارول شوي اویادکارولو لپاره په پام کې نیول شوې باید ددغو جرمونو له کچې اودهغوی له وړتیاسره خپل اندول وساتي. په دغه چوکاټ کې باید داسې صلاحیت هم وي چې وکولای شي

هغوغوښتنوته ځواب ووایي چې د نه محاکمې په حال کې دموقتو اقداماتو لپاره وي.خو په دې شرط چې دغه کاردهغوی دکورنیواصولو سره په ټوپیرکې وي .هیوادونه باید دداسې شتمنیو،وسیلو په همدغه انډول شتمنۍ اوهغه لارې چارې چې په دغه برخه کې دضبط شویو شتمنیو په اړه دګډو هڅو ځرګندویې کوي له ځان سره ولري.

## 39 استرداد

هیوادونه باید هغه غوښتنې چې دپیسودتطهیر اوترهګریزتمویل دبیرته سپارښت (استرداد )پرښنسټ وي په ګټوره توګه پرته له هرډول بې لامله ځنډه ترسره کړي. هیوادونه همدارنګه بایدټولې شونې لارې چارې دهمدغه امردتامین په خاطر عملي کړي ځو دوی دهغواشخاصو لپاره چې په ترهګرۍ ، ترهګرو کړو وړواوسازمانو تورن اومحکوم دي خوندي پناه ځای نه شي. هیوادونه باید په دغه برخه کې:

(أ) په دې پوه شي چې دپیسوتطهیر اوترهګریزتمویل جرمونه دبیرته اخیستو وړدي ؛

(ب) داومنې چې دوی دبیرته اخیستودغوښتنوپه لامل ځرګندې اوګټورې برياوې دلومړيتوب په ګډون لري .دغوښتنودپرمختګ دڅارنې په موخه باید دبیلابیلوبرخو دادارې سیسټم خاوندان وي.

(ت) دغوښتنودسرته رسیدو په لاره کې باید ناکره او منع کونکې شرایط ونه مني ؛او

(ث) داومني چې هغوی د استرداد په موخه یو وړ اومناسب چوکات لري.

هرهیواد باید خپل اتباع یا بیرته ور وګرځوي اویاکه داکاریوازې دملیت په لامل نه ترسره کوي، باید دهغه هیواد غوښتنلیک ته مثبت ځواب ورکړي چې دنوموړي کس استرداد یې غوښتې وي، په دغه اړه باید قضیه پرته له ځنډه واک لرونکو مقاماتو ته دجرمونودعدلي څارنې په موخه وړاندې کړي. دغه مقامونه بایدخپله پریکړه او جزایي اجراآت دنورو درنوجرمونوپه شان دهیواد له کورنیو قوانینوسره سم ترسره کړي. هیوادونه باید له یوه اوبل سره په تیره بیادهغو مدارکوپه برخه کې چې له دغو اجراآتو سره مرستندوی وي مرسته وکړي.

په هغوځایونوکې چې دوه اړخیزه حقوقي مرسته غبرګ مجرمیت ته اړتیاولري ، باید ددغې اړتیا دلرې کولو په برخه کې سره له دې چې دواړه هیوادونه جرم دجرمونوپه کټ مټ کټګورۍ کې شمیرې اویا هغې ته مساوي نوم ورکوي یانه ، خوداشرط به په کې وي چې دواړه هیوادونه به دنظروړجرم دیو ډول جرم په توګه پيژني.

هیوادونه باید دکورنیو اساسي قوانینوپربنسټ داسترداد‌ساده شوي میکانیزمونه لکه هغه میکانیزمونه چې دنیغ بیرته ستنولولارې چارې دلندمهالي نیونې په لامل داړوندمقامونو ترمنځ په ډاګه کوي، هغوی چې یوازې دنیولو دقوانینواوقضایي پریکړو په لامل لیږدول کیږي، اوهغوی چې بیرته استول په خوښه غواړي اود بیرته ستنیدو رسمي بهیر پرځان نه تطبیقوي عملي اوکاروي. دبیرته استونکو دچارو مسوول مقامونه بایدپوره مالي ، بشري او تخنیکي سرچینې په واک کې ولري. هیوادونه باید داسې بهیرونه هم ولري څوداومنې چې دداسې عالي اومسلکي ارګانوکارکونکي په محرمیت ولاړ او په وړ مهارتونوکې دسپیڅلتیالوړه کچه لري.


© ۲۰۱۳

## 40 د نړیوالې همکارۍ بېلابېل ډولونه*

هیوادونه باید داومني چې واکمن مقامونه کولای شي په چټکه ،ګټوره او جوړونکې توګه دپیسو دتطهیر ، ترهګرتمویل اوتیرواړوندجرمونو په وړاندې پراخه نړیواله همکاري پیل کړي . هیوادونه باید داکار په خپله اویاهم دغوښتنې پربنسټ ترسره کړي چې دترسره کولو په ترڅ کې یې باید یوه حقوقي ستنه هم په منځ کې وي . هیوادونه باید خپلو واک لرونکومقامونو ته داواک ورکړي څو دهمکارۍ ترټولواغیزمن چلند ترلاس لاندې ونیسي. کله چې یو واکمن مقام جوړجاړي لیک (تفاهمنامه)اویادوه اړخیزو اویاڅواړخیزو تیاریو ته اړتیالري لکه دتفاهم یادښت (MOU)، باید چې داګرده له خارجي پلوه دیوې پراخې دایرې په جوړښت کې لومړی ترخبرو لاندې ونیسي اوبیایې په خپل وخت لاسلیک کړي.

واک لرونکي مقامات باید په څرګنده توګه دغوښتنودګټورې سرته رسیدنې په لامل له اطلاعاتو اودمرستو له نورو ډولونوڅخه کارواخلي. واکمن مقامونه بایددغوښتنوداستولو اواجراکولو به برخه کې چې داطلاعاتواویانورو مرستو پربنسټ وي کارواخلي. واکمن مقامونه بایددغوښتنودپروخت اجراتو اولومړیتوب جوړونې په برخه کې څرګندي اوګټورې شونیتاوي اوتګلارې دراغلو اطلاعاتو دساتنې په موخه ولري.


© ۲۰۱۳

# د FATF د سپارښتنو په باره کې تفسیري یادښتونه

## د لومړۍ سپارښتنې په اړه تفسیري یادښت
## (د خطر ارزونه او د خطر پر بنسټ ولاړ چلند کارول)

1. دخطر پربنسټ چلند(RBA) د پیسو دتطهیر او ترهګر تمویل سره د مبارزې یوه ګټوره لاره ده. هیوادونه باید په یوه سکتور کې د دغه اصل د تطبیق دځرنګوالي د ټاکنې لپاره د پیسو دتطهیر او ترهګرتمویل ضد مبارزه کې داړوند سکتورتجربه په نظر کې ونیسي. هیوادونه باید پوه شي چې دمالي موسسو اومشخصوغیرمالي شرکتونو اوحرفو صلاحیت اومسوولیت په نوموړو سکتوررونو کې دزیاتې تجربې او ظرفیت پرچلند سم اومناسب دی. دغه امر باید مالي ادارې اومشخص غیرمالي شرکتونه اوحرفې دلوړو خطرو دپیژندنې له سناریو څخه معاف کړي. دخطرپربنسټ دچلند په غوره کولو سره واکمن مقامونه، مالي موسسې اویادشوي شرکتونه باید پردې برلاسي وي څو ددې ضمانت وکړي چې دپیسو دتطهیر اوترهګرتمویل دمخنیوي تدبیرونه او لارې چارې باید له پیژندل شویو خطرونه سره په اندول کې په پام کې ونیسي ، څکه چې دغه چلند به هغوي په دې وتوانوي چې دخپلو سرچینو دونډې دځرنګوالي په اړه په ګټوره توګه تصمیم ونیولای شي.

2. مالي موسسې ، اومشخص غیرمالي شرکتونه او حرفې دنوموړي چلند دتطبیق په حال کې باید دپیسو دتطهیر اوترهګریز تمویل دپیژندنې، څیړنې،څارنې ، مدیریت اوکمښت واکونه اوبریاوې ولري. ددغه چلند عمومي اصول دادي چې، په کومو ځایو کې چې لوړ خطرونه وي ، هیوادونه باید له مالي موسسو ، شرکتونو اوغیرمالي ټاکلیو حرفو څخه وغواړي چې ددغه خطر دمدیریت اوکمښت په خاطر په جدي کړو وړو باندې لاس پورې کړي،اوداچې په ځینو ځایو په ټیټه کچه خطرونه وي هلته کیدای شي ساده شویو تدبیرونو ته اجازه ورکړه شي. ساده شویو تدبیرونو او لارو چارو ته باید دپیسو دتطهیر او ترهګرتمویل دشک په ترځ کې اجازه ورنه کړه شي. ددغه اصل دتطبیق په اړه ټاکلې سپارښتنې دزمان ټاکلې غوښتنې په دقیقه توګه تعریفوي. هیوادونه همدارنګه کولای شي چې په خورا تنګوحالاتو کې هلته چې دپیسو دتطهیر اوترهګرتمویل وړه کچه ثابته شوي وي خپل تصمیم ونیسي څو یوشمیر سپارښتنې لکه مالي فعالیتونه، شرکتونه اوغیرمالي حرفې (لاندې باید وکتل شي)ترلاس لاندې ونه نیول شي.له همدې کبله کله چې هیوادونه دخطرونو دارزونې په پایله کې په دې پوه شي چې موسسې، فعالیتونه، شرکتونه اوحرفې یې دپیسو دتطهیر اوترهګرتمویل دناوړې ګټې اخیستنې ترخطرلاندې راځي او د مشخصوغیرمالي شرکتونو اوحرفو په ډله کې نه داخلیږي ، هغوی باید په داسې سکتورونو کې د AML/CFT غوښتنو له کاریدو څخه کارواخلي.

### الف) دهیوادونو دندې اوپریکړې

3. د خطر ارزونه– هیوادونه: باید دهغوخطرونو دارزونې اوپیژندنې وړ تدبیرونه چې دپیسو دتطهیر اوترهګرتمویل له اړخه دهیواد په وړاندې رامخ ته کیږي په دایمي توګه ترلاس لاندې ونیسي ترڅو : (i)

[1] که چیرې وړ وي، له دغه بحث سره اړوند دغې دندې په ترځ کې د AML/CFT دخطر ارزونې باید په ملي کچه په پام کې ونیول شي.


© ۲۰۱۳

په AML/CFT رژیم کې پربالقوه بدلونو باندې باید خلک خبرشي ، په قانون، مقرراتو اونورو تدبیرونو کې دبدلونو په ګډون (ii)هغه چې دواکمنو مقاماتو له خوا دAML/CFT د سرچینو دلومړیتوب او وندې سره مرسته کوي. (iii) د AML/CFTدخطر دارزونې په اړه معلومات هغه چې دمالي اوحرفه یې موسسو اومشخصوغیرمالي شرکتونواوحرفو له خوا په دغه برخه کې برابرېږي. هیوادونه باید داسې ارزونې له ځان سره تازه وساتي اوپه دغه اړ باید داسې میکانیزمونه ولري چې دپایلوپه اړه وړ معلومات ټولواړوندو اوواکمنو مقامونو او په ځان بسیا نظارتي ادارو ،مالي موسسو ، حرفو او اومشخصوغیرمالي شرکتونو ته برابرکړي.

4. لوړ خطر – په کوموځایوکې چې هیوادونه لوړخطرپه ډاګه کوي، هغوی باید په دې پوه شي چې AML/CFT رژیم هغه خطرونه ترخپله ولکه لاندې راولي اوپرته له هرډول مخکني قضاوت اوپریکړې هغه دټولوهغوتدبیرونو چې دهیوادو له خوادلوړو خطرونو په اړه نیول شوي دي ترلاس لاندې نیول کیږي. مالي اوحرفه یي بنستونه اودنظوړشرکتونه باید دالاربنونه وکړي چې دلوړوخطرونو دکمښت په برخه کې به لاړې چارې ترلاس لاندې نیول کیږي اویابه خپله دامنې چې دخطردغه معلومات د خطري ارزونو په برخه کې کوم چې دمالي اوحرفه یي ارګانو اوغیرمالی شرکتونو له خوا ترسره کیږي په پام کې نیول کیږي، ترڅوخطرونه په سمه توګه اداره اورالږ کړه شي. په کوموځایوکې چې د FATF سپارښتنې دلوړخطر فعالیتونه په ګوته کوي اویاکوم اقدامات چې دهغولپاره تاکلي اوجدي کړه وړه بلل کیږي هغه ټول باید په داسې حال کې عملي شي. که څه هم د داسې کړو وړو کچه له هرخطرسره سمه بدلون هم ومومي.

5. ټیټ خطر – هیوادونه کولای شي پریکړه وکړي چې د FATF یوشمیرساده شویو سپارښتنو ته اجازه ورکړي چې له مالي اوحرفه یي بنستونو ، اومشخصوغیرمالي شرکتونو څخه وغواړي چې یولړتاکلي تدبیرونه ترلاس لاندې ونیسي ، په دې شرط چې خطریې په ټیټه کچه په ګوته شوی وي اود پیسو دتطهیر اوپه هیوادکې دترهګرتمویل چې په(۳ ) پراګراف کې اشاره ورته شوې له ارزونې سره برابرتیاولري. هیوادونه دټیټ خطرپه اړه له تصمیمه پرته دخطرونو دډله بندۍ له ټاکلوسره سم دمخکني پراګراف پربنسټ کولای شي مالي موسسو اومشخصوغیرمالي شرکتونواو حرفو ته اجازه ورکړي چې د سي ډي ډي له ساده شویو اقداماتو او اصولو څخه کارواخلي، په دې شرط چې (دمالي موسسو اوحرفو دندې اوپریکړې ) د (ب ) برخې اولاندې(۷) پراګراف دشرایطو لرونکي وي.

6. بښنې اومعافیتونه –هیوادونه کولای شي هوډ وکړي څو FATF سپارښتني کومې چې له مالي موسسو اومشخصوغیرمالي شرکتونو اوحرفو څخه دټاکلو اقداماتو ترسره کیدنه غواړي تطبیق کړي په دې شرط چې:

(أ) دپیسو دتطهیر او ترهګرتمویل ټیټ خطر په ډاګه شوی وي، دا په خورا تنګو او موجه حالاتو کې رامنځ ته کیږي، اوپه یو خاص ډول مالي ارګانو یافعالیت، شرکت اوغیرمالي ټاکلې حرفې پورې تړاو مومي ، یا

(ب) یو مالي فعالیت(دپیسو یا ارزښت له لیږده پرته ) دیوه طبیعي یا حکمي شخص له خوا کله کله او یا ډیر لږ ترسره کیږي(د مطلقو او کمي معیارونو په پام کې نیولو سره ) داسې چې د پیسو د تطهیر او ترهګر تمویل ټیټ خطر په منځ کې وي.

په داسې حال کې چې راټول شوي معلومات کیدای شي د خطر له کچې سره سم بدلون ومومي، په دغه ترڅ کې باید د (۱۱) شمیرې سپارښتنې غوښتنې چې د معلوماتو د ساتلو په برخه کې دي، پرته له دې چې کوم ډول معلومات راټول شوي دي وکارول شي.

7. **د خطر نظارت او څارنه**– نظارت کونکي او یا خپله نظارتي اداري (SRB) باید شرکتونو او ځرګندو غیرمالي سکتورونو ته داډ ورکړي چې مالي موسسې او مشخص غیرمالي شرکتونه او حرفې هغه دندې چې لاندې یې یادونه شوې په ګټوره توګه عملي کوي. څارونکي او پورتنۍ اداري باید دا رتیا په وخت کې د تفسیري یادښتونو د (۲۶) او(۲۸) سپارښتنو سره سم د هغو خطرونو چې د پیسو د تطهیر او ترهګر تمویل د ارزونې په لامل د مالي موسسو او مشخصو غیرمالي شرکتونو او حرفو له خوا تیار شوې وڅیړي او پایلې یې په نظر کې ونیسي.

**ب) د مالي موسسو او مشخصو غیرمالي شرکتونو او حرفو دندې او پریکړې**

8. **د خطر ارزونه**– له مالي موسسو او مشخصو غیرمالي شرکتونو او حرفو څخه باید غوښتنه وشي چې ور کړه وړه باید د پیسو د تطهیر او ترهګر تمویل (چې د مشتریانو ،هیوادو او جغرافیایي سیمو ، تولیداتو ، خدمتونو او تحویلي راکړو ورکړو ځرګندونه کوی )په وړاندې ترسره کړي هغوی باید د غه ارزونې مستندې کړي څو وکولای شي د هغو بنسټ او ستنه وښیي، دغه ارزونې باید تازه وساتي ، د خطرونو د ارزونې په اړه دې د معلوماتو د برابرولو ، واکمنو مقاماتو او خپل نظارتي ادارو لپاره ټاکلي میکانیزمونه ترلاس لاندې ولري.د پیسو د تطهیر او ترهګر تمویل د خطر ماهیت او وسعت باید د تجاري شرکت له ماهیت او کچې سره برابروي. مالي موسسې او مشخص غیرمالي شرکتونه او حرفې باید تل د پیسو د تطهیر او ترهګر تمویل په خطرونو پوه شي، خو واکمن مقامامونه له پرځان بسیا نظارتي ادارو سره یوځای ،کیدای شي دا په ګوته کړي چې یوګړې (انفرادي )او مستندې ارزونې په هغه حال کې اړینې نه دي کله چې دیوه سکتور له خوا ټاکلي خطرونه په ښه او پیژندل شوي وي.

9. **د خطر کمښت او مدیریت**–له مالي موسسو او مشخصو غیرمالي شرکتونو او حرفو څخه باید غوښتنه وشي چې ځانته داسې ټاکلې پالیسۍ ،څارنې او تګلارې ولري ترڅو هغوی ته دا توان ورکړي چې په ښه شوي خطرونه (د هیواد یا مالي حرفه یې او ټاکلیو غیرمالي شرکتو په واسطه) کنترول او کم کړي. له هغوی باید غوښتنه وشي څو د دغو عملي کولو له بهیر څخه څارنه وکړي او که اړتیاوې باید هغو ته لوړتیا ورکړي. پالیسۍ ،څارنې او تګلارې باید دلوی منجمنت یا لویې ادارې له خوا منل شوي وي، دا دارې او خطرونو د کمښت پربنسټ کړه وړه ( څه لوړوي او څه ټیټ )باید له ملي اړتیاوو ،لوړو واکمنو مقامونو او پرځان بسیا نظارتي ټولنو له لارښونو سره سمون ولري.


© ۲۰۱۳

10. **لوړ خطر** – په کوموخایو کې چې لوړ خطر په نښه کیږي، باید له مالي موسسو او مشخصو غیرمالي شرکتونو او حرفو څخه غوښتنه وشي څو د ځارنې او خطرونو د کمښت دکنترول په خاطر لوړ کړه وړه ترسره کړي

11. **ټیټ خطر** – په کوموخایو کې چې ټیټ خطر په نښه کیږي هیوادونه کولای شي مالي او حرفه یي بنسټونو، او غیرمالي تاکلو شرکتو ته اجازه ورکړي څو په دغه ترڅ کې ساده شوي اقدامات د دغو خطرونو د کمښت په برخه کې سرته ورسوي.

12. دخطرونو دارزونې په ترڅ کې مالي موسسې او مشخص غیرمالي شرکتونه او حرفې باید دخطرتول عوامل او لاملونه دخطر د ټولې کچې او کمښت دلازمي کچې ترټاکلو دمخه په پام کې ونیسي. مالي موسسې او مشخص غیرمالي شرکتونه او حرفې کولای شي دبیلابیلو عواملو په ترڅ کې دخطر کچه او ډول په نښه کړي ( دمثال په توګه دیوه ټاکلي حالت په ترڅ کې هغوی کولای شي دمنښت په بهیر کې له عادي سي ډي ډي تګلارو څخه کار واخلي، خو ددوامدار نظارت لپاره بیا باید لوړه سي ډي ډي وکاروي اوبرعکس).


© ۲۰۱۳

## د دریمې سپارښتنې په باره کی تفسیري یادښت
## (د پیسو د تطهیر جرم)

1. هیوادونه بایددپیسوتطهیر دنشه یي توکودناروا سوداګرۍ پرضددملګروملتو دکنوانسیون (۱۹۸۸تصویب) دویانادکنوانسیون اود ملګرو ملتو دډیرملتیزو جرمونودکنوانسیون (۲۰۰۰ کال مصوب) د(پالیرمو کنوانسیون ) پربنسټ یوجرمي عمل وبولي.

2. هیوادونه باید دپیسو د تطهیر جرم دپراخ لمنو اوشدیدو تیروشویوجرموپه ډله کې وشمیري.تیرشوي جرمونه کولای شي دټولوجرمونوپه لړاویاهم شدیدو جرمودیوې ډلګۍ اویاله تیروجرمونوسره دبنددسزاپه توګه(دحدودی کړنوپه چلند ) اویاهم داړوندوجرمونوپه فهرست کې له همدغو چلنددونوسره په تړاوکې تعریف شي.

3. کله چې یوهیواد حدودي چلندکاروي، باید تیراړوندجرمونه لږترلږه دټولوهغوجرمونوڅخه استازیتوب وکړي چې دهیواد له کورنیوقوانینوسره په یوه ډلګۍ کې راشي، اویاهغه جرمونه په خپله ولکه کې راواخلي چې دهغو لوړه سزا تریوه کال زیاته موده زندان وي، او یاهم په هغو هیوادو کې چې په حقوقي سیستم کې یې دجرمونو لپاره ټیټه کچه وراندوینه شوې ده ، هلته باید دپخوانیواړوندو جرمونو په ډله کې هغه جرمونه راشي چې دلږې سزا دکچې اندازه یې ترشپږو میاشتو زیاته وي.

4. هر هیواد پرته له دې چې کوم چلندترلاس لاندې نیسي ، بایدلږترلږه دجرمونو یوه لړۍ په دغوټاکلیو ډلګیوکې داخله کړي دپیسو دتطهیر جرم باید دهرډول شتمني په اړه ، پرته دهغو دارزښت په پام کې نیولوسره چې په مستقیمه اوغیرمستقیمه توګه دجرم لامل شمیرل کیږي ، ومنل شي. کله چې داپه ډاګه کیږي چې شتمني له جرم سره په تړاوکې ده ، په دغه حالت ددې اړتیا نشته چې یوڅوک باید په خپل تیرجرم محاکمه شي.

5. دپیسو ترتطهیر دمخه اړوند جرمونه باید هغه عمل ته هم وویل شي چې په یوه بل هیواد کې رامنځ ته کیږي اوپه هغه هیواد کې جرمي عمل ګڼل کیږي.که چیرې دغه عمل په خپله په هیواد کې ترسره شوی وای هغه دپخواني اړوند جرم په نامه یادیدای شو. هیوادونه کولای شي چې په خپلوقوانینوکې داځای پرځای کړي چې په دغه حالت کې یوازنی شرط دادی چې که دغه عمل په خپله په هیواد کې ترسره شي. هغه دپخواني جرم په ډله کې شمیرل کیږي.

6. هیوادونه کولای شي په خپلوقوانینوکې داوړاندوینه وکړي چې دپیسود تطهیر جرمونه پرهغواشخاصو چې په اړوند جرم مخکې تورن شوي وي نه تطبیق کیږي، پرته له دې چې دهغوهیوادو کورني اساسي قوانین یې غوښتنه وکړي.

7. هیوادونه باید داومني چې:

(أ) دجرم داثبات په خاطرهوډ اومعلومات ترټولو عیني اوحقیقي لاملونه بلل کیدای شي.

(ب) پرهغه طبعیي کس چې دپیسود تطهیر په جرم محکوم شوی وي باید ګټور، برابر او منع کونکي بندیزونه تطبیق شي.


© ۲۰۱۳

(ت) په هغه ځای کې چې جزایي بندیزونه او تلافی (دداخلي قوانینو پرلامل )شوني نه وي، هلته باید پرحکمي کس باندې مدني یا اداري بندیزونه تطبیق شي. دحکمي اشخاصو په اړه دغه امر په هغو هیوادو کې چې هلته دتلافۍ یوه بڼه وي باید دجزایي ،مدني او اداري اجراآتو خنډ نه شي. پرطبعي اشخاصو باندې دتلافۍ په اړه داډول اقدامات باید له مخکښې قضاوت څخه پرته دتطبیق وړ وي. ټول بندیزونه باید گټور، متناسب اومنع کوونکي وي.

(ث) باید ټول مناسب فرعي جرمونه،دتطهیر دجرمونوپه څنگ کې دگډون، همکارۍ، دارتکاب، دسیسې اویاتلاش ، مرسته کولو ،هڅولو ،آسانولو اومشوره ورکولو سره یوځای ټول پیشبیني شوي وي. په دې شرط چې کورني اساسی قوانین اجازه ورکړي.

## د ۴ مې او ۳۸ مې سپارښتنو په باره کې تفسيري يادښت (ضبطول او لنډمدت اقدامات)

هېوادونه بايد داسې تګلارې او ميکانيزمونه رامنځ ته کړي څو واکمنو مقامونو ته دا شونې تابرابره کړي چې کنګل شوې او ضبط شوې شتمنۍ په سمه توګه اداره او د ورتيا په حال کې برالا کړي. دغه ميکانزمونه او تګلارې بايد هم د کورنيو اجراآتو او هم بهرنيو هېوادو د غوښتنو په ترڅ کې وکارول شي.


© ۲۰۱۳

## د ۵ مې سپارښتنې په باره کې تفسیري یادښت
## (د ترهګریز تمویل جرم )

### الف) موخې

1. پنځمه سپارښتنه په دغه موخه رامنځ ته او تدوین شوه چې هیوادونه دهغو اشخاصو په وړاندې چې ترهګرۍ تمویلوي دعدلي څارنې او جزایي بندیزونو دحقوقي ظرفیت لرونکي وي. دنړیوالې ترهګرۍ او دپیسو د تطهیر داړیکو په پام کې نیولوسره سره، د ۵ سپارښتنې بله موخه یاهدف پردغه ټکي ټینګار دی چې هیوادونه دی ته تیاروي چې ترهګرجرمونه دپیسو د تطهیر سره په تړاوکې دمخنیو جرایموپه ډله کې وشمیري.

### ب) د ترهګر تمویل جرمونو ځانګړنې

2. دترهګرتمویل جرمونه پرهغه چا اطلاق کیدای شي چې په قصدي توګه ، په هروسیله، په مستقیمه اوغیرمستقیمه پیسې راټولوي او دایي هیله وي چې دغه پیسې په بشپړه اویایې یوه برخه : (الف ) دترهګرعمل اویاترهګري اعمالو ، (ب) دیوه ترهګر سازمان په واسطه اویا (ت) دیوه ترهګرفرد له خوا خرڅې او کارول کیږي اوخپله پوهیږي چې پردغه لامل خرڅیږي.

3. دترهګرعمل دتمویل پیژندنه ، یوازې دمرستي کولو ،هڅولواودغې سپارښتنې درعایت کولو په لامل بس نه ده .

4. دترهګرتمویل جرمونه باید ټولې برخې دا که دروا سرچینې له خواوي اویا ناروا په خپله غیږکې راونیسي.

5. دترهګرتمویل جرمونه باید په دغه امراړوندوالی ونه لري چې : (الف ) په رښتیاهم دیوه ترهګرعمل په نیت کارول شوي وي. اویا (ب) دیوه ټاکلي ترهګرعمل سره تړاو ورکړل شوی وي.

6. هیوادونه باید داومني چې دترهګرعمل دثابتولولپاره نیت اودرک په دغوحالاتو کې عیني اوحقیقي استنباط کیدای شي

7. پرهغه شخص چې په ترهګرجرم تورن وي باید متناسب، اغیزمن او منع کوونکي بندیزونه تطبیق شي.

8. تلافي اوجزایي بندیزونه اوپه هغو ځایوکې چې دا کار (دکورنیواساسي قوانینوپرلامل ) شونی نه وي، هلته باید پرحکمي اشخاصو باندې مدني اویا اداري بندیزونه تطبیق شي. دغه امر په هغو هیوادوکې چې دتلافي یوشکل لري باید دموازي جزایي،مدني او اداري اجراآتو خنډ نه شي. ټول بندیزونه باید اغیزمن،متناسب اومنع کوونکي وي.

9. په ترهګرتمویل اړوندجرم ارتکاب اوهڅه هم باید یوجرم وبلل شي.

10. په لاندې برخوکې لاس لرل هم جرم دی:

(أ) ددغه تفسیري یادښت له ۲ او ۹ پراګراف سره دجرم دشریک په توګه په جرم کې برخه لرل ؛

(ب) ددغه تفسیری یادښت له ۲ او ۹ پراګراف سره سم جرم ته دنورو له خوا سازمان ورکونه اویا لارښونه ؛

(ت) ددغه تفسیري یادښت له ۲ او ۹ پراګراف سره سم دیوه اویا څوجرمونو سرته رسول دیو شمیر اشخاصو له خوا چې دیوه هدف لپاره کارکوي.

دمرستې داډول به قصدي وي یا (۱) دجرمي فعالیت دپرمخ بیولو پرلامل، اویادهغې ډلې چې په ترهګرعمل باندې تورنه ده. اویا (۲) دجرمي ډلې دجرم پرېښست ترسره کیږي.

11. پرته له دې چې داپه پام کې ونیسو چې مجرم کس په هغه اویابل هیواد کې چې هلته ترهګر اویا ترهګرسازمانونه پراته دي اوترهګرعمل (عملونه ) هلته ترسره شوي اویابه ترسره شي، باید دترهګرۍ دتمویل حکمونه پرې تطبیق شي.


© ۲۰۱۳

## د ۲مې سپارښتنې په باره کې تفسیري یادښت
## (پر ترهګرۍ او ترهګر تمویل اړوند موخه ایز مالي بندیزونه)

### الف) موخه

1. شپږمه سپارښتنه له هرهیواده غواړي چې دملګروملتودامنیت شورا له پریکړه لیک سره سم موخه ییز مالي بندیزونه تطبیق کړي کوم چې له هیوادونو څخه غوښتنه کوي ترڅو پانګې اونورشیان پرته له ځنډه کنګل کړي او دا ومني چې هرډول مالي شونتیا اوآسانتیاوي دلاندې اشخاصوپه واک کې ورنه کړي: (۱) کوم کس:چې دملګروملتو دامنیت شورا له خوا چې دملګرو ملتو دمنشورپه اووم فصل کې په ګوته شوي دي ، د ملګروملتود دامنیت شورا د ۱۲۶۷ پریکړه لیک ( د۱۹۹۹ تصویب) او راوروسته پریکړه لیکونو :سره په ګوته شوي وي. (۲) یوڅوک اویا سازمان چې دهغه هیواد له خوا د ۱۳۷۳ شمیرې پریکړه لیک(۲۰۰۱) پربنسټ په ګوته کیږي.

2. بایدټینګار وکړي چې په ۲مه سپارښتنه کې دمندرجو احکامو څخه هیڅ یو په دې موخه ندی تدوین شوی چې نور اقدامات یا مکلفیتونه تعویض کړي، کوم چې په ۴ مه سپارښتنه کې د موجودو دجزایي، اداري او مدني اجراأتو او تحقیقاتو پورې ترلو مالي وجوهو او شتمنیو د رسیدګۍ په هکله (ضبط او مؤقت اقدمات): له پخوا نه موجود وي.

### ب) دهغو سازمانو او اشخاصو پیژندنه چې ترهګریز فعالیتونه تمویل اویا یې ملاتړکوي

3. د۱۲۶۷ (۱۹۹۹) شمیرې پریکړه لیک اووریسې نورو په لړکې ،دالقاعدې دپیژندنې چارې په ۱۲۶۷ شمیره کمیټه، دطالبانو اوپر افغانستان دهغوی دګواښونو پیژندنې اوپته لګولوچارې د ۱۹۸۸ شمیرې کمیټې له خواترسره شوې . دواړوکمیټو دملګروملتود منشورله اووم فصل سره سم عمل وکړ. ۱۳۷۳شمیره پریکړه (۲۰۰۱ ) لیک بیا په ملي اوترملي لورو کچو پیژندنو په اړه دهیواد او یاهیوادو دپریکړې ، اویاهم دنورو هیوادو دغوښتنو پراساس عمل کوي کله که یو غوښتنه کونکي هیواد دمرعی الاجرا حقوقي دلایلو پربنسټ باید په دې باورې شي چې په ډاګه شوي معقول لاملونه اوپه ټاکلي کس باندې د۱۳۷۳ شمیرې(۲۰۰۱ ) سره سم دي اویاباید ددغه یادښت د (ج) له برخې سره برابرتیاولري.

4. هیوادونه باید دلاربنود کړنو (طرزالعملونو ) او ګټورو میکانیزمونو واک ولري څو هغه کسان اوسازمانونه چې په ۱۲۶۷ شمیره (۱۹۹۹) اووریسې پریکړه لیکونو کې راغلي وي دامنیت

---

2 طبیعي یاحکمي کس.

3 شپږمه سپارښتنه دټولو اوسنیو او راتلونکو پریکړه لیکونو او ۱۲۶۷ شمیرې(۱۹۹۹)پریکړه لیک اود امنیت شورا بل هرپریکړه لیک چې دترهګرتمویل اوموخه ییزو مالي بندیزونو په اړه وټاکل شي داجرا وړدي. ددغه تفسیري یادښت دصادریدو په وخت(د۲۰۱۲کال فبروري)هغه پریکړه لیکونه چې پر ۱۲۶۷ پریکړه لیک (۱۹۹۹)پسې رامنځ ته شوي په لاندې ډول سره دي: ۱۳۳۳(۲۰۰۰ ) ، ۱۳۶۳(۲۰۰۱ ) ، ۱۳۹۰(۲۰۰۲ ) ، ۱۴۵۲، (۲۰۰۲ ) ، ۱۴۵۵(۲۰۰۳ ) ، ۱۵۲۶(۲۰۰۴ ) ، ۱۶۱۷(۲۰۰۵ ) ، ۱۷۳۰(۲۰۰۶ ) ، ۱۷۳۵(۲۰۰۶ ) ، ۱۸۲۲(۲۰۰۸ ) ، ۱۹۰۴(۲۰۰۹ ) ، ۱۹۸۸(۲۰۱۱ ) ، ۱۹۸۹(۲۰۱۱ ).

4 دغوښتنو پراساس ، دبیلګې په توګه، دناروا سوداګرۍ ، اونشه یي توکوپه اړه دملګروملتو دکنوانسیون(۱۹۸۸مصوب ) کې درج، (دویاناکنوانسیون اودملګروملتو دویرملتي جرمونو(۲۰۰۰مصوب ) ، (دپالیرموکنوانسیون )چې دویرملتیزو جرمونو ، کنټګل، ضبطولو په اړه دي ، برسیره پردې دترهګرتمویل ضد نړیوال کنوانسیون(۱۹۹۹) ، (دترهګرتمویل کنوانسیون)چې دترهګرتمویل، ضبط او کنټګل په اړه دنده لري. دغه دندې له هغو دندو څخه بیلې دي چې په ۲ سپارښتنه او دامنیت شورا په پریکړه لیکونو کې راغلي دي.

شورا دیادشویو پریکړه لیکونو (۱) پراساس په ګوته او دپیژندنې لپاره وړاندې کړي .:داډول صلاحیت او لاربنود کړنې او امنیت شورا ته داشخاصو او سازمانو ورپیژندل چې د امنیت شورا دپریکړو پراساس وي ډیرمهم او دپاملرنې وړدی. هیوادونه باید داشخاصو او سازمانو دپیژندنې او په ښنیه کونې دپیل لپاره دلاربنود کړنو ګټور میکانیزمونه د س /ریس/ ۱۳۷۳ (۲۰۰۱ )پریکړه لید ددندو پراساس وي، هغه چې دامنیت شوراپه دغه پریکړه لیک کې ځای پرځای شوی دي. داډول صلاحیت او لاربنود کړنې دیوه کس او یا سازمان دپیژندنې لپاره چې د ۱۳۷۳ شمیرې (۲۰۰۱ ) پریکړه لیک او ددغه یادښت د (ج ) برخې سره اړوندوي ډیرمهم دي. دیوه هیواد رژیم د ۱۲۶۷ شمیرې پریکړه لیک (۱۹۹۹) او وروسته پریکړه لیکونو او همدارنګه د ۱۳۷۳ شمیرې پریکړه لیک دتطبیق په ترڅ کې باید دالاندې توکونه ولري:

(أ) هیوادونه باید یوه واکمنه اداره او یا یوه محکمه دمسولیتونو دټاکلو په لامل په لاندې ډول ولري:

(i) ۱۲۶۷ کمیټې ته دټاکلو معیارونو لرونکي کسان او سازمانونه وړاندیزکول، هغه چې د امنیت شورا په ۱۹۸۹ شمیرې پریکړه لیک (۲۰۱۱ ) (دالقاعدې په اړه ) او نورو اړوندو پریکړه لیکونو کې ځای پرځای شوی دی. کله که هغه اداره وړ وبولي چې دا کارترسره کړي باید په دې هم باوري وي چې په دغه اړه دپیژندنې لپاره پوره او بشپړلاملونه او معیارونه په واک کې لري ؛

(ii) ۱۹۸۸ کمیټې ته دټاکلو معیارونو لرونکي کسان او سازمانونه وړاندیزکول، هغه چې د امنیت شورا په ۱۹۸۹ شمیرې پریکړه لیک (۲۰۱۱ ) (دطالبانو او هغوی چې له طالبانو سره یوځای دافغانستان د سولې،ثبات او امنیت په ګډوډولو کې سره یولاس دي ) کله که هغه اداره وړ وبولي چې دا کارترسره کړي باید په دې هم باوري وي چې په دغه اړه دپیژندنې لپاره پوره او بشپړلاملونه او معیارونه په واک کې لري ؛ او

(iii) د ۱۳۷۳ پریکړه لیک (۲۰۰۱ ) د ټاکلو او وړمعیارونو سره سم داشخاصو او سازمانو پیژندل چې په خپله دهیواد دتصمیم پراساس او یاهم که ددغې غوښتنې دارزونې او منلو له مخې دبل کوم هیواد په غوښتنه وي،غوښتنه کړي شوی هیواد باید دمرعي الاجرا حقوقي اصولو له مخې په دې باوري شي چې شوې غوښتنه پرمعقولو دلایلو او باوریاندې ولاړه ده چې نومول شوی کس د ۱۳۷۳ شمیرې پریکړه لیک (۲۰۰۱ ) او ددغه یادښت د (ج) برخې پرواجدوشرایطو او معیارونو باندې برابردی.

(ب) هیوادونه باید دمعیارونو پرښسټ موخو دپیژندنولپاره ، چې د ۱۹۸۸ شمیرې پریکړه لیک (۲۰۱۱ ) د ۱۹۸۹ پریکړه لیک (۲۰۱۱ )او اړوندونورو پریکړه لیکونو ( وګورئ دامنیت شورا هغه پریکړه لیکونه چې دټاکلې پیژندنې او په ډاګه کونې د معیارونو په اړه دي ) ټاکلي میکانیزمونه

---

5 دامنیت شورا اړونده پریکړه لیکونه له هیوادونو څخه دا غوښتنه نه کوي چې هیوادونه دې اشخاص او سازمانونه معلوم او هغه د امنیت شورا اړونده کمیټې ته ور وپیژني ، مګر هغوی باید د دې کار د کولو لپاره صلاحیت او اغیزمن میکانیزمونه او طرزالعملونه ولري.

په ډاګه کړي. دغه امر به د لاربښودکړنو اوادارزوني داصولو په لامل ګټور میکانیزمونه دنورودهیوادو دکنګل کولو په لامل له۱۳۷۳ پریکړه لیک (۲۰۰۱) سره سم ترلاس لاندې نیسي. دهیوادو ترمنځ دښې سمبالتیاپه خاطرورده څو هیوادونه باید داومني چې کله له کوم هیواده غوښتنه ترلاسه کوي، باید زر ترزره تصمیم ونیسي چې آیا هغوی دډیرملتیزواصولو له مخې ډاډمن دي چې دغه غوښتنه دباوري دلایلو پربنسټ باوري اودقیقه ده چې ګواکي نوموړی کس د۱۳۷۳ شمیرې پریکړه لیک (۲۰۰۱) اوددغه یادښت د (ج)برخې په معیارونو برابردی.

(ت) واکمن مقامات باید دوګروا وسازمانو په اړه له ټولو اړوندو سرچینو څخه دمعلوماتو دراټولولو ټول هغه معیارونه له ورو میکانیزمونوسره یوځای چې دامنیت شوراپه پریکړه لیک کې خوندي اوپه نښه شوي وي په واک کې ولري.

(ث) هیوادونه دخپل تصمیم پربنسټ چې آیا دتشخیص اوپیژندنې په اړه وړاندیز وکړي اویانه، باید د «معقولودلایلو» یا «معقول اساس» داثبات یو ستندرد وکاروي. دهرهیواد صلاحیت لرونکي مقام د۱۳۷۳ پریکړه لیک په پام کې نیولو سره د تشخیصولو په اړه دخپل حقوقی نظام نورمونه د معقول دلیل او یاهم معقول اساس دتثبیت پراساس دیوه کس اویا یوه سازمان په وړاندې ترلاس لاندې نیسي او دکنګل کولو له میکانیزم سره سم به لاس په کارکیږي. دغه چلندیوازې له دی کبله چې دپشموسسه تشخیص داړوند هیواد دتصمیم پراساس اویادیوه بل هیواددغوښتنې پربنسټ وړاندیزشوي ترسره کیږي. دتشخیص داډول وړاندیز باید دیوشان جزایي اجراآتو پربنسټ وي.

(ج) هیوادونه چې کله ۲۲۷۱ کمیټې ته داشخاصودنومونو دوړاندې کولو وړاندیزکوي چې باید دالقاعدې په لست کې داخل شي ، دوی باید د۱۲۶۷ (۱۹۹۹) پریکړه لیک اونورو وروستې پریکړه لیکونو په پام کې نیولوسره دالاندې تګي هم په پام کې ونیسي:

(i) هغه لاربنودکړنې اودفهرست جوړونې ستندر ډولونه چې د ۱۲۶۷ کمیټې له خوا تصویب شوي وڅارل شي ؛

(ii) دوړاندیزشوو نومونوپه باره کې ، په تیره باید داسې معلومات چې دپیژندنې په برخه کې دقیق اومثبت وي او دیوه کس، ډلې ،موسسې اوسازمان په اړه باید دومره باوري وي چې دهغو پربنسټ کیدای شي انترپول ته هم یوځانګړي یادښت برابرشي؛

(iii) دقضیې بهیر چې دفهرست جوړونې په برخه کې دځانګړومطالبوبرابرونکي دی باید دلاندې مطالبوپه برابرولوکې هم هڅه وکړي: دیوه کس په باره کې دتصمیم نیولوپه اړه دخاصومعلوماتوبرابرول چې پرشرایطو برابروي(وګورۍ ددغې برخې تفسیري یادښت چې دامنیت شورادځانګړي پریکړه لیک دمعیارونو په اړه دي) داطلاعاتو ماهیت، دهغو اسنادوپراساس معلومات چې برابریدای شي او د وړاندیزشوي کس اویاپیژندل شوي اوسني سازمان په اړه پوره جزیات،دپیښې دبیان دغه بهیربایدد۱۲۶۷ کمیټې دغوښتنې پراساس دخپریدو وړوي، پرته له هغوبرخوچې دغړي هیواد له خوابه پټ وي؛ او

(iv) په ګوته کړي چې دهغوی وضعیت دیوه تشخیص کوونکي هیواد په توګه کیدای شي په ډاګه شي.

(ح) دامنیت شورا د ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) پریکړه لیک او ورپسې پریکړه لیکونو سره سم د ۱۹۸۸ کمیټې ته د طالبانو د بندیزونو په لست کې د نومونو د شاملولو لپاره باید هیوادونه:

(i) د فهرست جوړولو هغه طرزالعمل چې د ۱۹۸۸ کمیټې له خوا جوړ شوی تعقیب کړي ؛

(ii) د وړاندې شوو نومونو په هکله پوره معلومات، په تیره بیا د هویت تثبیت کوونکي معلومات وړاندې شي تر څو د هغو په مرسته د اشخاصو، ډلو، موسسو او سازمانونو د هویت پیژندنه او تثبیت ممکن شي چې دا معلومات د انترپول له خوا د خاص یادښت د صادرولو لپاره ضروري دي؛ او

(iii) د قضیې د بیان صورت چې په لست کې د نوم د شاملولو د اساساتو او دلایلو جزئیات لري لاندې مطالب هم شامل وي: داسې خاص معلومات چې د یوه شخص یا یوه سازمان د تشخیص کولو د پریکړې د نیولو د ملاتړ لپاره اړونده دلایل ولري(د امنیت شورا د اړونده پریکړه لیک د څانګړو معیارونو لپاره ددې تفسیري یادښت د (ج) برخې ته مراجعه وکړئ)؛ د اطلاعاتو ماهیت؛ هغه معلومات یا اثباتیه اسناد چې راټولول یې ممکن وي، او د تشخیص شوي شخص او اوس پیشموسسه شوی شخص تر منځ د هر ډول اړیکې په باب جزئیات. د۱۹۸۸ کمیټې ته دا سپارل شوی د قضیې صورت د غوښتنې په صورت کې د خپریدو وړ وي، مګر دا چې ځینې برخې یې د غړي هیواد له خوا محرمې ګڼل شوې وي ؛

(خ) له نورو هیوادونو څخه دهغو کړو وړو دمنلو په مخه چې دکنګل کیدو په لامل پرمخ بیول کیږي، او دهغو میکانیزمونو پربنسټ چې د ۱۳۷۳ پریکړه لیک پربنسټ عملي شوي وي،اوهیواد په دغه برخه کې څه وکړي، باید په لاندې برخوکې خپل معلومات په ګوته کړي: دوړاندیزشوي شخص نوم ، دوګړو او سازمانودپیژندنې په لامل دقیق معلومات اودیوه شخص اویا سازمان دملاتړ په اړه پرمعیار برابرمعلومات (وګورئ ددغه تفسیري یادښت د ج برخه اود امنیت شورا اړوند پریکړه لیکونه).

(د) هیوادونه باید داسې لاربنودکرنې ولري چې دهغوپربنسټ دیوه کس اویایوه سازمان چې په جرم تورن پیژندل شوی وي اووړاندیز یې تربحث لاندې وي له یوه پلوه عمل وکړي.

## ت) د تشخیص شوو اشخاصو او سازمانونود مالي وجوهو او شتمنیو کنګلول او د معاملو منع کول ،

5. هیوادونه دنده لري چې موخه بیز مالي بندیزونه پرته له ځنډه دهغو اشخاصواوسازمانو پرضد چې د ۱۲۶۷ او۱۹۸۸ کمیټو (د ۱۲۶۷ (۱۹۹۹)پریکړه لیک اوورپسې پریکړه لیکونوپه باره کې ) دملګروملتو دمنشور داووم فصل له حکمونوسره سم په نښه شوي وي تطبیق کړي. ۱۳۷۳ (۲۰۰۱) پریکړه لیک دهغوپریکړو اوتصمیمونوپه اړه دی چې دوګړو اوسازمانو د شتمنیواوکنګل کولو په برخه کې چې په یوه لوړه ملي کچه په خپله دهیواد اویانورو هیوادوپه غوښتنه وي پیل کیږي، کله چې غوښتنه شوې

هیواد دخپلو اړوندو حقوقي اصولو له مخې داده وي چې دغه ادعا یې دمعقولو دلایلو پربنسټ ده او په نښه شوی کس د ۱۳۷۳ شمیرې پریکړه لیک اوددغه یادښت د (ج ) برخې پرمعیارونو باندې برابردی.

6. هیوادونه باید ور حقوقي واک رامنځ ته کړي او واک لرونکي کورنۍ مقامونه چې د موخه بیزومالي بندیزونو دلګولو اوتطبیق کولو واک لري باید هغه له لاندې لاربنودکړنو او نورمونو سره سم عملي کړي:

(أ) هیوادونه: باید ور حقوقي واک رامنځ ته کړي او واک لرونکي کورنۍ مقامونه چې د موخه بیزومالي بندیزونو دلګولو اوتطبیق کولو واک لري باید هغه له لاندې لاربنودکړنو اونورمونوسره سم عملي کړي دغه دنده اومکلیفیت باید لاندې پانګې اوشتمنې راونغاړي: ټولې پانګې اونورې شتمنۍ چې دپیژندل شویو اشخاصو څخه غصبي اویاترڅارنې لاندې نیول کیږي، خو چې یوازې په یوه عمل ، دسیسه اویاټاکلي ترهګر ګواښ باندې باید محدودې نه شي. پانګې اویانورې شتمنۍ چې د تورنو وګړو اویاسازمانو له خوا په بشپړه اویا تریوه حده په مستقیم اویا غیرمستقیم ډول ترڅاراویاضبط لاندې راځي اویاداشخاصواوسازمانو شتمنۍ چې ددغواشخاصواویاسازمانو په استازیتوب عمل کوي.

(ب) هیوادونه باید خپلواوسیدونکو ، سازمانو هغه چې ددوی په حوزه کې دی داووایي چې هغوی چې په جرمونو تورن پیژندل شوي وي بایدله نوموړو اشخاصواوسازمانو څخه په مستقیم اوغیرمستقیم ډول له مالي مرستو ورکولو څخه ډډه وکړي هغه سازمانو نه چې دپیژندل شویو سازمانوله خوا په مسیتقیمه اوغیرمستقیمه توګه ترڅارنې لاندې واقع کیږي، اویا هغه سازمانونه اووګړي چې په جرم تورنو وګړو او یاسازمانو په مستقیمه لاربنونه باندې عمل کوي، اویاداچې باید دامنیت شورا دپریکړه لیکونوپربنسټ (وګورۍ ددغه تفسیریادښت دج برخه ) داجازې لرونکي وي اویایې په کوم بل ډول له پخوا خبرتیا ترلاسه کړي وي.

(ت) هیوادونه باید داسې میکانیزمونه ولري چې مالي سکتور اوټاکلي غیرمالي حرفه یی شرکتونه دداسي اشخاصو له پیژندنې سره سم خبرکړل شي اوهغوی په تیره بیا مالي موسسې اونور کسان اوسازمانونه، د شرکتونو اوغیرمالي حرفه یي ارګانوپه ګډون باید هغه شتمنۍ اوپانګې چې ترپورتنې پوښتنې لاندې راځي په خپل واک کې ولري، اودهغو په باره کې باید یولړلارې چارې چې دلاربښونې اوکنګل کولو په میکانیزمونو باندې ولاړې وي هم ترلاس لاندې ونیسي.

(ث) هیوادونه باید له مالي موسسو اومشخصوغیرمالی شرکتونواو حرفو: څخه وغواړي چې دشتمنیوکنګل کول اویانوراقدامات چې دامنیت شورا دبندیزله قوانینواوپریکړو دهغو

---

6 داروپایی اتحادیې په هکله چې د ملي کچې نه لوړه د صلاحیت یوه حوزه ده ،په ۲ سپارښتنه کې د اروپایی اتحادیی قوانین داسې تطبیقیږي . د تشخیص شوو اشخاصو او موسسو شتمنۍ د اروپا د اتحادیی د قوانینو او مقرراتو سره سم کنګل کیږي. د اروپایی اتحادیې غړي کولی شي د کنګل کولو د پریکړې د ترسره کولو لپاره اضافي تدابیر هم ونیسي اود اروپایی اتحادیی ټول طبیعي او حکمي اشخاص باید د کنګل کیدنې شرایط مراعات کړي او دې شتمنیو ته د تشخیص شوو اشخاصو د لاسرسی مخه ونیسي.

7 دامنیت شورا پریکړه لیکونه په هیواد کې دتنه دټولو طبیعی اوحکمي کسانو په اړه صدق کوي.

دبانکي راکړو ورکړو په ګډون ترسره شوي وي اړوندو مقاماتو ته خبورکړي اوداورسره ومني چې دا ډول معلومات باید دواکمنو مقاماتو له خوا په ګتوره توګه وکارول شي.

(ج) هیوادونه باید ټول هغه مکلیفیتونه چې د ۲ مې سپارښتنې پربنسټ دي او په هغوکې ددریم اړخ دښه نیت (bona fide)کره وره چې په ایمانداري سره ترسره کیږي په ګټوره توګه په پام کې ونیسي.

## ث) له فهرست نه لیرې کول، غیرمنجمد کول او کنګل شوو پیسو او نورو شتمنیو ته لاسرسئ ورکول

7. هیوادونه باید دوګرو اوسازمانو لپاره عامې لاربنود کړنې چې دهغو له مخې له امنیت شوراڅخه هیله کیږي څو دهغوی نومونه له هغه فهرسته چې د ۱۲۶۷ (۱۹۹۹) شمیرې پریکړه لیک اوورپسې پریکړه لیکونو پربنسټ په نښه شوي خودنورو هیواد له نظره هغوی دپه نښه کیدو اوپه لست کې راتلو په واجدو شرایطو برابرنه دي تطبیق کړي. په داسې حال کې چې ۱۲۶۷ اویاهم ۱۹۸۸ کمیټه یوځوک اویا یوسازمان له فهرسته غورځوي دهغوی په وړاندې دکنګل کولو بل لامل په منځ کې نشته. دالقاعدي دحذف کولو دغوښتنو په اړوند باید داسې لاربنودکړنې اومعیارونه چې د۱۲۶۷ کمیټې او امنیت شورا د۱۷۳۰ (۲۰۰۶)،۱۷۳۵ (۲۰۰۶)،۱۸۲۲ (۲۰۰۸)، ۱۹۰۴ (۲۰۰۹)، ۱۹۸۹ (۲۰۱۱)اونورو بیلابیلو پریکړه لیکونو پراساس وي تطبیق کړي . دطالبانو اودهغود ګوابنونو په اړه چې دافغانستان ثبات ، امنیت اوسولې ته متوجه دي باید ورته لاربنودکړنې او معیارونه د ۱۹۸۸کمیټې اود امنیت شورا د۱۷۳۰ (۲۰۰۶)، ۱۷۳۵(۲۰۰۶)، ۱۸۲۲(۲۰۰۸)، ۱۹۰۴(۲۰۰۹)، ۱۹۸۸(۲۰۱۱) او نورو پریکړه لیکونو پراساس وي.

8. هیوادونه دهغو اشخاصواوسازمانو لپاره چې د ۱۳۷۳ (۲۰۰۱)پریکړلیک سره سم په نښه شوي باید لازم حقوقي صلاحیتونه،لاربنودکړنې اویا میکانیزمونه له فهرسته دلرې کولو اویادهغوی دپانګو اوشتمنیو دنه کنګل کولو په لامل اویاداچې دتشخیص اوپه نښه کیدو لپاره برابر نه دي رامنځ ته کړي. هیوادونه همدارنګه باید داسې لاربنودکړنې ولري څو دا شونتیارامنځ ته کړي او دا واک ولري چې یوتشخیص دغوښتنې په حال کې دیوې محکمې اویا بل واک لرونکي خپلواک مقام له خوا په خپلواکه توګه وارزول شي.

9. هیوادونه دهغو اشخاصواویاسازمانو لپاره چې له یوشمیراشخاصواوسازمانو سره یوشان او ورته نومونه لري اوپه غیرقصدي توګه له یوه کنګل شوي میکانیزم څخه (دبیلګې په توګه مثبت ویا کاذب، سم اویا سم )اغیزمن شوي وي ، باید په دغه اړوند عام لاربنودکړن په دې لامل چې د داسې اشخاصو او سازمانو پانګې او شتمنۍ باید په خپل وخت له هغه وروسته چې ثابته شوه چې نوموړی کس اویا سازمان په تور لست کې نه دی طرح اود تطبیق ډګرته راوباسي.

10. کله چې هیوادونو ثابته کړه چې داشخاصواو سازمانو کومې پانګې او دارایي چې دامنیت شورا اویا نورو اړوندو کمیټو چې په بندیزونوپورې اړوندې دي له خوا په نښه اویا ضبط شوي وي کیدای شي دبیلابیلو ټاکلو فیسونو، خرڅونو اوخدمتونو اویا فوق العاده خرڅونو لپاره چې اړین وي باید د ۱۴۵۲ (۲۰۰۲) پریکړه لیک اونورووروپسې پریکړه لیکونوپربنسټ دا اجازه ولري چې له هغوڅخه کاروا خلي.


© ۲۰۱۳

دهمدغه لامل له مخې هیوادونه باید ددې واک ولري چې خودهغو اشخاصواوسازمانو پانګې او شتمنۍ چې دډیرملتیز تصمیم او د۱۳۷۳ (۲۰۰۱) او ۱۹۲۳ (۲۰۱۰) پریکړه لیکونو پراساس په ډاګه او تشخیص شوي وي تفویض کړي.

11. هیوادونه باید داسې میکانیزم رامنځ ته کړي چې دهغه له مخې په نښه شوي کسان دخپل دغه تور په وړاندې داعتراض غږ پورته کړي، اوهغه دیوې ارزونې په موخه یوه واکمن مقام اویامحکمې ته وررسوي.دهغو په نښه شویو اشخاصوپه باره کې چې دالقاعدې په لست کې نیول شوي ، هیوادونه باید له ۱۹۰۴ (۲۰۰۹) پریکړه لیک سره سم دهغو اشخاصو اوسازمانونه نومونه د نیاو (عدالت) په موخه لیکي، هغوی باید ددغه عدالت دپلي کولواویا له لست څخه دلرې کولو له بهیرڅخه دملګروملتودفتر خبرکړي.

12. هیوادونه باید داسې میکانیزمونه ولري چې دهغو په وسیله مالی سکتوراو شرکتونه اوتاکلې مالي حرفې دنوم حذف کولو اودپانګو اونوروشتمنیودنه کنګل کولو له تصمیم څخه پرته له ځنډه خبرکړي، چې داچلند به له ځنډه پرته دمالي ارګانو،نورو اشخاصواوسازمانو ، دشرکتو اوټاکلیوغیرمالي حرفو لپاره چې کیدای شي ددغوترهدف لاندې پانګواویانورو شتمنیوخاوندان هم وي، دهغو دمکلیفیتونو په پام کې نیولوسره چې هغه دنومونودحذف اوپانګې نه کنګل کول دي هغوی ته په درناوي سره بشپړې لارښوونې برابرې کړي.

## ج) دملګرو ملتودپیژندنې یاتشخیص معیارونه

13. دامنیت شورا په پریکړه لیکونوکې خوندي شوي معیارونه په لاندې ډول سره دي:

(أ) (ا) دامنیت شورا ۱۲۲۷ (۱۹۹۹)، ۱۹۸۹ (۲۰۱۱) اوپردغو پریکړه لیکونو پسې نور پریکړه لیکونه.:

(i) هرڅوک او یاسازمان چې له القاعدې ملاترکوي اودهغو لپاره دتمویل ، پلان جوړوي، آسانتیاوې برابروي، له هغوی سره دهغوی په فعالیتوکې مرسته کوي، دهغوی په استازیتوب چیرې برخه اخلي،دهغوی لپاره وسلې اونوراړوند مواد برابروي، پرهغوی یې پلوري اویایې ورلیږدوي، دهغو لپاره یوشمیرکسان ګماري اویا په بل ډول په القاعدې اړوند سازمان اودهغو دکومې څانګې دپټو فعالیتو ملاترکوي:؛ یا

8 شپږمه سپارښتنه داوسنیوتولو اوراتلونکو پریکړه لیکونو پر ۱۲۲۷ (۱۹۹۹) پریکړه پسې داجرا وړدې ددغه تفسیري یادښت دصادریدو په وخت کې (د۲۰۱۲ کال فبروري) پر ۱۲۲۷ (۱۹۹۹) پریکړه لیک پسې نور پریکړه لیکونه په لاندې ډول سره دي ۱۳۳۳ (۲۰۰۰) ، ۱۳۲۷ (۲۰۰۱) ، ۱۳۹۰ (۲۰۰۲) ، ۱۴۵۵ (۲۰۰۳) ، ۱۵۲۲ (۲۰۰۴) ، ۱۲۱۷ (۲۰۰۵) ، ۱۷۳۵ (۲۰۰۲) ، ۱۷۳۵ (۲۰۰۲) ، ۱۸۲۲ (۲۰۰۸) ، ۱۹۰۴ (۲۰۰۹) ، ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) ، ۱۹۸۹ (۲۰۱۱).

9 د۱۲۱۷ (۲۰۰۵) شمیرې پریکړه لیک په ۲ پراګراف کې له القاعدې او اسامه بن لادن سره د«اړیکو» په اړه ټول تعریفونه او معیارونه په ډاګه شوي دي.

(ii) هره هغه اداره چې دیوه کس اویایوه سازمان هغه چې د ۱۳برخې ، (ا ) فقرې او (i) بند سره سم په مستقیمه اوغیرمستقیمه توګه، دهغواشخاصوله خوا چې دهغوی په استازیتوب اویا مستقیمه لارښونه عمل کوي اداره کیږي.

(ب) د امنیت شورا ۱۲۲۷ (۱۹۹۹)، ۱۹۸۸ (۲۰۱۱) او پر دغو پریکړه لیکونو پسې نور پریکړه لیکونه:

(i) هرهغه کس اویا سازمان چې دافغانستان سولې ، ثبات اوامنیت په برخه کې دطالبانو دګواښونو، تمویل ، پلان جوړونې، آسانتیاوو برابرولو، مرستې اوفعالیتو ، دهغوی په استازیتوب په غونډوکې برخه اخلي ،په بیلابیلو نورو هڅو لکه هغوی ته په وسلوبرابرولو اونورو اړونډو فعالیتو کې برخه اخلي ، هغو ی ته یې ورلیږدوي اویا په نورو بڼوله هغوی سره مرستې کوي ؛ یا

(ii) هره هغه اداره چې دیوه شخص اویایوه سازمان هغه چې د ۱۳برخې ، (ا ) فقرې او (i) بند سره سم په مستقیمه اوغیرمستقیمه توګه، دهغواشخاصوله خوا چې دهغوی په استازیتوب اویا مستقیمه لارښونه عمل کوي اداره کیږي.

(ت) د امنیت شورا ۱۳۷۳ (۲۰۰۱) پریکړه لیک :

(i) هر شخص یاسازمان چې د ترهګر عمل مرتکب شي او یا د هغه هوډ ولري یا د ترهګریز عمل په ارتکاب کې برخه واخلي یا هغه ته آسانتیاوې برابرې کړي؛

(ii) هر سازمان چې ددې برخې د ۱۳ پارګراف د (ت) فقرې په (i) بند کې د مندرجو سازمانونو یا اشخاصو له خوا په مستقیمه او یا غیر مستقیمه توګه کنترول یا تصاحب شوی وي ؛ یا

(iii) هر شخص یا سازمان چې د ۱۳ پارګراف د (ت) فقرې په (i) بند کې د مندرجو سازمانونو یا اشخاصو په استازیتوب او یا د هغوی تر لارښودنه لاندې عمل کوي.


© ۲۰۱۳

## د اوومې سپارښتنې په باره کې تفسیري یادښت
## (د وسلو د خپرښت اړوند موخه ایز مالي بندیزونه)

### الف) موخه

1. د ۷ سپارښتنې له مخې هیوادونه مکلف دي چې موخه ایزمالي بندیزونه..: د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د پریکړه لیک سره سم ترسره کړي او سمدلاسه پیسې او یا نورې شتمنۍ کنګل کړي تر څو دا امر تأمین شي چې هیڅ ډول مالي وجوه او یا شتمني د یوه شخص او یا سازمان..: په اختیار او ګټه اخیستنې کې پاتې نه شي کومې چې د ملګرو ملتونو د منشور د اتم فصل او د امنیت شورا د پریکړه لیکونو له مخې د عامه وژونکو وسلو د خپریدو د مخنیوي پر اساس تشخیص شوي وي..:.

2. باید ټینګار وشي چې د اوومې سپارښتنې له مقتضیاتو څخه هیڅ یوه هم په دې موخه نه دي طرحه شوې چې تر پلټنې یا جزایي اجراأتو لاندې مالي وجوهو او شتمنیو په هکله هغه اقدامات یا دندې تعویض کړي کومې چې په نړیوالو معاهدو یا د ډله ایزې وژنې د وسلو د نه خپریدو..: په باب د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا په پریکړه لیکونو کې تاکل شوي وي. د ۷ سپارښتنې پاملرنه د وقایوي تدابیرو په هکله ده چې د خپروونکو او خپرښت لپاره د مالي وجوهو او شتمنیو د رسیدلو مخنیوی کوي او لکه څنګه چې د ملګرو ماتونو د امنیت شورا غوښتنه کوي.

### ب) تشخیص

3. تشخیص د امنیت د شورا له خوا د اړونده پریکړه لیکونو په ضمایمو کې تاکل کیږي، یا هم د امنیت شورا د هغو کمیټو له خوا ترسره کیږي، کومې چې ددې پریکړه لیکونو په اړوند جوړې شوې وي. د ملګرو ملتونو غړي هیوادونه د تشخیص په هکله د امنیت شورا اړونده کمیټې ته دکوم خاص وړاندیز د

---

10 اووم نمبر سپارښتنه د موخه ایزو مالي بندیزونو په هکله ده. اما باید په پام کې وساتل شي چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا اړونده پریکړه لیکونه تر دې لا هم پراخه دي او نور بندیزونه (لکه د سفر کولو بندیز) او نور مالي احکام (د مالي فعالیتونو بندیز او د بیدارۍ احکام) هم پکې شامل دي د نورو مالي تدابیرو په هکله FATF غیرالزامي لارښودنې وضع کړیدي کومې چې قضایي مقامات دې ته هڅوي چې هغوی د امنیت د شورا د اړونده پریکړه لیکونو په تطبیق کې په پام کې وساتي. د عامه وژنې د وسلو د خپریدو د تمویل په برخه کې د موخه ایزو بندیزونو په هکله هم FATF غیرالزامي لارښودنې وضع کړیدي کومې چې قضایي مقامات دې ته هڅوي چې هغوی د امنیت د شورا د اړونده پریکړه لیکونو په تطبیق کې په پام کې وساتي.

11 طبیعي یا حکمي شخص.

12 اووم نمبر سپارښتنه د ډله ایزې وژنې د وسلو د انتشار د تمویل په برخه کې د موخه ایزو بندیزونو د لګولو په باب د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ټولو پریکړه لیکونو په برخه کې د تطبیق وړ ده. دا سپارښتنه به همدا راز د پورتنیو پریکړه لیکونو د تعدیلاتو او د ډله ایزې وژنې د وسلو د انتشار د تمویل په برخه کې د موخه ایزو مالي بندیزونو د راتلونکو پریکړه لیکونو په هکله به هم د تطبیق وړ وي. ددې سپارښتنې د تصویب په مهال (د ۲۰۱۲ کال د فبرورۍ میاشت) د ملګرو ملتونو د امنیت شورا دا لاندې پریکړه لیکونه د عامه وژنې د وسلو د خپرښت د تمویل په برخه کې د موخه ایزو بندیزونو د لګولو په باب د تطبیق وړ دي: ۱۷۱۸(۲۰۰۶)، ۱۷۳۸ (۲۰۰۶)، ۱۷۴۷(۲۰۰۷)، ۱۸۰۳(۲۰۰۸)، ۱۸۷۴(۲۰۰۹) و ۱۹۲۹(۲۰۱۰).

13 د مندرجو مقتضیاتو سره سم، د مثال په توګه: د اتمي وسلې د نه خپریدو تړون، د بیولوژیکي او زهري وسلو کنوانسیون، د کیمیایي وسلو کنوانسیون، او د امنیت شورا ۱۵۴۰ (۲۰۰۴) پریکړه لیک. دا دندې په جلا توګه قانونیت لري او د دریم نمبر سپارښت او د هغه د تفسیري یادښت له دندو څخه مجزا دي.

وراندی کولو مکلفیت نلري. خو په عمل کی دا کمیټې په لومړي سرکې تشخیص په برخه کی د غړو هیوادونو وراندیز ته اړ دي د امنیت د شورا ۱۷۱۸ (۲۰۰۲) او ۱۷۳۷ (۲۰۰۲) پریکړه لیکونه حکم کوي چې اړونده کمیټې باید د ضرورت په صورت کې په دی پریکړه لیکونو کې د شاملو اقداماتو د تطبیق د آسانتیا لپاره لاربنود لیکونه خپاره کړي.

4. هیوادونه کولی شي د یوې اداری جوړول او همداراز د امنیت شورا ته د اړونده پریکړه لیک سره سم دتشخیص لپاره داشخاصو او موسساتو دمعرفی کولو طرزالعملونه او میکانیزمونه په نظر کی و نیسي کوم به چې د ډله ایزې وژنی د وسلو د خپرښت د تمویل په برخه کی د موخه ایزو بندیزونو د لګولو صلاحیت ولری. په دی برخه کی هیوادونه کولی شي لاندې تکي په پام کی ولري:

(أ) د یوه یا څو اجرایي یا قضایي ادارو ټاکل چې لاندې دندې ولري:

(i) د ۱۷۱۸ د بندیزونو کمیټی ته د تشخیص لپاره د ۱۷۱۸ (۲۰۰۲) پریکړه لیک[14] او تر هغه وروسته پریکړه لیکونو له مندرجو معیارونو سره د برابرواشخاصو او سازمانونو پیشنهو سسهول ، په هغه صورت کې چې دا اداره ددی کار د ترسره کولو پریکړه وکړي او د تشخیص د معیارونو لپاره پوره شواهد ولري (د امنیت د شورا د اړوندو پریکړه لیکونو د تشخیص د ځانګړو معیارونو لپاره د (ج) برخې ته رجوع وکړی ).

(ii) د ۱۷۳۷ د بندیزونو کمیټی ته د تشخیص لپاره د ۱۷۳۷ (۲۰۰۲) پریکړه لیک[15] او تر هغه وروسته پریکړه لیکونو له مندرجو معیارونو سره د برابرواشخاصو او سازمانونو پیشنهو سسهول ، په هغه صورت کې چې دا اداره ددی کار د ترسره کولو پریکړه وکړي او د تشخیص د معیارونو لپاره پوره شواهد ولري (د امنیت د شورا د اړوندو پریکړه لیکونو د تشخیص د ځانګړو معیارونو لپاره د (ج) برخې ته رجوع وکړی).

(ب) د تشخیص د موخو د ټاکلو لپاره د یوه او یا ډیرو داسې میکانیزمونو موجودیت چې د ۱۷۱۸ (۲۰۰۲)، ۱۷۳۷ (۲۰۰۲) پریکړه لیکونواو د هغوی دځای نیونکو پریکړه لیکونو د تشخیص د احکامو پر اساس ولاړ وي (د امنیت د شورا د اړوندو پریکړه لیکونود تشخیص د ځانګړو معیارونو لپاره د (ج) برخې ته رجوع وکړی). دا طرزالعملونه باید دا امر تأمین کړي چې یو تشخیص د معقولو اساساتو او مستدلو دلایلو له مخی د نړیوالو اصولو سره سم ترسره شوی دی.

(ت) له ټولو اړونده منابعو څخه تر اعظمی ممکن حد پوری د معلوماتو د راټولولپاره ، دقانونی واک او لازمو طرزالعملونو او میکانیزمونو لرل تر څو د معقولو او مؤثقو اساساتو له مخی چې

---

14 اووم نمبر سپارښتنه تر ۱۷۱۸ (۲۰۰۲) وروسته د ټولو اوسنیو او راتلونکو پریکړه لیکونو په هکله د اجرا وړ ده. ددی تفسیري یادښت د صدور په مهال (د ۲۰۱۲ کال فبروري) د ۱۷۱۸ (۲۰۰۲) پریکړه لیک تعقیبي پریکړه لیک ۱۸۷۴ (۲۰۰۹) دی.

15 اووم نمبر سپارښتنه تر ۱۷۱۸ (۲۰۰۲) وروسته د ټولو اوسنیو او راتلونکو پریکړه لیکونو په هکله د اجرا وړ ده. ددی تفسیري یادښت د صدور په مهال (د ۲۰۱۲ کال فبروري) د ۱۷۳۷ (۲۰۰۲) پریکړه لیک تعقیبي پریکړه لیکونه ۱۷۴۷ (۲۰۰۷)، ۱۸۰۳ (۲۰۰۸) و ۱۹۲۹ (۲۰۱۰) پریکړه لیکونه دي.


© ۲۰۱۳

د امنیت د شورا د اړونده پریکړه لیکونو د احکامو سره مطابقت ولري، یو شخص یا سازمان تشخیص شي.

(ث) د (ج) په برخه کې د مندرجو معیارونو په نظر کې نیولو سره باید پریکړه وشي چې آیا د یوه تشخیص وړاندیز وشي او که نه. د هر هیواد با صلاحیته مقامونه د تشخیصونو د وړاندیز په مهال باید د خپل حقوقي نظام معیارونه او همدا راز د بشر حقوق ، د قانون د حاکمیت درناوئ او د درېمې بیګناه خواه د حقوقو رعایت په نظر کې وساتي.

(ج) د بندیزونو ۱۷۱۸ کمیټې ته د ۱۲۱۸ (۲۰۰۲) پریکړه لیک له مخې او د بندیزونو ۱۷۳۷ کمیټې ته د ۱۷۳۷(۲۰۰۲) پریکړه لیک له مخې ، د نوموړو د وړاندې کولو په مهال باید د لاندې مواردو په باب تر ممکنه حده جزیئات وړاندې شي:

(i) وړاندیز شوی نوم ، او په خاصه توګه په کافي اندازه د هوئت معلومات چې د اشخاصو او سازمانونو پیژند نه تثبیت شي؛ او

(ii) داسې حمایتي معلومات باید وړاندې شي چې د یوه شخص یا سازمان د تشخیص کولو د اړونده شرایطو سره مطابقت ولري (ددې یادښت د (ج) برخې ته د امنیت شورا د اړونده پریکړو د تشخیص شرایطو ته مراجعه وکړئ).

(ح) د داسې طرزالعملونو موجودیت، د کومو له مخې چې د ضرورت په وخت کې د داسې یوه شخص یا سازمان په هکله چې پیژندل شوی وي او د هغه د تشخیص وړاندیز تر څیړنې لاندې وي ، په یو اړخیزه توګه پریکړه وکړای شي.

## ت) د تشخیص شوو اشخاصو او سازمانونو د مالي وجوهو او شتمنیو کنګلول او د معاملو منع کول

5. هیوادونه مکلف دي چې بیله ځنډه پر هغو اشخاصو او سازمانونو باندې پر موخه ایز مالي بندیزونه ولګوي کوم چې په لاندې مواردو کې تشخیص شوي وي:

(أ) د امنیت د شورا د ۱۷۱۸ (۲۰۰۲) پریکړه لیک او تر هغه وروسته اړوندو پریکړه لیکونو د ضمایمو له مخې او یا هم د امنیت د شورا د ۱۷۱۸ د بندیزونو د کمیټې له خوا ؛ او

(ب) د امنیت د شورا د ۱۷۳۷ (۲۰۰۲) پریکړه لیک او تر هغه وروسته اړوندو پریکړه لیکونو د ضمایمو له مخې او یا هم د امنیت د شورا د ۱۷۳۷ د بندیزونو د کمیټې له خوا

کله چې دا کمیټې د ملګرو ملتونو د منشور د اووم فصل د احکامو سره سم عمل کوي.

6. هیوادونه باید لازم حقوقي مقام رامنځته کړي او د لاندنیو نورمونو او طرزالعملونو سره سم داسې کورني صلاحیت لرونکي مقامات وټاکي، کوم چې د موخه ایزو مالي بندیزونو د لګولو دنده ولري.


© ۲۰۱۳

(أ) هیوادونه" باید په خپله خاوره کې له ټولو طبیعي او حکمي اشخاصو څخه دا غوښتنه وکړي چې د تشخیص شوو اشخاصو او سازمانونو مالي وجوه او نورې شتمنۍ بیله ځنډه او بیله مخکیني خبرداري کنګل کړي . لاندې وجوه او شتمنۍ د دې دندې په ساحه کې شاملې دي؛ ټولې پیسې او شتمنۍ چې د تشخیص شوو اشخاصو له خوا تصاحب یا کنټرولیږي، نه دا چې یوازې په یوه عمل، دسیسه او یا دخپرښت په ګواښ پورې اړونده وجوهو باندې بسیا وشي ؛ مالي وجوه او نورې شتمنۍ چې د تشخیص شوو اشخاصو له خوا په خپلواکه او یا شریکه توګه تر مستقیم او یا غیر مستقیم تصاحب یا کنټرول لاندې وي ؛ او هغه پیسې او شتمنۍ چې له هغو پیسو او شتمنیو څخه سرچینه اخلي کومې چې په مستقیمه او یا غیر مستقیمه توګه د تشخیص شوو اشخاصو له خوا تصاحب یا کنټرولیږي ، او همداراز د هغو اشخاصو او یا سازمانونو پیسې او شتمنۍ چې د تشخیص شوو اشخاصو په استازیتوب او یا د هغوی په لارښوونه عمل کوي.

(ب) هیوادونه باید دا امر تأمین کړي چې په خپله خاوره کې د اتباعو یا سازمانونوله خواد تشخیص شوو اشخاصو لپاره یا د هغوپه ګټه دمالي وجوهو او شتمنیو د برابرولو مخنیوئ وشي، مګر داچې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د پریکړه لیک سره سم (ددې تفسیري یادښت د (ج) برخې ته مراجعه وکړۍ) لایسنس یا اجازه نامه ولري او یا بل ډول ورته ابلاغ شوی وي.

(ت) هیوادونه باید داسې میکانیزمونه ولري چې مالي موسسې او مشخص غیرمالي شرکتونه اویا مسلکونه (DNFBP) د دې اقداماتو په مهال بیله ځنډه خبر کړي او هغو ته ، په تیره بیا مالي موسسو او د (DNFBP) په شمول نورو اشخاصو او سازمانونو ته چې ښایي تر موخې لاندې پیسې او یا نورې شتمنۍ ورسره وي د د کنګل کولو د میکانیزم په وړاندې د هغوی د مکلفیتونو په باب لارښوونه او توضیحات ورکړل شي.

(ث) هیوادونه باید له ملي موسسو او مشخصو غیرمالي شرکتونو اویا مسلکونو (DNFBP)" نه وغواړي چې صلاحیت لرونکو مقاماتو ته د کنګل شوو مالي وجوهو او یا د هر بل اقدام په هکله چې د امنیت د شورا د پریکړه لیک د ممانعتي مقتضیاتو اړوند تر سره شوی وي رپوټ ورکړي ، او دا امر تأمین کړي چې دا معلومات د صلاحیت لرونکو مقاماتو له خوا په اغیزمنه توګه کارول کیږي.

16 د اروپا د اتحادیې (EU) په هکله ، چې د FATF د اووم نمبر سپارښتنې له مخې تر ملي کچې پورته د صلاحیت یوه حوزه بلل کیږي، د تشخیص شوو اشخاصو او سازمانونو شتمنۍ د اروپا د اتحادیې د (تعدیل شوو) مقرراتو له مخې کنګل کیږي. ددې اتحادیې غړي هیوادونه کولی شي د ضرورت په صورت کې د کنګل کولو اضافي اقدامات ترسره کړي، او د اروپا د اتحادیې ټول طبیعي او حقوقي اشخاص باید دې مالي کنګل کولو ته احترام وساتي او مالي وجوه تشخیص شوو اشخاصو او یا سازمانونو ته ورنه کړي.

17 د امنیت د شورا پریکړه لیکونه د یوه هیواد پر ټولو طبیعي او حکمي اشخاصو د تطبیق وړ دي.

(ج) هیوادونه باید د اووم نمبر سپارښتنې د دندو د تطبیق په مهال د دریمو اړخونو چې په ایمانداري سره فعالیت کوي د (bona fide) دحقوقو د خوندیتوب لپاره اغیزمن اقدامات ترسره کړي.

(ح) هیوادونه باید دمالي موسسو او مشخصو غیرمالي شرکتونو اویا مسلکونو (DNFBP) له خوا په اووم نمبر سپارښتنې پورې تړلو دندو او مرعی الاجرا احکامو د ترسره کولو او له هغوی سره مطابقت د څارنې لپاره لازم تدابیرتر لاس لاندې ونیسي. له دې قوانینو او مرعی الاجرا احکامو څخه سرغړونه باید تر مدني، اداري یا جرمي مجازاتو لاندې ونیول شي.

## ث) له فهرست نه لیرې کول، غیرمنجمد کول او کنګل شوو پیسو او نورو شتمنیو ته لاسرسئ ورکول

7. هیوادونه باید د امنیت شورا ته له فهرست څخه د هغو اشخاصو او سازمانونود لیرې کولو چې نور د تشخیص د معیارونو واجد نه وي، د غوښتنې د وړاندې کولو عام طرزالعملونه طرحه اوتطبیق کړي. په هغه صورت کې چې د بندیزونو کمیټې یوشخص یا سازمان له فهرست څخه لیرې کړی وي، د کنګل کولو مکلفیت نور شتون نلري . دا ډول طرزالعملونه باید د امنیت د شورا د۱۷۳۰ (۲۰۰۲) او ترهغه وروسته پریکړه لیکونو د اړوندو معیارونو او طرزالعملونو په تیره بیا په دې پریکړه لیک کې د مندرج مرکزي ټکي (focal point) میکانیزم سره تطابق ولري .هیوادونه باید فهرست شوو اشخاصو او سازمانونو ته دا امکان ورکړي چې هغوی د ۱۷۳۰ (۲۰۰۲) پریکړه لیک سره سم د نوم د لیرې کولو غوښتنلیک مرکزي ټکي ته وړاندې کړي او یا تشخیص شوو اشخاصو او سازمانونو ته دا ابلاغ کړي چې خپل غوښتنلیکونه په نیغه توګه هغه مرکز ته وسپاري.

8. هیوادونه باید د هغو اشخاصو او سازمانونو لپاره چې د تشخیص شوو اشخاصو او سازمانونو سره ورته نومونه لري او په غیر عمدي توګه د کنګل کولو له یوه میکانیزم څخه اغیزمن شوي وي (د بیلګې په توګه کاذب مثبت) د مالي وجوهو او شتمنیو دپه وخت غیر منجمد کولو ، وروسته له دې چې دا امر تثبیت شي چې دا شخص یا سازمان له تشخیص شوو څخه نه دی، عام طرزالعملونه طرحه او تطبیق کړي.

9. کله چې هیوادونه دا تثبیت کړي چې په ۱۷۱۸ (۲۰۰۲) او ۱۷۳۷ (۲۰۰۲)پریکړه لیکونو کې مندرج د معافیت شرایط ترسره شویدي، باید د همدې پریکړه لیکونو سره سم ،مالي وجوهو او نورو شتمنیو ته دلاسرسنې اجازه ورکړل شي.

10. هیوادونه باید اجازه ورکړي چې مفاد یا نور جاري عوایدیا دپخوانیو قراردادونو، توافقلیکونو یامکلفیتونو پرداختونه هغو حسابونو ته و لیږدول شي کوم چې د۱۷۱۸ (۲۰۰۲) او ۱۷۳۷ (۲۰۰۲)پریکړه لیکونوله مخې کنګل شویدي، پدې شرط چې دا مفاد او نور پرداختونه او ګټې د پریکړه لیک د احکامو تابع وي او کنګل شوي پاتې شي.

11. د کنګل کولو عمل چې د ۱۷۳۷ (۲۰۰۲) پریکړه لیک له مخې ترسره شوی وي ، د پخوا لاسلیک شوي قرارداد د ذمت د پرداخت لپاره دیو شخص یا سازمان مخنیوی نه کوي ، په دی شرط چې:

(أ) اړوندو هیوادونو دا تثبیت کړې وي چې یاد شوی قرارداد د امنیت شورا په اړونده پریکړه لیک کې د مندرجو منع شوو شیانو، موادو، وسایلو، کالیو، ټکنولوژۍ، مرستو، زده کړو، ملي مساعدت، پانګې اچونې، دلالي یا خدماتو له ډلې څخه نه وي؛

(ب) اړوندو هیوادونو دا تثبیت کړې وي چې تادیه شوې پیسې په مستقیمه او یا غیر مستقیمه توګه د هغه شخص یا سازمان لاس ته نه ورځي کوم چې د ۱۷۳۷ (۲۰۰۶) پریکړه لیک له مخې تشخیص شوی وي، او

(ت) اړونده هیوادونو لس ورځې مخکې د بندیزونو ۱۷۳۷ کمیټې ته خبر ورکړی وي چې هوډ لري تر څو دا ډول پرداختونه ترسره کړي او یا یې ومني او یا د مالي وجوهو او نورو شتمنیو د کنګل لیرې کولو ته اجازه ورکوي.".

12. هیوادونه باید داسې میکانیزمونه ولري چې د هغو په وسیله مالي سکتور او مشخص غیرمالي شرکتونه او یا مسلکونه (DNFBP) د نوموړو له لیرې کولو او د مالي وجوهو او نورو شتمنیو د کنګل د لیرې کولو په باب ژر تر ژره خبر کړي او په خاصه توګه مالي سکتور او مشخص غیرمالي شرکتونه او یا مسلکونه (DNFBP) چې ښایي د تر موخه لاندې مالي وجوهو او نورو شتمنیو مالکین وي، د نوموړو د لیرې کولو او د شتمنیو د کنګل د لیرې کولو پریکړې په وړاندې د هغوی د مکلفیتونو په باب لازمي لارښوونې وکړي.

## ج) د ملګرو ملتونو د تشخیص معیارونه

13. د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا په پریکړه لیکونو کې مندرج د تشخیص معیارونه دا دي:

(أ) ۱۷۱۸ (۲۰۰۶) پریکړه لیک:

(i) هر شخص یا سازمان چې د کوریا د خلکو د دموکراتیک جمهوریت (DPRK) په اتمي، ډله ایزې وژنې وسلو او بالیستیکي توغندیو پورې اړونده پروګرامونو کې ښکیل وي؛

(ii) هر شخص یا سازمان چې د کوریا د خلکو د دموکراتیک جمهوریت (DPRK) له اتمي، ډله ایزې وژنې وسلو او بالیستیکي توغندیو پورې اړونده پروګرامونو سره له قانوني یا غیر قانوني لارو مرسته کوي.

(iii) هر شخص یا سازمان چې د ۱۳ پارګراف د (أ) فقرې د (i) بند یا د ۱۳ پارګراف د (أ) فقرې د (ii) کې د مندرج شخص یا سازمان په هدایت."؛ یا

18 په هغو مواردو کې چې یو تشخیص شوی شخص یا سازمان یو مالي جوړښت وي، قضایي مقامات باید د FATF لارښوونې چې د یوې ضمیمې په توګه د ډله ایزې وژنې د وسلو د خپرېدو پر ضد د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د پریکړه لیکونو د مالي احکامو د تطبیق د ۲۰۰۷ کال د سپتمبر په پریکړه کې شاملې دي په نظر کې ونیسي.

19 د پورتنیو اشخاصو او سازمانونو پیسې او نورې شتمنۍ کنګلې دي، بیله دې چې هغوی په ځانګړې توګه د کمیټې له خوا تشخیص شوي وي او که نه.


© ۲۰۱۳

(iv) هر حکمي شخص یا سازمان چې د ۱۳ پارګراف د (أ) فقرې د (i) بند یا د ۱۳ پارګراف د (أ) فقرې د (ii) کې د مندرج تشخیص شوي شخص یا سازمان له خوا په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه کنټرول یا تصاحب شي".

(ب) دامنیت شورا ۱۷۳۷ (۲۰۰۶)، ۱۷۴۷ (۲۰۰۷)، ۱۸۰۳ (۲۰۰۸) او ۱۹۲۹ (۲۰۱۰) پریکړه لیکونه:

(i) هر شخص یا سازمان چې د ایران په حساس اتومي خپرښت فعالیتونو او یا د ایران د اتومي وسلې د رسوونکو سیستمونو په طرحه او پراختیا کې ښکیل وي؛

(ii) هر شخص یا سازمان چې په مستقیمه توګه د ایران په حساس اتومي خپرښت فعالیتونو او یا د ایران د اتومي وسلې د رسوونکو سیستمونو په طرحه او پراختیا کې برخه ولري او یا ورسره مرسته وکړي؛

(iii) هر شخص یا سازمان چې د ۱۳ پارګراف د (ب) فقرې په (i) بند او یا د ۱۳ پارګراف د (أ) فقرې په (ii) کې د یاد شوو اشخاصو یا سازمانونو په استازیتوب او ترهدایت لاندې عمل وکړي ، او یا د هغوی له خوا د تصاحب شوو او کنټرول شوو سازمانونو له لارې فعالیت وکړي؛

(iv) هر شخص یا سازمان چې دامنیت د شورا په ۱۹۲۹(۲۰۱۰) پریکړه لیک کې تشخیص شوي د اسلامي انقلاب د پاسدارانو دسپاه د سازمانونو په استازیتوب او یا د هغوی تر هدایت لاندې عمل وکړي؛

(v) هر سازمان چې دامنیت د شورا په ۱۹۲۹(۲۰۱۰) پریکړه لیک کې تشخیص شوی د اسلامي انقلاب د پاسداراتو دسپاه د اشخاصو اوسازمانونو له خوا په مشروع او یا غیر مشروع توګه ترمالکیت او یا کنټرول لاندې نیول شوی وي"؛

(vi) هر شخص یا سازمان چې د (IRISL) ایران د اسلامي جمهوریت دبیړۍ چلولو د اداري (کومه چې د امنیت شوراپه ۱۹۲۹(۲۰۱۰) پریکړه لیک کې تشخیص شویده) په استازیتوب او یا هدایت سره عمل کوی؛

(vii) هر سازمان چې دامنیت د شورا په ۱۹۲۹(۲۰۱۰) پریکړه لیک کې تشخیص شوی د ایران د اسلامي جمهوریت دبیړۍ چلولو د اداري (IRISL) د سازمانونو له خوا په مشروع او یا غیر مشروع توګه ترمالکیت او یا کنټرول لاندې نیول شوی وي؛ یا

(viii) هر شخص یا سازمان چې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا او یا د اړونده کمیټې له خوا تثبیت شي چې له تشخیص شوو اشخاصو او سازمانونو سره یې د بندیزونو په ماتولو او د امنیت شورا د ۱۷۳۷ (۲۰۰۶)، ۱۷۴۷ (۲۰۰۷)، ۱۸۰۳ (۲۰۰۸)، یا ۱۹۲۹ (۲۰۱۰) پریکړه لیکونو څخه په سرغړونه کې مرسته کړې وي.

---

20 همالته.

21 همالته.

## د ۸ مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت
## ( غیرانتفاعي سازمانونه )

### الف) پیلیزه

1. غیر انتفاعي سازمانونه په نړیوال اقتصاد او همدا راز په ملي اقتصادونو او ټولنیزو نظامونو کې خورا مهم رول لري. د هغوی هڅې د اساسي خدمتونو په برابرولو او د نړۍ اړوندو اشخاصو ته د سوکالۍ او هیلو د سرته رسیدلو په چارو کې ددولتي او تجاري سکتورونو فعالیتونه تکمیلوي. مګر له بده مرغه د ترهګریز تمویل پرضد رواني نړیوالې مبارزې دا ښودلې ده چې ترهګر او ترهګریز سازمانونه د غیرانتفاعي سازمانونو له سکتور څخه د مالي وجوهو د ترلاسه کولو او لیږد، د لوژیستیکي مرستو د برابرولو، د ترهګریز استخدام د هڅولو او یا په بل عبارت د ترهګریزو فعالیتونو او سازمانونو د ملاتړ لپاره استفاده کوي.دغه ناوړه ګټه اخیستنه نه یوازې ترهګریزو فعالیتونو ته آسانتیاوې برابروي بلکه د دونرو ادارو اعتماد هم له منځه وړي او د دې غیر انتفاعي سازمانونو تمامیت له ګواښ سره مخامخ کوي. له همدې کبله له ترهګریزې استفادې څخه د دې سکتور ساتنه هم دترهګرۍ پر ضد د نړیوالې مبارزې یوه حساسه برخه ده چې په حقیقت کې د غیر انتفاعي سازمانونو د تمامیت ساتنه هم ګڼل کیږي.

2. غیر انتفاعي سازمانونه د ډیرو راز راز سببونو له امله د ترهګرو له خوا د ناوړه استفادې په وړاندې آسیب پذیره دي. دا سازمانونه د خلکو د باور وړ دي،د مالي وجوهو یوې زیاتې برخې ته لاسرسۍ لري او زیاتره وخت نغدې پیسې کاروي. برسیره پر دې د دې سازمانونو څخه ځینې یې نړیوال حضور لري او د خپل فعالیت او مالي معاملو لپاره یې په ملي او بین المللي سویه خپل چوکاټ جوړ کړی دی چې معمولاً په هغو ساحو کې فعالیت کوي ، کومې چې د ترهګریزو فعالیتونو تر ګواښ لاندې دي. غیرانتفاعي سازمانونه د هغوی د حقوقي بڼې او هیواد له مخې کیدای شي تر ډیرې کمې حکومتي څارنې لاندې وي او یا یې هم هیڅ څارنه ونه شي (راجستریشن، د اسنادو ضبط او ساتنه، رپوټ ورکول او تفتیش) او یا هم د هغوی د جوړولو لپاره څو محدودو محلو تیرولو ته اړتیا وي (د مثال په ډول له هغو څخه دا نه پوښتل کیږي چې کوم مهارتونه او ابتدایي پانګه لري، د کارکوونکو د سوابقو څیړنه حتمي نه وي، او داسې نور) .ترهګرو سازمانونو د غیرانتفاعي موسسو د دې ځانګړتیاؤ له امله په دې سکتور کې د نفوذ او د هغو تر پوښښ لاندې د ترهګریزو فعالیتونو د پرمخ بیولو لپاره ګټه اخیستې ده.

### ب) موخې او عام اصول

3. د اتمې سپارښتنې هدف د دې امر تامینول دي چې ترهګر ې ډلې د لاندې موخو لپاره له غیر انتفاعي سازمانو څخه ناوړه ګټه وانخلي: (۱) خپل ځان د مشروع سازمانونو په توګه ښودل ؛ (۲) له مشروع سازمانونو څخه د ترهګریز تمویل د مجاریو په توګه ګټه اخیستل او په دې ډول د شتمنیو له کنګل کیدو څخه ځان بچول ؛ یا (۳) له مشروعو موخو څخه په پټه او د دسیسو له لارې ترهګرو ډلو ته د پیسو منحرفول. په دې تفسیري یادښت کې تاکل شوې موخې ته د رسیدلو تګلاره پر لاندینیو اساسي اصولو ولاړه ده:

(أ) د ترهګرو او ترهګریزو سازمانونو له خوا د غیرانتفاعي سازمانونو له سکتور څخه پخوانۍ او روانه ناوړه ګټه اخیستنه له هیوادونو څخه دا غوښتنه کوي چې: (۱) هم د دا ډول ناوړه استفادې په وړاندې د سکتور د خوندیتوب لپاره، او (۲) هم د هغو غیرانتفاعي سازمانونو د پیژندنې او د هغوی پر ضد د اغیزمنو اقداماتو د ترسره کولو لپاره لازم تدابیر ونیسي، کوم چې د ترهګرو یا ترهګریزو سازمانونو له خوا کارول کیږي او یا له هغوی څخه ملاتړ کوي.

(ب) هغه تدابیر چې د هیوادونو له خوا دغیرانتفاعي سازمانونو د سکتور څخه دترهګریزتمویل د ناوړه استفادې د مخنیوي لپاره نیول کیږي، باید مشروع خیریه فعالیتونه ویجاړ او یا کمزوري نکړي. دا تدابیر باید د روڼ والي د رامنځته کیدو سبب شي او پر دې سکتور باندې د دونر ټولنې او عوامو خلکو باور زیات کړي چې مالي وجوه او خیریه خدمات مستحقو اشخاصو ته رسیږي. په هغو نظامونو کې چې د روڼ والي، صداقت او د غیرانتفاعي سازمانونو په مدیریت باندې د خلکو باور تر لوړې کچې پورې رسولو ته هڅې کیږي، نوموړئ سکتور د ترهګریز تمویل لپاره تر ناوړې استفادې لاندې نه راځي.

(ت) د هغو غیر انتفاعي سازمانونو (کوم چې د ترهګرو یا ترهګریزو سازمانونو له خوا ورڅخه ناوړه استفاده کیږي اویا د هغوی ملاتړ کوي ) د پیژندنې او د هغو پر ضد د اغیزمنو اقداماتود ترسره کولو موخه باید د ترهګریز تمویل او د هرډول ترهګریز ملاتړ مخنیوئ او عدلي تعقیب وي. په هغو حالاتو کې چې غیرانتفاعي سازمانونه په ترهګریز تمویل او یا د ترهګرۍ په ملاتړ مضنون یا ښکیل وي، د هیواد مهم لومړیتوب باید دا وي چې پلټنه وکړي او دا تمویل او ملاتړ شنډ کړي. د هغو اقداماتو په ترځ کې چې په دې برخه کې ترسره کیږي باید تر زیاته حده هڅه وشي چې د خیریه مرستو په مشروعو او بیګناهو ترلاسه کوونکو باندې منفي اغیزه ونه کړي. مګر دا امر نشي کولای د غیرانتفاعي سازمانونو له خواد ترهګریز تمویل او د ترهګرۍ د ملاتړ دنورو ښو پر ضد د بیړنیو او اغیزمنو اقداماتو د ترسره کولو د ځنډولو دلیل شي.

(ث) د خلکو، خصوصي موسسو او د غیرانتفاعي سازمانونو د سکتور ترمنځ د همکارۍ د اړیکو رامنځته کول د سکتور په دننه کې د ترهګریزې ناوړه استفادې پرضد د پوهې د کچې د لوړوالي او له هغې سره د مبارزې لپاره د اغیزمنو ظرفیتونو دجوړیدلو په چارو کې خورا اهمیت لري. هیوادونه باید په دې سکتور کې د ترهګریز تمویل اړونده علمي څیړنو وده او د اطلاعاتو شریکول وهڅوي.

(ج) د غیرانتفاعي سازمانونو د سکتور په وړاندې د ترهګریز ګواښ پرضد دمبارزې یو موخه ایز چلند چې دملي منفردسکتور په دننه کې د توپیرونو، د ترهګرو د ناوړه استفادې لپاره دنوموړي سکتور د بیلابیلو برخو د آسیب پذیرۍ د کچې د توپیرونو، د خیریه فعالیتونو د دوام د ضرورت او په هر ځانګړي هیواد کې دترهګریز تمویل پرضد د ګټو او صلاحیتونومحدودیت په نظر کې نیولو باندې ولاړ وي، خورا ضروري ګڼل کیږي.

(ح) دغیرانتفاعي سازمانونوپه سکتور کې دترهګریز تمویل په باب د ملي غبرګون انعطاف منونکې ځانګړتیا پدې دلیل هم خورا مهمه ده چې د وخت په تیریدو سره د ترهګریز تمویل له بدلیدونکي ماهیت سره یو ځای تکامل کوي.

## ت) تدابیر

4. هیوادونه باید خپل د غیرانتفاعي سازمانونو سکتور تر کورنۍ څیړنې لاندې ونیسي او یا د دا ظرفیت ولري چې د هغوی د فعالیتونو، لویوالي او نورو اړونده ځانګړتیاوو په باب پرخپل وخت معلومات ترلاسه کړي. هیوادونه باید د دې څیړنو په ترڅ کې د غیرانتفاعي سازمانونو د ځانګړتیاوو او خصوصیاتو د معلوموللپاره چې ښایي د ترهګریز تمویل په موخه د ناوړه استفادې له ګواښ سره مخامخ وي، له ټولو اطلاعاتي سرچینو څخه کار واخلي.[22] هیوادونه باید په منظمه توګه د نوموړي سکتور ارزونه وکړي او د ترهګریزو فعالیتونو په درشل کې د دې سکتور د آسیب پذیرۍ په هکله اطلاعات وڅیړي.

5. له غیرانتفاعي سازمانونو څخه د ترهګریزې ناوړه استفادې د کشف، مخنیوي او مبارزې لپاره بیلابیلې لارې چارې موجودې دي. مګر یو اغیزمن چلند هغه دی چې لاندې څلور عناصر ولري: (الف) له سکتور سره مرسته، (ب) نظارت او څارنه، (ت) اغیزمنې څیړنې او د اطلاعاتو راټولول او (ث) او د نړیوالې همکارۍ لپاره اغیزمن میکانیزمونه .لاندیني تدابیر هغه ځانګړي اقدامات دي چې هیوادونه یې باید د پورتنیو عناصرو په پام کې نیولو سره دترهګریز تمویل د ګواښ په وړاندې د غیرانتفاعي سازمانونو د سکتور د خوندیتوب لپاره عملي کړي.

(أ) د غیرانتفاعي سازمانونو له سکتورسره د ترهګریز تمویل په مسایلو کې مرسته

(i) هیوادونه باید د غیر انتفاعي سازمانونو درونِ والي، صداقت، سپیڅلتیااو د هغوی پر اداره او منجمنت باندې د خلکو د باور لپاره روښانه پالیسۍ ولري.

(ii) هیوادونه باید د غیرانتفاعي سازمانونو په سکتور کې د ترهګرۍ او ترهګریز تمویل په وړاندې د ددې سازمانونو د آسیب پذیرۍ د ګواښونو په هکله د پوهې د کچې د لوړوالي لپاره او د دې سازمانونو له خوا د مخه نیونکو تدابیرو د نیولو لپاره مرستندویه پروګرامونه جوړ او یا د هغو جوړول وهڅوي.

(iii) هیوادونه باید د غیرانتفاعي سازمانونو له سکتور سره د ترهګریز تمویل په وړاندې د آسیب پذیرۍ د ګواښونو دارزونې او رسیدګۍ تر ټولو غوره لاروچارو د رامنځته کولو لپاره کار وکړي تر څو له دې لارې دا سکتور له ناوړه استفادې څخه وژغورل شي.

(iv) هیوادونه باید غیر انتفاعي سازمانونه وهڅوي چې په مختلفو هیوادونو کې د مالي سکتور دبدلیدونکو ظرفیتونو او په مختلفو سیمو کې د بشرغوښتنې او خیریه مرستو

---

[22] د بیلګې په توګه، دا ډول معلومات د کنټرولرانو، مالیاتي مقاموتو، د مالي استخباراتو د واحدونو، دونر سازمانونو او د قانون د پلي کوونکو امنیتي مقاماتو له خوا برابرید ای شي.


© ۲۰۱۳

د خانګړتیاؤ په پام کې نیولو سره د تر ممکنه حده خپلې معاملې درسمي مالي مجاریو له لارې ترسره کړي .

(ب) دغیرانتفاعي سازمانونو د سکتور څارنه او نظارت

هیوادونه باید دغیر انتفاعي سازمانونو د سکتور د اغیزمنې څارنې لپاره لازم تدابیر ونیسي . هیوادونه باید په عمل کې ددې توان ولري تر څو دا وښیي چې لاندې نورمونه د غیرانتفاعي سازمانونو په برخه کې د اجراوړ دي چې(۱) ددې سکتور تر کنترول لاندې د مالي سرچینو یوه زیاته برخه او (۲) همدا راز ددې سکتور د بین المللي فعالیتونو یوه لویه برخه تشکیلوي.

(i) غیرانتفاعي سازمانونه باید: (۱) د خپلو فعالیتونو دتعریف شوو موخو اومقاصدو ؛ او (۲) د هغو اشخاصو د هویت په باره کې معلومات ولري کوم چې ددوی فعالیتونه کنترول یا اداره کوي، لکه لوړ رتبه کارکوونکي، د مدیره هییت غړي او امامتداران . دا معلومات باید په مستقیمه توګه د غیرانتفاعي سازمان له خوا او یا هم د اړونده مقاماتو له لارې د خلکو د لاسرسنې وړ وګرزي.

(ii) غیر انتفاعي سازمانونه باید د عوایدو او مصارفو په شمول خپل کلنې رپوټونه خپاره کړي.

(iii) غیرانتفاعي سازمانونه باید لایسنس یا جواز ولري . دا معلومات باید د صلاحیت لرونکو مقاماتو په اختیار کې وي.[23]

(iv) غیر انتفاعي سازمانونه باید د کنترول میکانیزمونه ولري تر څو وکولای شي دا امر تأمین کړي چې ټول مالي وجوه د غیرانتفاعی سازمان د بیان شوو موخو او مقاصدو په لاره کې لګول کیږي او له هغوی سره مطابقت لري.

(v) غیر انتفاعي سازمانونه باید د «خپل مستحق اخیستونکي او همکار غیر انتفاعي سازمانونه وپیژنئ » اصل په پام کې وساتي او دا په دې معنا ده چې یو غیر انتفاعي سازمان باید ډیره هڅه وکړي چې د خپلو مستحقو مرسته اخیستونکو او همکاره سازمانونو هویت، اعتبار پاڼه او ښه سابقه تأئید کړي . هغوی باید ټولې هڅې په کار واچوي ترڅو د دوئرانو هویت د اسنادو پر مخ تثبیت کړي او د هغوی محرمیت وساتي.

(vi) غیر انتفاعي سازمانونه باید ددې امر لپاره د خپلو کورنیو او بین المللي مراوداتو لږترلږه دپنځو کالو سوابق او جزئیات وساتي کوم چې د سازمان له موخو سره سم د مالي وجوهو لګښت په ګوته کړي، او دا سوابق باید دصلاحیت لرونکو مقاماتو په اختیار کې

[23] دترهګرۍ پرضد دمبارزې لپاره د جواز یا د نوم دثبت ځانګړي شرایط ضروري ندي. د مثال په توګه په ځینو هیوادونو کې غیر انتفاعي سازمانونه مخکې له مخکې په مالیاتي مقاماتو کې راجستر کیږي او د مساعدو مالي معاملو لکه مالیاتي پورونو یا مالیاتي معافیت د شرایطو د ورتیا له امله تر نظارت لاندې وي.

چې اړونده صلاحیتونه ولري کېښودل شي . دا امر همدا شان د پورتنیو (۱) او (۲) پاراګراف د محتویاتو په باب هم صدق کوي.

(vii) اړونده مقامات باید د غیر انتفاعي سازمانونو له خوا د دې سپارښتنې د غوښتنو درعایت څارنه وکړي[24]. اړونده مقامات باید دا توان ولري چې د پر غیر انتفاعي سازمانونو او یا هغو اشخاصو باندې چې د هغوی په استازیتوب فعالیت کوی له احکامو څخه د سرغړونې له امله اغیزمن، متناسب او مخه نیوونکې بندیزونه ولګوي[25].

(ت) د اطلاعاتو او پلټنو اغیزمنه راټولونه

(i) هیوادونه باید د هغو اړونده مقامونو یا سازمانونو د ټولو ادارو ترمنځ همکاري، همآهنګي او د اطلاعاتو شریکول په اغیزمنه ډول تأمین کړي کوم چې د غیرانتفاعي سازمانونو په هکله معلومات لري.

(ii) هیوادونه باید د هغو غیرانتفاعي سازمانونو د ارزونې لپاره پلټونکې قابلیت او مهارت ولري د کومو په باب چې داشک موجود وي چې د ترهګرو فعالیتونو لپاره یا د ترهګرو سازمانونو له خوا ورڅخه ناوړه استفاده شویده او یا پخپله له هغو نه ملاتړ کوي.

(iii) هیوادونه باید دا امر تأمین کړي چې د یوې پلټنې په مهال د یوه ځانګړي غیر انتفاعي سازمان د اداري او منجمنت په هکله معلوماتو ( له هغې ډلې څخه مالي او برنامه ای معلومات ) ته لاسرسی ممکن وي.

(iv) هیوادونه باید ددې امر د تأمین لپاره لازم میکانیزمونه جوړ کړي چې د شک د موجودیت او یا هم د شک لپاره د معقولو دلایلو د موجودیت په صورت کې چې یو ټاکلی غیرانتفاعي سازمان: (۱) د یوه ترهګر سازمان لپاره د بسپنې د ټولولو په منظور جوړ شوی؛ (۲) د ترهګر تمویل او همدا راز د شتمنیو د کنګل کولو څخه د مخنیوې په منظور ورڅخه ناوړه استفاده کیږي؛ (۳) له مشروعو سرچینو او موخوڅخه په پټه او د دسیسو له لارې ترهګرو ډلو ته د پیسو منحرفول تأمینوي ، دا اطلاعات باید ژرترژره اړوندو ادارو ته د مخنیوونکو او پلټونکو اقداماتو لپاره وسپارل شي.

(ث) دېاملرنې وړ یوه غیر انتفاعي سازمان په باره کې د معلوماتو په هکله دنړیوالو غوښتنو ته د ځواب ورکولو د اغیزمن ظرفیت موجودیت

[24] په دې برخه کې ، په قواعدو او نورمونو کې هغه اصول او نورمونه هم شاملیدای شي چې د جواز ورکوونکو او ځاني کنترول لرونکو ادارو له خوا اجرا کیږي.

[25] په دې ډول بندیزونو کې د حسابونو کنګلول ،د اعتبارنامو بیرته اخیستل، جریمې ، د تصدیقونو ، جوازنامو او راجستر فسخ کول شامل دي. دا امر باید د غیرانتفاعي سازمانونو او یا د هغو اشخاصو په هکله چې د هغوی په استازیتوب فعالیت کوي د مدني، اداري یا جزایي اجراآتو د لارې څخه نه شي.

هیوادونه باید د نړیوالې همکارۍ د سپارښتونو سره سم د یوه غیر انتفاعي سازمان په هکله چې د ترهګرۍ په تمویل او یا د ترهګرۍ سره د مرستې په نورو ډولونو مشکوک وي ،دنړیوالو غوښتنو پر اساس د معلوماتو د ورکولو طرزالعملونه او د تماس ټکې مشخص کړي.

ث) دنظارت، څارنې او پلټنې لپاره منابع

6. هیوادونه باید خپلو هغو اړوندو مقاماتو ته چې د غیر انتفاعي سکتور نظارت، څارنه او پلټنه په غاړه لري په کافي اندازه مالي، بشري او تخنیکي منابع برابر کړي.

په دې سپارښتنه کې دکارول شوو اصطلاحاتو معانی

| | |
|---|---|
| اړوندمقامات | صلاحیت لرونکي مقامات او له هغې ډلې نه جوازورکوونکې موسسې او د ځاني کنترول لرونکي سازمانونه |
| همکارغیرانتفاعی سازمانونه | د بین المللي غیرانتفاعي سازمانونو نمایندګی. |
| مستحق اخیستونکي (beneficiaries ) | طبیعی اشخاص یا د طبیعی اشخاصو یوه ډله ده چې خیریه،بشر غوښتونکې او نورې مرستې دغیرانتفاعي سازمانونو څخه ترلاسه کوي. |
| غیرانتفاعی سازمان(NPO) | یو حکمي شخص یا جوړښت یا سازمان دی چې اساساً د خیریه، مذهبي، کلتوري، تعلیمي، ټولنیزو یا وروړګلویزو موخو له امله مرستې ټولوي او یا ویشي او په نورو «دخیرچارو» کی برخه ولري. |


© ۲۰۱۳

## د ۱۰مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت (مشتریانو ته لازمه پاملرنه (CDD))

الف) د مشتریانو کره کتنه او بربنډونه

1. که چیرې د مشتري سره د اړیکو د ټینګولو او یا د دې اړیکو په بهیر کې، یا د غیرمنظمو معاملو د ترسره کولو په مهال یوه مالي موسسه شک وکړي چې د پام وړ معاملې د پیسو په تطهیر او یا ترهګریز تمویل پورې اړه لري، نوموړې موسسه باید:

(أ) په عمومي توګه هڅه وکړي چې د مشتري" او د نافع څښتن هویت، که دایمي وي یا موقتي، او پرته له هرډول معافیت یا معین حد څخه، تثبیت او له سره وګوري؛ او

(ب) د ۲۰مې سپارښتنې پربنسټ د مشکوکې معاملې یو رپوټ (STR)د مالي استخباراتو واحد(FIU) ته ولیږي.

2. ۲۱ مه سپارښتنه د مالي موسسو، د هغوی د رئیسانو، کارکوونکو او مامورینو څخه غواړي چې دا خبره بربنډه نکړي چې د مالي استخباراتو واحد ته یو رپوټ یا اړونده معلومات لیږل کیږي. کله چې مالي موسسه هڅه کوي خپل سی ډی ډی وجیبې په داسې شرایطو کې ترسره کړي، ددې خطر شته چې مشتریان کیدای شي په غیرعمدي توګه بربنډ شي. د یوه رپوټ یا څیړنې نه د مشتري خبریدل کیدای شي د شکمنوپیسود تطهیراوترهګریز تمویل په باب د څیړنې راتلونکې هڅې په خطرکې واچوي.

3. په همدې دلیل، کله چې مالي موسسې شک پیداکوي چې د مشتري معاملې د پیسو په تطهیر او ترهګریز تمویل پورې اړه نیسي، باید هغوی د مشتري د بربنډ کیدلو خطر د سی ډی ډی د پروسې د ترسره کولو په ترڅ کې په پام کې ونیسي. که چیرې یو موسسه په منطقي توګه عقیده ولري چې د سی ډی ډی د کار ترسره کول به د نظروړ یا بالقوه مشتری بربنډ کړي، کولای شي دغه پروسه مختته بونه زي مګر باید د یوې شکمنې معاملې رپوټ جوړکړي. موسسې باید تامین کړي چې ددوی کارکوونکي ددغو مسئلو څخه د سی ډی ډی د ترسره کولو په مهال باخبر او په دې باب حساس دي.

ب) سی ډی ډی–اشخاص چې د مشتري په استازیتوب عمل کوي

4. په ۱۰مې سپارښتنې کې د سی ډی ډی د اقدامونو د (الف) او (ب) د اجزاوو د ترسره کولو په ترڅ کې د مالي موسسو نه باید وغوښتل شي چې دا خبره وڅیړي چې آیا هغه شخص چې د مشتري د استازیتوب ادعا لري ددې استازیتوب واک لري که نه، او باید د دغه شخص هویت وڅیړي.

ت) د حکمي اشخاصو یا تنظیمونو د پاره سی ډی ډی

5. د هغو مشتریانو په باب د سی ډی ډی د ترسره کولو په ترڅ کې چې په حکمي اشخاصو یا تنظیمونو" پورې اړه لري باید وغوښتل شي چې د مشتري هویت تثبیت او وڅیړل شي، او دهغوی د کار ماهیت،

26 د معتبرې او ناپیلې سرچینې اسناد، ارقام یا معلومات چې دلته پس له دې به "د هویت د معلوماتو" په نامه یادیږي

27 په دغو توصیو کې حکمی تنظیمونو لکه اعتباراتو (یا نورو ورته تنظیمونو) ته اشارې شویدي چې د یوه مالي نهاد یا شرکت یا غیرمالي مسلک مشتري دی یا یوه معامله ترسره کوي. ددغو اشارو څخه مقصد هغه حالت دی چې یو طبیعی یا حکمي شخص

څښتنتوب، او د کنټرول جوړښت وپېژني. هغه غوښتنې چې په لاندتیو (الف) او (ب) پراګرافونو کې د مشتري او د نافع څښتن د هویت د تثبیت او څېړنې په باب یادشوي دي دوه موخې لري: لومړی، د سوداګریزو اړیکو په اړه د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل د بالقوه خطرونو د ارزونې په موخه په بسیا توګه د مشتري د پېژندلو له لارې د حکمي اشخاصو او تنظیمونو د غیرقانوني ګټې اخیستنې مخنیونه؛ او دوهم د خطرونو د کمولو دپاره د لازمو ګامونو اوچتول. دغه غوښتنې چې دیوې پروسې دوه اړخه ګڼل کیږي احتمالاً یوله بله سره اړیکې لري او طبعاً یوبل بشپړوي. په دې ډګر کې د مالي موسسو څخه غوښتل کیږي چې:

(أ) مشتري وپېژني او د هغه هویت وڅیړي. ددې کار د ترسره کولو دپاره معمولاً لاندې معلوماتو ته ضرورت پیدا کیږي:

(i) نوم، حقوقي بڼه او د وجود اثبات—دغه څېړنه کیدای شي د حکمي شخصیت، د شرکت د روغوالي تصدیق، د مشارکت توافق لیک، د باوري سند، او یا نورو اسنادو له لارې چې د یوه خپلواکه باورې مرجع له خوا د مشتري نوم، بڼه او اوسنۍ وجود تصدیق کړي، ترسره شي.

(ii) د یوه حکمي شخص یا تنظیم ناظم او الزامي واکونه(د مثال په توګه د شرکت تفاهم لیک او اساسنامه) او همداراز د اړونده اشخاصو نومونه چې په حکمي شخص یا تنظیم کې لوړ اداري موقف ولري (لکه په یوه شرکت ، اعتبارورکوونکي ادراو او نورو کې لوړ اداري مشران )

(iii) د راجستر د دفتر پته، او که توپیر ولري، د شرکت د اصلي ځای پته.

(ب) د مشتري نافع څښتن وپېژني او د دې ډول اشخاصو د هویت د څېړنې په موخه د لاندنیو معلوماتو له لارې معقول تدابیر[28] ونیسي:

(i) د حکمي اشخاصو په مورد کې[29]:

(i.ii) د طبیعي اشخاصو هویت (که چیرې وجودولري، ځکه د څښتنتوب ګټې کیدای شي دومره متنوع وي چې طبیعي اشخاص چې، څه په انفرادي توګه یا په ډله ایزه توګه، د څښتنوب له لارې د حکمي شخص یا تنظیم اداره په غاړه واخلي،

چې د اعتبار اخیستونکې دی سوداګریزې اړیکې منځ ته راوړي یا د اخیستونکو په استازیتوب یا د اعتبار دشرطونو سره سم یوه معامله ترسره کوي. د سی دی دی عادي غوښتنې د ۱۰مې توصیې د تفسیري یادونې د ۴ پراګراف په شمول، د هغو مشتریانو په باب چې طبیعي یا حکمي اشخاص وي د پخوا په شان د اجرا وړدي، مګر په همدې حال کې د اعتبار او د اعتبار د نافع څښتنانو (څرنګه چې تعریف شوی دی) په باب به هم د اجرا وړوي.

[28] د هویت د تثبیت په باب د تدبیرونو د معقولیت د ټاکلو په مهال باید د پیسو د تطهیر او تروریستي تمویل خطرونو ته چې د مشتري او سوداګریزې اړیکو له خوا منځ ته راځي پاملرنه وشي.

[29] د (i.i) تر (i.iii)تدبیرونه بدیله ټاکنه نه بلکه هغه پرله پسې اقدامونه دي چې هر یو یې د تیرشوي اقدام په پای کې چې نافع څښتن یې ندی تثبیت کړي په کار اچول کیږي.

وجودونلري) چې په حکمي شخص کې د ښبنتنتوب وروستی کنترول کوونکي ګټه[30] لري؛ او

(ii.ii) تر هغې اندازې پورې چې د پورتنی فقرې سره سم ددې شک پیدا شي چې آیا د ښبنتنتوب د کنترول کوونکي ګټې لرونکي اشخاص، نافع ښبنتنان دي او که نه، یا چیرته چې هیڅ طبیعی شخص د ښبنتنتوب د ګټو له لارې کوم کنترول ونلري، د طبیعي اشخاصو هویت (که چیرې وجوددولري) چې د حکمي شخص یا تنظیم د نورو وسیلو له لارې مخته بیایي.

(iii.ii) هلته چې د دوو پورتنیو فقرو سره سم طبیعی شخص تثبیت نشي، مالي موسسې باید اړونده طبیعي شخص چې د مشرتابه پست په غاړه لري وپیژني او د هغه د هویت د څیړنې په موخه قانع کوونکي ګامونه اوچت کړي.

(ii) د حکمي تنظیمونو په باب:

(i.ii) د اماناتو شرکتونه – د امانت ورکوونکو، امینانو، ساتونکو (که چیرې وجودولري)، ګټې اخیستونکو یا د ګټه والو د ډلې هویت[31]، او بل هر طبیعي شخص چې په مستقیمه توګه یا د کنترول یا ښبنتنتوب د ځنځیر له لارې د شرکت وروستی اغیزمن کنترول په غاړه ولري؛

(ii.ii) نور ډول حکمي تنظیمونه – د معادلو یا ورته موقفونو لرونکو اشخاصو هویت.

هلته چې مشتری یا د کنترول کوونکي ګټې ښبنتن داسې یو شرکت وي چې د اسهامو په تبادله کې ثبت شوی وي او (د اسهامو د تبادلې د قواعدو سره سم یا د قانون یا د اجراوړ وسیلو له لارې) د بربنډولو د غوښتنو تابع وي چې د نافع په ښبنتنتوب کې بسیا شفافیت ته اړه لري، یا یو فرعی شرکت چې د داسې شرکت د ښبنتنانو اکثریت په کې شامل وي، لازمه نده چې د دې ډول شرکتونو د سهم لرونکو یا نافع ښبنتنانو هویت تثبیت او وڅیړل شي.

د هویت اړونده معلومات د دولتي راجستر د ادارې، د مشتري یا د نورو معتبرو منابعو څخه اخیستل کیدلای شي.

## ث) د ژوند د بیمې د پالیسیو د ګټې اخیستونکو دپاره سی ډی ډی

6. د ژوند د بیمې او د پانګې پر بنا د نورو بیمو د شرکتونو په باب ، مالي موسسې باید د سی ډی ډی د ګامونو سربیره چې د مشتریانو او نافع ښبنتنانو دپاره ضروری دی، باید لاندینې سی ډی ډی تدبیرونه د

---

[30] د ښبنتنتوب کنترول کوونکي ګټه د ښبنتنتوب په جوړښت پورې تړلې ده. دا کیدای شي د یوه حد پر بنا وي، بلکه یو څوک چې د شرکت په سلو کې د یوې نه زیاته برخه ولري (د مثال په توګه ۲۵٪).

[31] د اماناتو شرکتونو د ګټه لرونکو په باب چې د خصوصیت یا ډلې له نظره پیژندل کیږي، مالي موسسې باید د ګټه لرونکو په باب بسیا معلومات ترلاسه کړي چې ډاډه شي چې د ګټه لرونکو هویت د پیسو د تادیې په مهال یا د ګټه لرونکو د حقه حقوقو د غوښتنې په ترځ کې تثبیتولی شي.


© ۲۰۱۳

د ژوند د بیمې او د پانګې پر بنا د نورو بیمو د شرکتونو د پالیسو د ګټې لرونکو په نسبت ترسره کړي کله چې ګټې لرونکي تثبیت یا ونومول شي:

(أ) د هغو ګټې اخیستونکو په باب چې په مشخصه توګه د طبیعي یا حکمي اشخاصو یا تنظیمونو په نامه وپیژندل شي – د شخص نوم واخلي؛

(ب) د هغو ګټې لرونکو په باب چې د خصوصیاتو یا ډلې پربنا (لکه ماندینه یا ماشومان د یوې پیښې په مهال) تثبیت کیږي – د ګټې لرونکي په باب بسیا معلومات د مالي موسس د باور په موخه د دې لپاره چې د هغوی هویت د پیسو د ورکونې په مهال تثبیت کولای شي.

هغه معلومات چې د (الف) او (ب) د فقرو سره سم راغونډیږي باید د ۱۱مې سپارښتنې د احکامو سره سم ثبت او حفظ شي.

7. په دواړو مواردو کې چې د ۲ مې فقرې په (الف) او (ب) بندونو کې ذکر شوي دي، د ګټې لرونکو د هویت څیړنه باید د پیسو د تادیې په مهال صورت ومومي.

8. د ژوند د بیمې د پالیسۍ یو ګټه وال باید د مالي موسسې له خوا د سي ډي ډي د نویو ګامونو د نیولو د پریکړې په مهال د ګواښ اړونده عامل په توګه په پام کې ونیول شي. که چیرې مالي موسسه پوه شي چې یو ګټه وال چې یو حکمي شخص یا تنظیم دی د لا لوړ ګواښ سبب ګرځي، په دې صورت کې د سي ډي ډي په نویو ګامونو کې د پیسو د تادیې په مهال د ګټې لرونکي نافع څښتن د پیژندنې او د هویت د څیړنې په موخه دې معقول اقدامونه شامل شي.

9. که چیرې یوه مالي موسسه د دې توان ونلري چې د ۲ – ۸ پراګرافونو سره سم عمل وکړي، باید د مشکوکې معاملې د یوه رپوټ د جوړولو په باب سوچ وکړي.

## ج) د هویت د ترسره شوي تثبیت او څیړنې باندې تکیه

10. په ۱۰مې سپارښتنې کې ذکر شوي د سي ډي ډي تدابیر په دې باندې دلالت نه کوي چې مالي موسسې په واروار سره د هر مشتري هویت چې یوه معامله ترسره کوي تثبیت او وڅیړي. یوه مالي موسسه د دې حق لري چې د هویت د تثبیت او څیړنې په هغو اقداماتو باندې تکیه وکړي کوم چې پخوا ترسره شوي دي، مګر داچې د دغو معلوماتو د صحت او دقت په باب شک او شبه وجود ولري. د هغو حالاتو مثالونه چې کیدای شي یو موسسه دې ډول شکونو ته رابنکیل کړي کیدای شي هغه موارد وي چې د نظر وړ مشتري په اړه د پیسو د تطهیر شک وجود ولري، یا داسې موارد چې د مشتري د حساب د پرمختیاو په څرنګوالي یو مادي توپیر منځ ته راغلی وي چې د مشتري د کار او بار سره سمون ونلري.

## ح) د څیړنې مهال

11. د هغو حالاتو د ډولونو مثالونه (سربیره په هغو حالاتو چې پورته ورته د ژوند د بیمې د پالیسو د ګټې لرونکو په باب اشاره وشوه) چې د دې امکان ورکوي څیړنه د سوداګرۍ د اړیکې د ټینګولو نه وروسته بشپړه شي (ځکه ضروري به وي چې د هغوی په روانو چارو کې اخلال منځ ته رانشي) په لاندنیو مواردو کې شاملیږي:

- هغه سوداګري چې مخامخ نه وي.
- امنیتي معاملې. د امنیت په ډګر کې کیدای شي د شرکتونو او سازمانونو نه غوښتنه وشي چې معالمې په هغه مهال کې چې مشتري ورسره ترون لاسلیکوي د بازار د شرایطو سره سم په ډیره چابکې سره ترسره کړي، او کیدای شي ضروري وي چې د ترون اجرا د هویت د څیړنې نه مخکې بشپړه شي.

12. مالي موسسې ته به همدارنګه په کار وي چې د ګواښ د مدیریت تګلارې د هغو شرایطو په اړه چې یو مشتري کیدای شي د سوداګرۍ اړیکه د هویت د څیړنې نه مخکې وکاروي، غوره کړي. دغه تګلارې باید په ځان کې یو لړ تدابیر ولري لکه د ترسره کیدو وړ معاملو دشمیر، ډولونو او کمیت محدودول او لویو او پیچلو معاملو څارنه چې د نظر وړ اړیکې د متوقع نورمونو نه بهر صورت مومي.

## خ) موجود مشتریان

13. د مالي موسسو نه باید وغوښتل شي چې د موجودو مشتریانو[32] په باب د سي ډي ډي تدابیر د مادیت او ګواښ پربنا وکاروي، او د موجوده اړیکو په باب کره کتنه په مناسب مهال کې ددې کار په پام کې نیولو سره ترسره کړي چې آیا او څه وخت د سي ډي ډي تدابیر پخوا ترسره شوي دي او په لاس راغلي معلومات بسیا دي او که نه.

## د) د ګواښ پربنا کړنلاره[33]

14. لاندني مثالونه د FATF د نورمونو الزامي عناصر نه دي بلکه یوازې د لارښوونې دپاره وړاندې کیږي. په پام کې نه ده چې دغه مثالونه جامع وي، او که څه هم توقع شته چې هغوی به ګټور شاخصونه وي خو کیدای شي په ټولو حالاتو کې وارد نه وي.

## لالوړ ګواښونه

15. داسې حالات شته چې د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل خطر لالوړ وي او د سي ډي ډي لاکلک تدبیرونه باید ونیول شي. د لالوړ بالقوه ګواښ د حالاتو مثالونه (په ۱۲ مې او ۱۲مې سپارښتنو کې ذکرشویو مثالونو سربیره) د مشتریانو، هیوادونو یا جغرافیایي سیمو او د ټاکل شویو محصولاتو، خدماتو، معاملو یا سپارلو د کانالونو په اړه د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل د خطرونو د ارزونې په مهال په لاندینیو عواملو پورې تړلې دي:

(أ) د مشتری د ګواښ عوامل:

- د سوداګرۍ اړیکه په غیرعادي شرایطو کې صورت مومي (د مثال په توګه، د مالي موسسې او مشتري ترمنځ زیاته جغرافیایي واټن چې توضیح شوی ندی).

---

32 هغه مشتریان چې د اړونده قانون د احکامو د انفاذ په ورځ موجود وي.

33 د ریسک پربنا کړنلاره (RBA) په هغو حالاتو کې چې سي ډي ډي ضروري وي نه کارول کیږي مګر امکان لري چې د دغو اقداماتو د اندازې د پیداکولو په موخه وکارول شي.


© ۲۰۱۳

17. د مشتریانو، هیوادونو یا جغرافیایي سیمو او د ټاکل شویو محصولاتو، خدماتو، معاملو یا سپارلو د کانالونو په اړه د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل د خطرونو د ارزونې په مهال د ټیټ بالقوه ګواښ د حالاتو مثالونه په لاندیني عواملو پورې اړه لري:

(أ) د مشترۍ د ګواښ عوامل:

- هغه مالي موسسې او ټاکلې غیرمالي شرکتونه او مسلکونه (DNFBPs) چې د FATF د سپارښتنو سره سم د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل پرضد د مبارزې د غوښتنو تابع دي او دغه غوښتنې په اغیزمنه توګه پلې کوي، او د نوموړو سپارښتنو سره سم د دغو غوښتنو د رعایت د تامینولو له نظره په اغیزمنه توګه تر څارنې لاندې نیول کیږي.
- هغه عامه شرکتونه چې د اسهامو په تبادله کې ثبت دي او (د اسهامو د تبادلې د قواعدو پربنا یا د قانون یا د اجراکیدونکو وسیلو له لارې) د معلوماتو د برندولو د غوښتنو تابع دي، هغه څه چې د نافع په څښتنتوب کې د بسیا شفافیت او روڼتوب غوښتنه کوي.
- عامه اداراې یا موسسې.

(ب) د محصولاتو، خدماتو، معاملو یا سپارلو د کانالونو د ګواښ عوامل:

- د ژوند دبیمې پالیسۍ چې حق العضویت یې ټیټ وي (د مثال په توګه، په کال کې د ۱۰۰۰ دالرو/یورو نه کم یا د ۲۵۰۰ دالرو/یورو منفرد حق العضویت نه کم).
- د تقاعد دپاره د بیمې پالیسۍ کله چې د وخت نه مخکې انصراف او د بیمې د پالیسۍ څخه د پور د ضمانت په توګه د کاراخیستلو امکان نه وي.
- د تقاعد، سپین ږیرتوب یا بل ورته پروګرام چې د کارکوونو دپاره د تقاعد مزایاوې برابروي، چې حق العضویت یې د معاشاتو له لارې تادیه کیږي او د پروګرام مقررات د غړي له خوا د دغو پیسو نه د ګټې اوچتولو اجازه نه ورکوي.
- مالي محصولات یا خدمات چې ټاکلې او محدود خدمتونه د ټاکلو ډول ډول مشتریانو دپاره د مالي برخې اخیستنې ګټو ته د لاسرسنې د پراختیا په موخه برابروي.

(ت) د ګواښ ملي عوامل:

- هغه هیوادونه چې د معتبرو مراجعو له خوا د متقابلو ارزونو یا مفصلې څیړنې په ترځ کې د AML/CFT د بسیا سیستمونو د درلودونکو هیوادونو په نامه پیژندل شوي دي.
- هغه هیوادونه چې د معتبرو مراجعو له خوا تثبیت شوي وي چې په هغو کې د اداري فساد یا نورو جنایي کارونو کچه ټیټه ده.

هیوادونه یا مالي موسسې د ګواښ د څیړنې په مهال کولای شي، د لزوم په صورت کې، د هیواد د راز راز سیمو او ساحو تر منځ د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل د ګواښ ممکن توپیرونه په پام کې ونیسي.

18. د هویت د تثبیت او څیړنې په موخه د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل د ګواښ د ټیټې کچې درلودل هرومرو ددې معنا نلري چې د نظر وړ مشتري د سي ډي ډي د ټولو تدبیرونو له نظره، په تیره بیا د روانو معاملو د څارنې له نظره ټیټ ګواښ لري

## دګواښ متحولونه

19. د ډول ډول مشتریانو، هیوادونو یا جغرافیایي سیمو په اړه د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل او محصولاتو، خدماتو او ټاکلو معاملو یا د سپارنې د کانالونو دګواښونو د ارزونې په مهال، یو مالي موسسه باید د ګواښ متحولونه د ګواښونو د کټګوریو په اړه په پام کې ونیسي. دغه متحولونه، که په انفرادي بڼه وي یا په ډله ایزه بڼه، کیدای شي بالقوه ګواښ زیات یا کم کړي او په دې توګه د سي ډي ډي د تدبیرونو په لازمي کچې باندې اغیزه وکړي. د دې راز متحولونو مثالونه دادي:

- د یوه مالي حساب یا سوداګریزې اړیکې موخه
- د هغو شتمنیو حد چې د یوه مشتري له خوا په حساب کې ایښودل کیږي یا د معاملاتو اندازه چې صورت مومي
- د سوداګریزې معالمې استمرار یا معیاد

## د سي ډي ډي لاکلک تدابیر

20. مالي موسسې باید تر هغه ځایه پورې چې منطقاً ممکنه وي ټولې پیچلې، ترحده زیات لویې معاملې، او نور ټول غیرعادي ورته معاملې چې روښانه اقتصادي یا قانوني موخه ونلري وڅیړي. که چیرې د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل ګواښونه لوړ وي، د مالي موسسه نه باید وغوښتل شي چې د پیژندل شوو ګواښونو سره سم د سي ډي ډي لا کلک تدبیرونه ونیسي. په تیره بیا، هغوی باید د سوداګریزو اړیکو د څارنې درجه او ماهیت لوړکړي ترڅو معلوم کړي چې آیا دغه معاملې یا فعالیتونه غیرعادي یا مشکوک په نظر راځي او کنه . د لا کلکو تدبیرونو مثالونه چې کیدای شي د هغو نه د لوړ ګواښ لرونکو سوداګریزه اړیکو دپاره کاروا خیستل شي، په لاندې توګه دي:

- د مشتري په باب دلاډیرو معلوماتو لاسته راوړل (د مثال په توګه، کسب، د شتمنیو اندازه، هغه معلومات چې د دولتي ډیتابیس، انټرنټ او نورو څخه په لاس راځي)، او په منظمه توګه د مشتري او نافع څښتن د هویت د معلوماتو تازه کول.
- د سوداګریزې اړیکې د مطلوب ماهیت په باب د ډیرو معلوماتو په لاس راوړل.
- د مشتري د پیسو یا شتمنیو د سرچینې په باب د معلوماتو لاسته راوړل.
- د مطلوبو یا ترسره شویو معاملو د دلایلو په باب د معلوماتو لاسته راوړل.
- د سوداګریزې اړیکې د پیل یا ادامې په باب د لوړ مشرتابه د منظورۍ اخیستل.
- د کنټرولونو د شمیر او وخت د زیاتولو او هغو معاملاتي الګوګانو د ټاکلو له لارې چې زیاتې څیړنې ته اړتیا لري د سوداګریزې اړیکې لا کلکه څارنه.

- د هغه حساب له لارې د لومړۍ تادیې غوښتنه چې د مشتري په نامه وي او د هغه بانک له خوا د ورته سي ډي ډي نورمونو تابع وي.

### د سي ډي ډي ساده شوي تدابیر

21. کله چې د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل ګواښونه ټیټ وي، مالي موسسې کولای شي اجازه ولري چې د سي ډي ډي ساده شوي تدبیرونه چې باید لا ټیټ ګواښ ماهیت په کې نغښتي وي وکاروي. ساده شوي تدبیرونه باید د ګواښ د لاټیټو عواملو سره متناسب وي (د مثال په توګه، ساده شوي تدبیرونه کیدای شي یوازې د مشتري د منلو په تدبیرونو یا د روانې څارنې په اړخونو پورې اړه ولري). د ممکنو تدبیرونو مثالونه په لاندې ډول دي:

- د سوداګریزې اړیکې د ټینګولو نه وروسته د مشتري او نافع ښتن د هویت څېړنه (د مثال په توګه، کله چې د بانکي حساب معاملې د پیسو د ټاکلې حد څخه زیاتې شي).
- د مشتري د پیژندنې د تازه کولو د تناوب راټیټول.
- د پیسو د یوه معقول حد پربنا د روانو معاملو د څارنې او پلټنې د کچې ټیټول.
- د ټاکلو معلوماتو نه راټولول یا د سوداګریزې اړیکې د موخې او ماهیت د پوهیدلو په خاطر د ټاکلو اقداماتو نه ترسره کول، بلکه د معاملاتو یا سوداګریزې اړیکی د ډول پر بنسټ د موخې او ماهیت استنباط.

که چیرې د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل شک یا نور موارد وجودولري چې لالوړ ګواښ سناریوګانې عملي وي، په دې صورت کې د سي ډي ډي ساده شوي تدبیرونه د منلو وړ ندي.

### حدود

22. د غیرمنظمو معاملو د پاره ټاکل شوی حد د ۱۰ مې سپارښتنې سره سم ۱۵۰۰۰ دالره/یورو دي. هغه مالي معاملې چې د نوموړي حد څخه لوړې وي په هغو حالاتو کې شاملیږي چې معامله د منفرد عمل یا د څو عملونو په ترڅ کې چې په ظاهره توګه یوله بله سره اړیکې لري صورت مومي.

### 23. روانه کره څارنه

24. د مالي موسسو څخه باید وغوښتل شي ترڅو دا امر تأمین کړي چې اسناد، ارقام او معلومات چې د سي ډي ډي د پروسې په پایله کې راغونډ شوي دي د موجوده سوابقو په باب د څیړنو د سرته رسولو له لارې، په تیره بیا د مشتریانو د لا لوړ ګواښ په باب، تل او په منظمه توګه تازه شي او مطابقت ورکړل شي.


© ۲۰۱۳

## د ۱۲ می سپارښتنې په باب تفسیري یادښت
## (معروف سیاسی اشخاص)

مالي موسسې باید ددی امر د تثبیت لپاره معقول تدابیر ونیسي چې آیا د ژوند د بیمې د پالیسۍ ګټه اخیستونکي یا د ګټه اخیستونکې اداري خاوندمشهور سیاسی اشخاص دي او که نه .دا کار باید لږترلږه د بیمې د پیسو د تادیې په وخت ترسره شي. که چیرې لوړ ګواښونه تثبیت شي، له مالي موسسو څخه باید غوښتنه وشي چې پر سی ډی ډی برسیره لاندې چارې هم ترسره شي؛

(أ) لوړ مدیریت د بیمې د پالیسۍ د پیسو تر ورکړې دمخه خبر شي ؛ او

(ب) د بیمې دپالیسۍ د لرونکي ټولې سوداګریزه اړیکې په خورا ځیر سره و څېړل شي او د یوې مشکوکې معاملې په هکله د رپوټ لیکلو په باب فکر وکړي.

## د ۱۳ مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت (مینځګړې بانکداري)

هغه ورته اړیکې کومو ته چې مالي موسسې باید د دې یادښت له (آ) څخه تر (ج) پورې معیارونه وکاروي کیدای شي داسې ډول اړیکې وي چې د بیلګې په توګه آه پولې هاخوا مالي واحدونو او یا د هغو مشتریانو ته د ایمیني معاملاتو او یا د مالي وجوهو د لیږد په وخت رامنځته کیږي.

د *payable -through accounts* اصطلاح هغو منځګړو حسابونو ته اطلاق کوي چې په مستقیمه توګه د دریم اړخ له خوا په سوداګریزو معاملو کې د خپل ځان په استازیتوب کارول کیږي.


© ۲۰۱۳

## د ۱۴ می سپارښتنې په باب تفسیري یادښت
## (د پیسو یا شتمنیو د لیږد خدمات )

یو هیواد مجبور نه دي چې د هغو طبیعي او حکمي اشخاصو لپاره د جواز ورکولو او راجستریشن یو بیل سیستم جوړ کړي کوم چې لا پخوا په هیواد کې د مالي واحدونو په توګه ثبت شویدي او دا جواز لري (لکه څنګه چې د FATF په سپارښتنو کې په ګوته شویده)، او کولی شي د دې جواز او راجستریشن له مخې د پیسو او مالي وجوهو د لیږد خدمات ترسره کړي ، او لا پخوا د FATF د سپارښتنو د ټولو مرعی الاجرا مقتضیاتو تابع وي.

## د ۱۲ می سپارښتنې په باب تفسیري یادښت
## الیکترونیک لیږد *

### الف) موخه

1. شپاړسمه سپارښتنه په دې منظور تدوین شوې چې د ترهګرو او نورو جنایت کارانو له خوا د خپلو مالي وجوهو د خوځولو لپاره د الکترونیکی لیږدنه د بې قید او شرطه لاسرسئ مخنیوئ وشي او دا کار د ترسره کیدو په حالت کې کشف شي. په ځانګړې توګه د دې سپارښتنې موخه داده ترڅو دا امر تأمین کړي چې دالکترونیکي لیږد په مهال د پیسو د استوونکي او اخیستونکي په هکله پوره معلومات لاندې مراجعو ته د لاسرسئ ور وي:

(أ) د قانون پلي کوونکو او یا د عدلي تعقیب مقاماتو ته چې له هغوی سره د ترهګرو او یا نورو جنایتکارانو د پلټنې، عدلي تعقیب او یا د هغوی د شتمنیو د راسپړلو په چارو کې مرسته کوي؛

(ب) د مالي استخباراتو واحدونو ته د شکمنو او غیر عادي فعالیتونو د څیړنې او تحلیل لپاره، او که ضرورت وي، د هغوی د خپرولو لپاره ، او

(ت) آرډر ورکوونکو ، منځګړو او اخیستونکو موسسو ته د هویت او مشکوکو مراوداتو د تثبیت د آسانتیا ، او د کنګل کیدو د مقتضیاتو او هغو بندیزونو د تطبیق لپاره چې د ملګرو ملتونو دامنیت شورا دپریکړه لیکونو لکه ۱۳۲۷ (۱۹۹۹) او پر هغه پورې اړونده پریکړه لیکونه او همدا راز د ترهګرۍ او ترهګریز تمویل د خپلو لپاره په ۱۳۷۳ (۲۰۰۱) پریکړه لیک کې مندرج دي.

2. ددې موخو د ترسره کولو لپاره هیوادونه باید دا توان ولري چې د ټولو الکترونیکي لیږدونو پل تعقیب کړي .له کوچنیو لیږدونو څخه د ترهګریز تمویل د بالقوه ګواښن له امله ، هیوادونه باید مخفي خوا ته د مالي مراوداتو د رجوع دخطر او د مالي مشمولیت په پام کې نیولو سره د مراوداتو حدود تر ټولو ممکنې ټیټې کچې ته ورسوي د FATF موخه دا نه ده چې ډیر سخت معیارونه او یا یوه واحده عملیاتي پروسه تحمیل کړي کومه چې د تادیاتو پر سیستم باندې منفي اغیزه کوي.

### ب) د تطبیق ساحه

3. ۱۲ مه سپارښتنه تر پولې هاخوا الکترونیکي لیږد او د پرله پسې تادیاتو ، او د منځګړو بانکونو له خوا د ترسره کیدونکو تادیاتو په شمول کورني الکترونیکي لیږد په هکله مرعي الاجرأ ده.

4. د ۱۲ مې سپارښتنې موخه دا نده چې لاندې تادیاتو ته ورته معاملې تر پوښښ لاندې ونیسي:

(أ) هر لیږد چې له یوې داسې مراودې څخه سرچینه واخلي په کومه کې چې د کریدت یا دبت او یا پخوا تادیه شوی کارت په واسطه د توکو او خدمتونو پیرودل ترسره شوي وي ، تر هغو چې د کریدت یا دبت یا پخوا تادیه شوي کارت شمیره په مراودې پورې اړوندو ټولو لیږدونو سره مل وي. اما کله چې د کریدت یا دبت یا پخوا تادیه شوي کارت څخه له یوه شخص څخه بل شخص

ته د تادیې د لیږد په توګه ګټه واخیستل شي، دا مراوده د ۱۲مې سپارښتنې تر پوښښ لاندې راځي او اړینده ضروري معلومات باید په پیغام کې شامل وي.

(ب) له مالي موسسې څخه مالي موسسې ته لیږد او تادیات چې په دې حالت کې استوونکی شخص او اخیستونکی شخص داوړه مالي موسسې دي چې د خپل ځان په استازیتوب عمل کوي.

5. هیوادونه کولی شي د پولې هاخوا الکترونیکي لیږدونو لپاره یو لږتر لږه حد وټاکي ( چې تر ۱۰۰۰ یورو یا ډالرو زیات نه وي ) کوم چې د لاندې شرایطو تابع وي:

(أ) هیوادونه باید دا امر تأمین کړي چې مالي موسسې په دې ډول لیږدونو کې لاندې ټکي شامل کړي: (۱) د استوونکي شخص نوم (۲) د اخیستونکي شخص نوم؛ او (۳) د هریوه د باتنکي حساب شمیره ، یا د لیږد یو بینظیره ریفرنس نمبر. د دې ډول معلوماتو د دقیق والي کنترول ضروري نه دی مګر داچې د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل شک ور باندې وشي چې په هغه صورت کې مالي موسسه باید د مشتري په هکله معلومات و څیړي.

(ب) سره له دې هیوادونه کولی شي دا وغواړي چې تر ټاکل شوي حد څخه ښکته الکترونیکي لیږدونه د استوونکي د لازمو او دقیقو معلوماتو لرونکي وي.

## ت) له پولو هاخوا الیکترونیکی لیږد

6. هغه معلومات چې د پولو الکترونیکی لیږدونو سره مل وي باید لاندې ټکي ولري:

(أ) د لیږدونکي شخص نوم؛

(ب) د لیږدونکي شخص د بانکي حساب هغه شمیره چې د معاملې په ترځ کې کارول شویده ؛

(ت) د لیږدونکي شخص آدرس ، یا د ملي هویت شمیره او ، یا د مشتري د هویت شمیره.[35]، یا د زیږدلو ځای اونیټه؛

(ث) د اخیستونکي نوم ؛ا و

(ج) د اخیستونکي د حساب هغه شمیره چې د معاملې په ترځ کې کارول شویده.

7. د یوه حساب د شمیرې د نه موجودیت په صورت کې باید د معاملې د ریفرنس نمبر شامل وي، ترڅو د معاملې پلټنه شونې شي.

8. که چیرې له پولې نه هاخوا څو الکترونیکي لیږدونه د یوه استوونکي له خوا په ډله ایزه توګه اخیستونکي ته دلیږد لپاره په یوه دوسیه کې ترتیب شي ، کیدای شي هغه په ۲ پاراګراف کې د استوونکي په هکله له غوښتنو څخه معاف شي په دې شرط چې په مجموعي دوسیه کې د استوونکي د

[35] د مشتري د هویت شمیره یو داسې شمیره ده چې په بینظیره توګه په لیږدونکي مالي موسسه کې د مشتري هویت تثبیتوي او په ۷ پاراګراف کې دبانکي مراودې د بینظیره ریفرینس نمبر سره توپیر لري. د مشتري د هویت شمیره د هغو سوابقو نماینده ګي کوي چې په استوونکي مالي موسسې کې ثبت دي او لږ تر لږه باید لاندې معلومات ولري: د مشتري آدرس، د ملي هویت شمیره ( د تذکرې نمبر) او یا د زیږدنې ځای او نیټه.

حساب شمیره یا د مراودې بینظیرریفرینس نمبر ( لکه څنګه چې په ۷ پاراګراف کې ذکر شویدي) اود استوونکي لازم او دقیق معلومات او همدا راز په اخیستونکي هیواد کې د اخیستونکي پوره معلومات چې د موندلو وړ وي ، شامل وي.

### ث) کورنۍ الیکترونیکی لیږد

9. هغه معلومات چې د کورني الکترونیکي لیږد سره مل وی هم باید ،لکه څنګه چې د پولې هاخوا الکترونیکي لیږد په برخه کې ورته اشاره وشوه، د استوونکي په باب معلومات ولري مګر داچې دا معلومات له کومې بلې لارې اخیستونکې مالي موسسې او اړونده مقاماتو ته برابر یدلی شي . په وروستني حالت کې دا لازمه ده چې آرډرورکوونکې مالي موسسه یوازې د حساب شماره او یا د مراودې بینظیره ریفرنس نمبر شامل کړي ، پدې شرط چې دا شمیره او یانمبر له استوونکي څخه تر اخیستونکي پورې د مراودې تعقیب شونی کړي.

10. معلومات باید د آرډرورکوونکې مالي موسسې له خوا د دریو ورځو په ترڅ کې وروسته لدې چې داخیستونکې مالي موسسې یا اړونده صلاحیت لرونکي مقام له خوا یې غوښتنه وشي برابرشي. دا ډول معلومات باید د قانون د پلي کوونکو مقاماتو لپاره د هغوی د غوښتنې سره سمدلاسه د لاسرسۍ وړ وي.

### ج) د آرډر ورکوونکو، منځګړو او اخیستونکو مالي موسسو مسئولیتونه

#### آرډر ورکوونکې مالي موسسه

11. آرډر ورکوونکې مالي موسسه باید دا امر تأمین کړي چې په الکترونیکي لیږدونو کې د استوونکي او اخیستونکي په باره کې لازم او دقیق معلومات شامل دي.

12. آرډر ورکوونکې مالي موسسه باید دا امر تأمین کړي چې تر ټاکلي حد ښکته له پولې هاخوا الکترونیکي لیږدونو کې د استوونکي او اخیستونکي نومونه او د هریوه د حساب شمیره ، یا د مراودې بینظیره ریفرینس نمبر شامل وي.

13. آرډرورکوونکې مالي موسسه باید د ۱۱ مې سپارښتنې سره سم د استوونکي او اخیستونکي په هکله ټول راغونډ شوی معلومات وساتي.

14. دپورتنیو مقتضیاتو د نه موجودیت په صورت کې آرډر ورکوونکې مالي موسسه باید اجازه ونلري چې الکترونیکي لیږد ترسره کړي.

#### منځګړې مالي موسسه

15. ترپولې هاخوا الکترونیکي لیږدونوپه ترڅ کې هغه مالي موسسې چې د لیږدونو د دې لړۍ یو منځنۍ عنصر پروسس کوي باید دا امر تأمین کړي چې د الکترونیکي لیږد سره مل د استوونکي او اخیستونکي ټول معلومات وساتل شي.


© ۲۰۱۳

16. که چیرې تخنیکي نیمګړتیاوې دا اجازه ورنکړي چې ترپولې هاخوا الکترونیکي لیږد سره مل د اخیستونکي او استوونکي په باب ټول معلومات د اړونده کورني لیږد سره وساتل شي ،د آرډر ورکوونکي یا بلې منځګړې مالي موسسې څخه د ټولو ترلاسه شوو معلوماتو باید لږترلږه د پنځو کالو لپاره په اخیستونکې منځګړې مالي موسسې کې وساتل شي.

17. منځګړې مالي موسسه باید دهغو ترپولې هاخوا الکترونیکي لیږدونو دپیژندنې په هکله لازم تدابیر ونیسي کوم چې د اخیستونکي او یا استوونکي په باب لازم معلومات ونلري . دا ډول تدابیر باید د( straight -through ) له پروسې سره مطابقت ولري.

18. یوه منځګړې مالي موسسه باید د ګواښ په ارزونه ولاړ اغیزمن طرزالعملونه او پالیسۍ ولري ترڅو وکړای شي: (۱) پوه شي چې څه وخت د یو الکترونیکي لیږد چې د اخیستونکي یا استوونکي په باب لازم معلومات ونلري اجرا، رد یا وځنډوي ؛ (۲) اړونده تعقیبي اقدامات ترسره کړي.

## اخیستونکې مالي موسسه

19. یوه اخیستونکې مالي موسسه باید دهغو ترپولې هاخوا الکترونیکي لیږدونو دپیژندنې په هکله لازم تدابیر ونیسي کوم چې د اخیستونکي او یا استوونکي په باب لازم معلومات ونلري. پدې ډول تدابیرو کې باید تر مراودې وروسته او یا هم که چیرې عملي وي د مراودې په ترڅ کې نظارت شامل وي.

20. یوه اخیستونکې مالي موسسه باید د الکترونیکي لیږد د تلاسه کوونکي شخص هویت تثبیت کړي ، او که چیرې دا کار پخوا نه وي ترسره شوي ، نو ترلاسه شوي معلومات دې د ۱۱ مې سپارښتنې سره سم حفظ کړي.

21. یوه اخیستونکې مالي موسسه باید د ګواښ په ارزونه ولاړ اغیزمن طرزالعملونه او پالیسۍ ولري ترڅو وکړای شي: (۱) پوه شي چې څه وخت د یو الکترونیکي لیږد چې د اخیستونکي یا استوونکي په باب لازم معلومات ونلري اجرا، رد یا وځنډوي ؛ (۲) اړونده تعقیبي اقدامات ترسره کړي.

## ح) د پیسو او شتمنیو د لیږد د خدماتو چلوونکي

22. د پیسو او ارزښتونو د لیږد د خدماتو(MVTS) له وړاندې کوونکو څخه باید وغوښتل شي چې په ټولو هغو هیوادونو کې چې یا په مستقیمه توګه او یا هم د خپلو نماینده ګیو له لارې فعالیت کوي ، د ۱۲مې سپارښتنې ټول مقتضیات مراعات کړي . په هغو حالاتو کې چې د دې خدماتو وړاندې کوونکي هم د استوونکي او هم د اخیستونکي خواوې کنټرولوي ، د (MVTS)وړاندې کوونکي باید:

(أ) د دواړو استونکي او اخیستونکي ټول معلومات په پام کې وساتي تر څو دا معلومه کړي چې آیا د STR یو رپوټ جوړ شي او که نه ؛او

(ب) په هرهغه هیواد کې چې د یوه مشکوک الکترونیکي لیږد له امله اغیزمن شوی وي باید د STR یو رپوټ جوړ او د مالي استخباراتو واحد ته دې وسپارل شي.

## په دې سپارښتنه کې د کارول شوو اصطلاحاتو معنی

| | |
|---|---|
| دقیق (accurate) | دا صفت د هغو معلوماتو لپاره کارول کیږي چې د دقت له امله چیک شوي وي. |
| جمعي لیږد (batch transfer) | د څو انفرادي الکترونیکي لیږدونو یوه مجموعه ده چې یوځای یوې مالي موسسې ته استول کیږي ، مګر اخیستونکي یې ښایي یو یا څو تنه وي. |
| اخیستونکی (beneficiary) | طبیعي یا حکمي شخص یا حکمي تنظیم دی چې د استوونکي له خوا د الکترونیکي لیږد د ترلاسه کوونکي په توګه نومول شوی وي. |
| اخیستونکې مالي موسسه (beneficiary financial institution) | هغه مالي موسسه چې د آرډر ورکوونکې موسسې له خوا په مستقیمه توګه او یا هم د یوې منځګړې مالي موسسې له لارې یو الکترونیکي لیږد ترلاسه کوي او مالي وجوه اخیستونکي ته ورکوي. |
| پوښلې تادیهٔ (cover payment) | هغه الکترونیکي لیږد ته وایي چې د آرډر ورکوونکې مالي موسسې له خوا اخیستونکې مالي موسسې ته د تادیې د پیغام سره یوځای د آرډر ورکونکې موسسې له خوا اخیستونکې موسسې ته دیوې یا څو منځګړومالي موسسو له لارې دپیسو د تمویل هدایات (پوښښ) هم یوځای وي. |
| تر پولو هاخوا الکترونیکي لیږد (cross -borader wire transfer) | دا هر هغه الکترونیکي لیږد ته وایي چې آرډر ورکوونکی مالي موسسه او اخیستونکې مالي موسسه په بیلابیلو هیوادونو کې وي .دا اصطلاح پر هغوتپولو ځنځیري الکترونیکی لیږدونو باندې هم دلالت کوي چیرې چې حد اقل د د ښکیلو مالي موسسو څخه یوه یې په یوه بل هیواد کې وي. |
| کورنی الکترونیکي لیږد (domestic wire transfer) | دا هر هغه الکترونیکي لیږد ته وایي چې آرډر ورکوونکی مالي موسسه او اخیستونکې مالي موسسه په یوه هیواد کې. له همدې امله دا اصطلاح پر هغوتپولو ځنځیري الکترونیکی لیږدونو باندې هم دلالت کوي چې د یوه هیواد د پولو دننه ترسره کیږي، که څه هم ښایي کارول شوی د تادیې د پیغام سیستم په یوه بل هیواد کې وي . د اصطلاح د هغو ځنځیري الکترونیکي لیږدونو په هکله هم دلالت کوي چې داروپاداقتصادي ساحې (EEA)."دپولو په دننه کې ترسره شوي وي |
| منځګړې مالي موسسه (intermediary financial institution) | په پوښلو تادیو کې ښکیلې مالي موسسې یا داسې یو تسلسل چې الکترونیکي لیږد د آرډر ورکوونکې مالي موسسې او اخیستونکې مالي موسسې او یا یوې بلې منځګړې مالي موسسې په استازیتوب اخلي او یا یې استوي. |
| آرډرورکونکې مالي موسسه | هغه مالي موسسه چې الکترونیکي لیږد پیل کوي او د پیل کوونکي له |

[36] یو سازمان کولی شي د ۱۲ مې سپارښتنې د موخو او دهغو د رعایت د ارزولو لپاره غوښتنه وکړي چې FATF د ملي کچې څخه پورته د صلاحیت د یوې حوزې په توګه و پېتیل شي.

| | |
|---|---|
| (ordering financial institution ) | خوا د غوښتنې په ترلاسه کولو د مالي وجوهو لیږد ترسره کوي. |
| استوونکی( originator) | د هغه حساب مالک چې له خپل حسابه د الکترونیکي لیږد اجازه ورکوي،یا د حساب د نشتوالي په صورت کې ، هغه طبیعي یا حکمي شخص چې د الکترونیکي لیږد لپاره خپله غوښتنه آرډر ورکوونکې مالي موسسې ته سپاري. |
| تاکلی الکترونیکی لیږد qualifying wire ) (transfers | تر پولې ها خوا الکترونیکي لیږد چې ترتاکلي حدزیات وي .د ۱۲ مې سپارښتنې د تفسیري یادښت ۵ پاراګراف ته مراجعه وکړی. |
| لاژم ( required) | د هغه حالت د توضیح لپاره کارول کیږي چې دضروری معلوماتو ټول عناصر موجود وي د ۲ پاراګراف په (أ)، (ب) او (ت) فقرو کې د *استوونکي لازم معلومات* او په () او () فقرو کې د د *اخیستونکي لازم معلومات* بیان شویدي. |
| مسلسلې تادیې( serial (payment | دا اصطلاح د تادیو د لړۍ پر یوه تسلسل دلالت کوي چیرې چې الکترونیکی لیږد او د تادیی مل پیغام یوځای د آرډر ورکوونکي مالي موسسې څخه په مستقیمه توګه او یا د یوه یا څو نورو منځګړو مالي موسسو له لارې (لکه منځګړي بانکونه ) د اخیستونکي مالي موسسې ته استول کیږي. |
| مستقیم پروسس – (straight through processing) | د تادیې مراودات چې له الکترونیکی لارې د یوبل له مداخلې پرته ترسره کیږي. |
| د مراودې خاص ریفرینس نمبر (unique transaction reference number) | د تورو، اعدادو او سمبولونو یو خاص ترکیب دی چې د تادیې او اجرا د سیستم د پروتوکولونو له مخې او یا د الکترونیکي لیږد د پیغامونو د سیستم له لارې د تادیې د خدماتو د اجرا کوونکې له خوا ټاکل کیږي. |
| الکترونیکی لیږد (wire transfer) | هغه بانکي مراوده ده چې د استوونکي په استازیتوب د یوې مالي موسسې له خوا په الکترونیکه توګه د اخیستونکي لپاره د یو مقدار پیسو د استولو په منظور د اخیستونکې مالي موسسې سره ترسره کیږي. دا مهمه نده چې استوونکي او اخیستونکی یو شخص دی او که نه؛ |

37 دا د پوهیدلو وړ ده چې د الکترونیکی انتقالاتو اجرا کیدای شي د یوه خالص منل شوي ترتیب له لارې ترسره شي. دا تفسیري یادښت هغو اطلاعاتو ته ګوته نیسي کوم چې باید د یوې استوونکې مالي موسسې په هدایاتو کې یوې اخیستونکې مالي موسسې ته استول کیږي ، له هغې ډلې نه د یوې منځګړې مالي موسسط له لارې، چې اخیستونکي ته د بیسو تادیه شونې کړي. د مالي موسسو تر منځ هرډول خالص منل شوی ترتیب بنایی د ۴ پاراګراف د (ب) بند له مخې معاف شي.

## د ۱۷ مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت (په دریم اړخ اتکا)

1. دا سپارښتنه د اجنسي ډوله اړیکو په برخه کې د اجرا وړ نه دئ. په دریم اړخ باندې د اتکا په سناریو کې، دریم اړخ باید د سي ډي ډي او د سوابقو د ساتلو د مقتضیاتو تابع او د ۱۰ مې او ۱۱ مې سپارښتنې سره سم تر کنترول ، څارنې او نظارت لاندې وي. دریم اړخ زیاتره وخت له مشتري سره روانه سوداګریزه اړیکه لري چې د اتکا لرونکې ادارې او مشتري تر منځ له اړیکو سره تړون نلري او د سي ډي ډي تدابیرو په هکله خپل طرزالعملونه لري. دا کار کیدای شي د بهرنۍ سرچینې او اجنسي ډوله اړیکو له سناریو سره مخالفت ولري، چیرې چې اجنسي د سي ډي ډي تدابیر د وړاندې کوونکې مالي ادارې په استازیتوب د خپلو طرزالعملونو سره سم کاروي او د او د هغوی د اغیزمن تطبیق د څارنې په برخه کې د وړاندې کوونکي مالي ادارې تابع وي.
2. د ۱۷مې سپارښتنې د موخو لپاره ، د «اړونده صلاحیت لرونکو مقاماتو» اصطلاح: (۱) هغه مورنۍ مقام دئ چې باید دډلې دپالیسیو د پوهیدلو او کنترول لپاره په ډله کې برخه ولري و او (۲) کوربه مقامات دي چې باید د څانګو او نماینده ګیو په چارو کې ښکیل وي.
3. د «دریم اړخ» اصطلاح هغو مالي موسسو او یا غیرمالي شرکتونو یا مسلکونو تا اشاره ده چې تر څارنې او نظارت لاندې وي او د ۱۷مې سپارښتنې له مقتضیاتو سره سمون ولري.

 © ۲۰۱۳

## د ۱۸ مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت
## (کورنۍ کنترول او بهرنۍ څانګې او نماینده ګۍ)

1. دپیسو د تطهیر اوترهګریز تمویل پرضد دمالي موسسو پروګرامونه بایدلاندې ټکي ولري:

(أ) د داخلي پالیسیو، طرزالعملونو اوکنترول تدوین او د هغو په ډله کې د اصولو درعایت د مدیریت ترتیبات او د تقرر په مهال د داسې یوه مناسب طرزالعمل څخه ګټه اخیستل چې دکارمندانو په تقرر کې عالي معیارونه وکارول شي؛

(ب) د کارمندانو د دوامداره زده کړو برنامې؛ او

(ت) د سیستم د آزموینې لپاره دیوه مستقل تفتیش وظیفه.

2. د تدابیرو ډول او اندازه باید د ترهګریزتمویل او پیسو د تطهیر له ګواښ او همدا راز د سوداګریزې معاملې له حجم سره متناسب وي.

3. له مقرراتو سره د مطابقت په تدابیرو کې باید د مدیریت په سطحه کې د مطابقت د چارو د څارنې لپاره د یوه شخص توظیف شامل وي.

4. د ترهګریز تمویل او دپیسو د تطهیر پر ضد دمالي ګروپ د مبارزې پروګرامونه باید د ګروپ په ټولو څانګو او د اکثریت مالکیت لرونکو نماینده ګیو باندې د تطبیق وړ وي. په دې پروګرامونو کې باید پورته له (أ) څخه تر (ت) پورې ټول یاد شوي اقدامات شامل وي او د ګروپ د ټولو څانګو او د اکثریت مالکیت لرونکو نماینده ګیو لپاره مناسب وي. دا ډول پروګرامونه باید په اغیزمنه توګه دټولو څانګو او د اکثریت مالکیت لرونکو نماینده ګیو له خوا تطبیق شي. په دې ګرامونو کې باید د معلوماتو د شریکولو طرزالعملونه شامل وي چې د سی ډی ډی دموخواو د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل د ګواښ د مدیریت لپاره ضروري دي. د AML/CFT د موخو د ترسره کولو لپاره باید د ټولوڅانګو او نماینده ګیو له خوا د مشریانو، حساب او معاملې دمعلوماتو سره یوځای د AML/CFT له وظایفو سره دمطابقت او تفتیش نتایج هم برابر شي. د تبادله شوو معلوماتو د خوندیتوب او کارولو لپاره باید لازم تدبیرونه موجود وي.

5. د بهرنیو فعالیتونو په حالاتو کې کله چې د کوربه هیواد دAML/CFT حد اقل مقتضیات د کورنیو مقتضاتو څخه آسانه وي، له مالي موسسو څخه باید وغوښتل شي ترڅو دا امر تأمین کړي چې په کوربه هیواد کې څانګې او اکثریت مالکیت لرونکې نماینده ګۍ باید کورنې مقتضیات تر هغه ځایه چې کورني قوانین اجازه ورکوي تطبیق کړي. که چیرې کوربه هیواد د پورتنیو اقداماتو د مناسب تطبیق اجازه ورنکړي، مالي ګروپونه باید د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل د مخنیوي لپاره لازم اضافي اقدامات ترسره کړي او د خپل هیواد ناظرینو ته خبر ورکړي. که چیرې دا اضافي اقدامات کافي نه وي نو د کورني هیواد باصلاحیته مقامات باید اضافي نظارتي لارې چارې په پام کې وساتي له هغې ډلې څخه پر مالي ګروپ باندې د لا زیات کنترول ټینګول او د لزوم په صورت کې باید له مالي ګروپ نه غوښتنه وشي چې په کوربه هیواد کې خپل عملیات وتړي.

## د ۱۹ مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت
## (د لوړ ګواښ لرونکي هیوادونه)

1. په هغو سي ډي ډي اقداماتو کې چې د مالي موسسو له خوا باید ترسره شي، د لسمې سپارښتنې د ۲۰ پاراګراف تدابیر او ټول هغه نور اقدامات چې د ګواښونو په کمولو کې ورته اغیزه ولري هم شاملیدای شي.

2. دمتقابلو تدابیرو مثالونه (کیدای شي په هغو کې ټول هغه اقدامات چې د ګواښونو په کمولو کې ورته اغیزه ولري هم شامل شي ) چې د هیوادونو له خوا نیول کیدای شي لاندې دي:

(أ) له مالي موسسو څخه د نویو ځانګړو سي ډي ډي د کارولو غوښتنه.

(ب) د رپوټ ورکولو د نوي او پرمختللې میکانیزم رواجول او یا په منظمه توګه د مالي معاملاتو رپوټ ورکول.

(ت) د اړونده هیواد د مالي موسسو د څانګو او نماینده ګیو د پرانیستلو ردول، او یا ددې امر په پام کې نیول چې اړونده مالي موسسه په داسې یوه هیواد پورې اړه لري، چیرې چې ضروري AML/CFT سیستمونه نشته.

(ث) په اړونده هیواد کې د مالي موسسو د څانګو او نماینده ګیو د پرانیستلو ردول، او یا ددې امر په پام کې نیول چې اړونده مالي موسسه به په داسې یوه هیواد کې وي، چیرې چې ضروري AML/CFT سیستمونه نشته.

(ج) په ټاکل شوي هیواد او یا په دې هیواد کې له تشخیص شوو اشخاصو سره د سوداګریزو اړیکو او یا مالي معاملاتو محدودول.

(ح) مالي موسسې د سي ډي ډي د برخو د اجرا لپاره پر داسې دریمو اړخونو باندې له اتکا څخه منع کول کوم چې په ټاکل شوي هیواد کې مقعیت ولري.

(خ) له مالي موسسو څخه دا غوښتل چې د ټاکل شوي هیواد له مالي موسسو سره بانکي مناسبات بررسي، تعدیل او د لزوم په صورت کې لغوه شي.

(د) په ټاکل شوي هیواد کې د مالي موسسو پر څانګو او نماینده ګیو باندې د نظارتي ارزونې او یا بهرني تفتیش د مقتضیاتو د زیاتولو غوښتنه.

(ذ) په ټاکل شوي هیواد کې د مالي ګروپونو د هرې څانګې او یا مالي نماینده ګۍ د بهرني تفتیش د مقتضیاتو د زیاتولو غوښتنه.

باید د دې امر د تأمین لپاره اغیزمن تدابیر ونیول شي چې مالي موسسې د نورو هیوادونو د AML/CFT سیستمونو د کمزورتیاوو له اندیښنو نه خبر شي.


© ۲۰۱۳

## د ۲۰ مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت
## (د مشکوکو معاملاتو رپوټ)

1. په۲۰ مه سپارښتنه کې جنایي فعالیت ته د مراجعې مقصد ټول هغه جنایي اعمال دي چې د پیسو د تطهیر ماقبل جرم وګڼل شي یا لږترلږه هغه جرمونه دي چې د ۳مې سپارښتنې مطابق د پیسو د تطهیر ماقبل جرم وګڼل شي. هیوادونه دې ته سخت هڅول کیږي چې د نومورو دوو بدیلونو څخه لومړي بدیل وټاکي.
2. په ۲۰ مه سپارښتنه کې ترهګریز تمویل ته د اشارې مقصد د ترهګریزو اعمالو او همدارنګه ترهګریزو سازمانونو یا انفرادي ترهګرو تمویلول دي حتی که دوی د کوم ترهګریز عمل یا اعمالو سره اړیکه هم ونلري.
3. ټول مشکوک معاملات، د ناتمامه معاملاتو په شمول، باید د معاملې د اندازې په پام کې نیولو سره رپوټ ورکړل شي.
4. د رپوټ غوښتنه باید نیغ الزامی مکلفیت وي، او د مشکوکو معاملو د رپوټ هر غیرمستقیم یا ضمنی مکلفیت، که د پیسو د تطهیر یا د ترهګریز تمویل د جرم د ممکنه عدلي تعقیب په دلیل یا په بل ډول (په اصطلاح غیرمستقیم رپوټ ورکول) وي، د منلو وړ ندی.

## د ۲۲مې او ۲۳ مې سپارښتنو په باب تفسیري یادښت (DNFBPs)

1. د معاملاتو د پاره ټاکل شوي حدود دادي:

- کازینوګانې (د ۲۲مې سپارښتنې مطابق) –۳۰۰۰ دالر/یورو
- د ګرانو فلزاتو معامله چیان او د ګرانو ډبرو دلالان د نقدي معاملو په ترڅ کې (د ۲۲مې او ۲۳ مې سپارښتنو مطابق) –۱۵۰۰۰ دالر/یورو

هغه مالي معامله چې د نوموړو حدودو څخه لوړه وي په هغو حالاتو کې شاملیږي چې معالمه د یوه عمل یا څو عملونو په ترڅ کې چې یو د بل سره اړیکه ولري، ترسره کیږي.

2. هغه تفسیري یادښت چې د مالي موسسو په باب صدق کوي په عین حال کې په اړوندو مواردو کې په ټاکل شویو غیرمالي کارونو او مسلکونو پورې هم اړه نیسي. د ۲۲مې او ۲۳مې سپارښتنو د رعایت په موخه هیوادونه دي ته اړتیا نلري چې هغه قوانین یا د اجرا وړ وسایل نافذ کړي کوم چې یوازې په وکیلانو، دارالوکالو، محاسبانو او نورو موسسو او ټاکل شوو غیرمالي شرکتونو او مسلکونو پورې اړه نیسي، مګر داچې دغه موسسې یا مسلکونه په اړونده فعالیتونو پورې ترلو قوانینو یا د اجرا وړ وسایلو کې شامل نه وي.

## د ۲۲مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت
## (DNFBPs – د مشتریانو کره څېړنه)

1. د غیرمنقولو شتمنیو استازي باید د ۱۰مې سپارښتنې غوښتنې هم د ملکیت د مشتریانو او هم د پلورونکو په اړه رعایت کړي.

2. کازینوګانې باید ۱۰مه سپارښتنه پلې کړي او د هغو مشتریانو هویت وڅیړي چې مالي معاملې یې ۳۰۰۰ دالر/یورو پورې او یا د هغه نه زیات وي . د کازینو د ننوتلو په وره کې د مشتریانو د هویت پیژندل کیدای شي، مګر حتمي نه ده، چې بسیا ولري. هیوادونه باید د کازینوګانو څخه وغواړي ترڅو دا تامین کړي چې د یوه ټاکلي مشتري د کره څېړنې معلومات د هغو معاملو سره وصل کړي چې دی یې په کازینو کې ترسره کوي.

## د ۲۳ مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت
## (DNFBPs – نور اقدامونه)

1. د وکیلانو، دارالوکالو، نورو خپلواکه حقوقي کار کوونکو، او هغو محاسبانو څخه چې د خپلواکه حقوقي کارکوونکو په توګه عمل کوي غوښتنه نه کیږي چې د مشکوکو معاملو په باب رپوټ ورکړي که چیرې د نظر وړ معلومات په داسې حالاتو کې په لاس راغلي وي چې هغوي د مسلکي محرمیت یا حقوقي مسلکي امتیاز تابع وي.

2. دا د هر هیواد دنده ده چې معلومه کړي کوم موضوعات په حقوقي مسلکی امتیاز یا مسلکي محرمیت پورې اړه لري. داد معمول په توګه په هغو معلوماتو کې شاملیږي چې وکیلان، دارالوکالې یا نور خپلواکه حقوقي کارکوونکي دخپلو موکلینو یا د هغوی له لارې: (ا) دخپلو موکلینو د حقوقي دریځ په ترڅ کې، یا (ب) د موکل څخه د دفاع یا استازیتوب د دندې د ترسره کولو په ترڅ کې د قضایي، اداري حکمیت یا منځګړیتوب د اجراآتو په ترڅ یا په اړه ترلاسه کوي.

3. هیوادونه کولای شي وکیلانو، دارالوکالو، نورو حقوقي کارکوونکو او خپلواکه حقوقي محاسبانو ته اجازه ورکړي چې خپل STR رپوټ د خپلې ځارنې اړونده سازمانونو ته ولیږي په دې شرط چې د دغو سازمانونو او FIU ترمنځ د همکارۍ لازم شرایط موجود وي.

4. که چیرې وکیلان، دارالوکالې، نور خپلواکه حقوقي کارکوونکي، او هغه محاسبان چې د خپلواکه حقوقي کارکوونکو په توګه عمل کوي هڅه وکړي خپل مشتري په غیرقانوني چارو کې د ښکیلیدو څخه راوګرځوي، دا کار د افشاکولو معنی نلري.


© ۲۰۱۳

## د ۲۴ مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت
## (د حکمي اشخاصو شفافیت او نافع مالکیت)

1. ذیصلاح مراجع باید ددې توان ولري چې د شرکتونو او نورو حکمي اشخاصو د نافع مالکیت او کنترول په باب بسیا، دقیق او جاري معلومات (دنافع مالکیت معلومات[38]) کوم چې په هیواد کې تاسیس کیږي[39]، په لاس راوړي یا به په ښه وخت کې هغو ته لاسرنه پیدا کړي. هیوادونه کولای شي داسې یو میکانیزم چې په وړباندې باورلري دې موخې ته د رسیدو د پاره غوره کړي، که څه هم هغوی باید د هغو حداقلو غوښتنو څخه اطاعت وکړي چې په لاندې برخه کې ورته اشاره شوې ده. همدارنګه ډېر امکان لري چې هیوادونه دې ته اړه پیدا کړي چې د میکانیزمونو یو ترکیب خپلې موخې ته د رسیدلو په لاره کې وکاروي.

2. هیوادونه باید د حکمي اشخاصو په باب د بسیا شفافیت د برابرولو په پروسه کې داسې میکانیزمونه ولري چې:

(أ) په هیواد کې د حکمي اشخاصو عمده څرنګوالی، شکلونه او خصوصیات راوپیژني او تعریف یې کړي؛

(ب) (۱) د حکمي اشخاصو د جوړولو؛ او (۲) د عمده معلوماتو او نافع مالکیت د لاسته راوړلو او ثبتولو پروسې راوپیژني او تعریف یې کړي؛

(ت) پورتني معلومات د عوامو په اختیار کې کیږدي؛ او

(ث) په هیواد کې د جوړشویو بیلابیلو حکمي اشخاصو په اړه د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل خطرونه وڅیړي.

### الف) عمده معلومات

3. ددې د پاره چې معلوم شي چې د یوه شرکت نافع خاوندان څوک دي، ذیصلاح مراجع د یوه شرکت په باب ټاکلو عمده معلوماتو ته اړتیا لري چې په هغو کې لږترلږه د حقوقي مالکیت او د کنترول جوړښتنې لکه د شرکت دریځ او واکونه، شریکان او مدیران شامل وي.

4. ټول شرکتونه چې په یوه هیواد کې جوړ شویدي باید دهغه هیواد د شرکتونو د راجستر په دفتر[40] کې ثبت شوی وي. دې خبرې ته له پامه پرته چې کوم میکانیزمونه به د نافع مالکیت د معلوماتو د لاسته راوړلو

---

38 د حکمي اشخاصو لپاره د نافع ملکیت معلومات هغه معلومات دي چې د ۱۰مې سپارښتنې د تفسیري یادښت د ۵ پاراګراف د (ب) فقرې په (i) بند کې درج دي. د ۱۰مې سپارښتنې د تفسیري یادښت د ۵ پاراګراف د (ب) فقرې په (i) بند کې یاد شوي کنترول کوونکي سهم لرونکي کیدای شي د حدودو تابع وي، دبیلګې په توګه هغه اشخاص چې د شرکت د یوې ټاکلې برخې (مثلاً ۲۵٪) څخه زیاته ونډه ولري.

39 د یوه حکمي شخص د جوړولو نه موخه د ټو موسسو شراکت او یا کوم بل کارول شوی میکانیزم دی.

40 "د شرکتونو د راجستر دفتر" په یوه هیواد کې د دولتي راجستر ځانګه ده چې سهامي شرکتونه او یا انفرادي جوازونه هلته ثبتیږي او معمولاً د شرکتونو له خوا یا د هغوی لپاره فعالیت کوي. د ثبت دا اډره هغه معلومات نه ساتي چې شرکتونه یې د خپل ځان لپاره ساتي.

او ثبت د پاره وکارول شي (د (ب) برخې ته مراجعه وکړی)، یو لړ معلومات د شرکت په باب شته چې باید د شرکت له خوا[41] د یوه حتمي شرط په توګه په لاس راشي او ثبت شي. حداقل عمده معلومات چې د یوه شرکت له خوا ترلاسه کېږي او ثبت کېږي باید لاندې ټکي ولري:

(أ) د شرکت نوم، د نوم د ثبتولو تصدیق ، حقوقي بڼه او دریځ ، د ثبت شوي دفتر پته، حاکم عمده واکونه(د مثال په توګه اساسنامه او مقررات) ، د مدیرانو لست ؛ او

(ب) دبرخه لرونکو د اندراج دفتر، لکه د برخه لرونکو او غړو نومونه او د هر برخه لرونکي د برخو شمیر[42] او د برخوکتګورۍ (د اړونده رایو د حقوقي ماهیت په شمول).

5. د شرکت د راجستر په دفتر کې باید ټول هغه پورتني معلومات چې د ۴(الف) په پراګراف کې یادشول ثبت شي.

6. شرکت باید د هیواد په دننه کې د ۴(الف) په پراګراف کې یادشوي معلومات یا په خپل ثبت شوي دفتر کې یا په یوه بل ځای کې چې د راجستر دفتر له هغه نه باخبر وي وساتي. که چیرې شرکت د راجستر دفتر د نافع مالکیت معلومات د هیواد په دننه کې ساتي، ضروري نه ده چې برخه لرونکي په هیواد کې ثبت شي په دې شرط چې شرکت دغه معلومات د غوښتنې په وخت کې بې له ځنده برابرکړای شي.

## ب) د نافع مالکیت معلومات

7. هیوادونه باید تأمین کړي چې: (الف) د یوه شرکت د نافع مالکیت په باب معلومات دهغه شرکت له خوا په لاس راشي او د هیواد په دننه په یوه معلوم ځای کې موجود دي، یا (ب) داسې میکانیزمونه شته چې د یوه شرکت نافع معلومات د یوې واکلرونکې مرجع له خوا په وخت سره معلومیدلای شي.

8. د ۷ پراګراف د غوښتنو د برابرولو په موخه هیوادونه باید یو یا څو لاندې میکانیزمونه وکاروي چې:

(أ) د شرکتونو یا د راجستر د دفترونو څخه وغواړي چې خپل د نافع مالکیت په باب نوي معلومات په لاس راوړي او ویې ساتي ؛

(ب) د شرکتونو څخه وغواړي چې خپل د نافع مالکیت په باب د نوي معلوماتو د لاسته راوړلو او ساتلو په موخه معقول تدابیر[43] ونیسي؛

(ت) د موجوده معلوماتو څخه لکه (۱) هغه معلومات چې د مالي موسسو او/یا غیرمالي ادارو یا مسلکونو له خوا په لاس راغلي وي[44] ؛ (۲) هغه معلومات چې د نورو واک لرونکو مراجعو سره د شرکتونو د حقوقي او انتفاعي مالکیت په باب راټول شویدي (لکه د شرکتونو د راجستر

41 دا معلومات کیدای شي پخپله د شرکت له خوا او یا د شرکت تر مسئولیت لاندې یو دریم شخص له خوا ثبت شي.

42 دا حکم د ټولو ثبت شوو ونډو د نومیز خاوند په باب صدق کوي.

43 نیول شوي تدابیر باید د ګواښ د کچې او یا د شرکت د مالکیت د جوړښت د بیچلیتوب یا د کنترول کوونکو ونډه والو له ماهیت سره متناسب وي.

44 هیوادونه باید دا توان ولري چې په لازم مهال دا معلومه کړي چې آیا یو شرکت د هیواد دننه په یوه مالي جوړښت کې حساب لري او که نه.

دفترونه، د مالیاتو اداري یا نور د مالي چارو تنظیم کوونکي او نور) ؛ (۳) هغه معلومات چې د (الف) پراګراف مطابق په خپله په شرکتونو کې موجود دي ؛ او (۴) د اسهامو د راکړې ورکړې په لست کې د شاملو شرکتونو په باب موجود معلومات، چې د بربنډ ولو غوښتنې (څه د اسهامو د راکړې ورکړې د قواعدو له لارې یا د قانون یا نورو اجراکیدونکو وسیلو له لارې) د نافع مالکیت د بسیا روڼتوب د پاره شرایط وضع کوي، د ۱۰ او ۲۲ سپارښتنو مطابق ګټه واخلي.

9. دې خبرې ته له پامه پرته چې د نومړو میکانیزمونو له ډلې څخه به کوم میکانیزم وکارول شي هیوادونه باید تامین کړي چې شرکتونه به د واک لرونکو مراجعو سره د نافع خاوند د معلوملو په لاره کې تر ممکنه حده پوره همکاري کوي. د غه همکاري باید لاندې تکې ولري:

(أ) شرکت په هیواد کې میشته یو یا څو طبیعی اشخاصو ته واک ورکوي[45] چې دواکمنو مراجعو په وړاندې د ټولو عمده معلوماتو او دنافع مالکیت موجوده معلوماتو د برابرولو په هکله او نومړو مراجعو ته د نورې مرستې کولو مسئولیت په غاړه واخلي؛ او/یا

(ب) شرکت په هیواد کې یوې غیرمالي اداري یا مسلک ته واک ورکوي چې دواکمنو مراجعو په وړاندې د ټولو عمده معلوماتو او دنافع مالکیت موجوده معلوماتو د برابرولو په هکله او نومړو مراجعو ته د نورې مرستې کولو مسئولیت په غاړه واخلي؛ او/یا

(ت) نور پرتله کیدونکي ګامونه چې د هیواد له خوا په مشخصه توګه پیژندل شوي وي او دا ډول همکاري په اغیزمنه توګه تامین کړای شي.

10. ټول اشخاص، مقامونه او سازمانونه ، او خپله شرکت (یا مدیران، له منځه وړونکي یا نور د شرکت په انحلال کې دخیل اشخاص) باید نومړي معلومات او سوابق د شرکت د له منځه وړلو یا ترېدلو یا انحلال نه وروسته لږترلږه د پنځو کلونو د پاره، یا له هغه نیټې څخه چې شرکت نور د یوه مسلکي واسط موسسه‌یا مالي موسسه مشتري نه وي، د پنځو کلونو د پاره وساتي.

## ت) د روانو او کره معلوماتو په باب په وخت لاسرسنه

11. هیوادونه باید داسې میکانیزمونه ولري چې تامین کړي چې د راجستر په دفتر کې د شرکتونو مندرج عمده معلومات سم وي او په منظمه توګه تازه کیږي. هیوادونه باید وغواړي چې هرډول د ۷ پراګراف مندرج موجود معلومات سم وي او تر ممکنه حده پوره جاري او تازه وساتل شي او معلومات باید د هر بدلون نه ورسته د یوه معقول مهال په موده کې بیا تازه شي.

12. واکمن مراجع، په تیره بیا د قانون مجري مقامونه، باید ټول هغه واکونه په اختیار کې ولري کوم چې په اړونده خواوو کې د موجود عمده معلوماتو او د نافع د مالکیت د پروخت لاسرسنې د لاسته راوړلو د پاره ضروري وي.

13. هیوادونه باید د خپلو شرکتونو د راجستر دفتر څخه وغواړي چې د دوی عمومي معلوماتو او لږترلږه هغو معلوماته چې د پورتني پراګراف په ۴ (الف) کې راغلي دي د مالي موسسو ، غیرمالي ادارو او

[45] د شرکت د عامل هیئت غړي یا لوړ مدیریت‌ښایي د شرکت له خوا دې ډول صلاحیت ورکولو ته اړتیا ونه لري.

مسلکونو او واکمنو مقامونو پروخت لاسرسنه آسانه کړي. هیوادونه همدارنګه باید د پورتني پراګراف په ۴ (الف) کې راغلو معلوماتو ته د مالي موسسو، غیرمالي ادارو او مسلکونو او واکمنو مقامونو د پروخت لاسرسني آسانه کول په پام کې ونیسي.

## ث) د شفافیت یا روڼوالي خنډونه

14. هیوادونه باید د حاملو اسهامو او د حاملو اسهامو د سندونو د ناوړې ګټې اخیستنې د مخنیوي دپاره د لاندې میکانیزمونو د کارولو له لارې ګامونه اوچت کړي: (الف) دهغوی منع کول؛ (ب) په ثبت شویو اسهامو یا ثبت شویو سندونو باندې د هغوی بدلول (د مثال په توګه د هغوی د غیرمادي کولو له لارې)؛ (ث) په یوه کنترول شوي مالي موسسه یا مسلکي واسطي اداري کې د هغوي د ساتلو د غوښتنې له لارې د هغوي د خوځیدو مخنیوی؛ (ج) په کنترولي ګټه کې د برخه لرونکو نه غوښتل چې شرکت ته خبرورکړي او له شرکت نه غوښتل چې د هغوی هویت ثبت کړي.

15. هیوادونه باید د منسوبو اسهامو او د منسوبو مدیرانو د ناوړې ګټې اخیستنې د مخنیوي دپاره د مثال په توګه د لاندې میکانیزمونو د یوه یا دوارو میکانیزمونو د کارولو له لارې ګامونه اوچت کړي: (الف) د برخه لرونکو او منسوبه مدیرانو نه غوښتل چې د خپلو معرفی کوونکو هویت شرکت او اړونده راجستر دفتر ته او په هغه کې د نوموړی معلوماتو د شاملولو دپاره بربنډ کړي؛ یا (ب) د برخه لرونکو او منسوبه مدیرانو نه غوښتل چې جواز ترلاسه کړي ترڅو چې د هغوی منسوبیت د شرکت په اړونده اندراج کې ثبت شي، او هغوی د خپلو معرفی کوونکو د هویت په باب معلومات هلته وساتي او د غوښتنې په وخت کې واکمنو مراجعو ته معلومات ورکړي.

## ج) نور حقوقي اشخاص

16. هیوادونه د بنیادونو، دولتي حکمي اشخاصو او دمحدودواک مشارکتونو په اړه باید ورته اقدامونه ونیسي او ورته غوښتنې وضع کړي چې د شرکتونو د پاره ضروری دی خو د هغوی بیلې بڼې او جوړښتونه دې په پام کې ونیسي.

17. هیوادونه د حکمي اشخاصو د نورو ډولونو په اړه باید د دغو حکمي اشخاصو بیلابیلې بڼې او جوړښتونه او د حکمي اشخاصو د ډولونو په هر ډول پورې تړلي د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل د خطرونو کچې په پام کې ونیسي ترڅو د روڼتیا یوه مناسبه اندازه منځ ته راشي. لږترلږه هیوادونه باید تامین کړي چې د معلوماتو ورته ډولونه د دغو حکمي اشخاصو له خوا باید ثبت، محافظت او تازه شي او په خپل وخت وایستل شي او دا ډول معلومات په وخت سره د واکمنو مراجعو په اختیار کې کیښودل شي. هیوادونه باید د نورو دغه راز حکمي اشخاصو پورې تړلي د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل خطرونه وڅیړي او د خطر د کچې په اندازه داسې اقدامونه وټاکي کوم چې د دې راز حکمي اشخاصو په باب د نافع مالکیت بسیا، کره او جاري معلوماتو ته د واکمنو مراجعو په وخت لاسرسنې د تامینولو دپاره باید ترسره شي.

## ح) مسئولیت او بندیزونه


© ۲۰۱۳

18. د دې تفسيري يادښت د غوښتنونو د رعايت د پاره بايد يو واضحاً بيان شوى مسئوليت او همداراز اغيزمنه، متناسب او مخنيوونکې ځواب ورکونه او بنديزونه د هغو طبيعي او حکمي اشخاصو د پاره چې د نومورو غوښتنو څخه سرغړوې وضع شي.

## خ) نړيواله همکاري

19. هيوادونه بايد د ۳۷ مې او ۴۰ مې سپارښتنو د محتوياتو پربنا د عمده او نافع مالکيت د معلوماتو په اړه نړيواله همکارى په چټکه ، جوړونکې او اغيزمنه توګه برابره کړي. په دې کار کې بايد لاندې مطالب شامل وي: (الف) د شرکتونو د راجستر په دفترونو کې عمده معلوماتو ته د واکمنو بهرنيو مراجعو لاسرسنه ؛ (ب) د برخه لرونکو په باب د اطلاعاتو تبادله؛ او (ت) د هيوادونو د نافذه قوانينو مطابق د خپلو واکونو څخه په ګټه اخيستلو سره د سيالو بهرني شرکتونو په استازيتوب د نافع مالکيت د معلومات لاسته راوړل. هيوادونه بايد د هغې مرستې کيفيت په پام کې ونيسي چې د نورو هيوادونو له خوا د هغوی د غوښتنو په ځواب کې د عمده او نافع مالکيت د معلوماتو په اړه يا په بهر کې د ميشته نافع خاوندانو د موقعيت د تثبيت په هکله ورکول کيږي.

## د ۲۵ مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت
## (د حکمي ترتیباتو روڼ والی او نافع مالکیت)

1. هیوادونه باید له تراستونو ( trustee – ایمنی موسسې) شخه وغواړي چې د خپل هر چټک امانت (express trust) په اړه چې دهغو د قانون پراساس تنظیمیږي، د تراست( trust–امانت) په باب د نافع مالکیت بسیا، کره او روان معلومات ترلاسه کړي او د ځان سره یې وساتي. په دې کار کې باید د تراستور ( settler – امانت ورکوونکی)، تراستي (ګانو)، ساتونکي (که وجود ولري)، ذینفع اشخاصو یا ډلو او نورو طبیعي اشخاصو د هویت په باب معلومات شامل وي چې په امانت باندې اغیزمنه کنترول لري. هیوادونه همدارنګه باید له تراستیګانو نه وغواړي چې د یوه تراست په باب چې د هغوی د قانون پر اساس تنظیمیږي د تراست د نورو تنظیم شویو استازو او تراست ته د خدمتونو د برابروونکو په باب، د پانګې اچونې د مشاورینو او منیجرانو، محاسبانو او د مالیې د مشاورانو په شمول، د ځان سره عمده معلومات وساتي.

2. ټول هیوادونه باید لازم اقدامونه ترسره کړي ترڅودا تامین کړي چې تراستونه د سوداګرۍ د اړیکې د ټینګولو یا د یوې غیرمنظمې مراودې د ترسره کولو په مهال چې د معین حد څخه لوړه وي خپل دریځ مالي موسسو او غیرمالي شرکتونو او مسلکونو ته روښانه کړي. دتراستیګانو نه باید د قانون په وسیله یا نورو د تطبیق وړ وسایلو له لارې مخنیوی ونه شي چې د تراست په باب معلومات واکمنو مراجعو ته برابرکړي"؛ یا د نافع مالکیت او د تراست د شتمنیو په هکله معلومات چې د سوداګرۍ د اړیکې د شرطونو په چوکاټ کې ساتل کیږي یا اداره کیږي د غوښتنې په وخت کې مالي موسسو او غیرمالي مشخصو کارونو او مسلکونو ته ورکړي.

3. هیوادونه هڅول کیږي ترڅو دا امر تامین کړي چې نور مراجع، اشخاص او اړونده اداري د ټولو تراستونو په باب چې اړیکي ورسره لري معلومات وساتي. د تراستونو، تراستیګانو او د تراست د شتمنیو په باب د معلوماتو بالقوه سرچینې دادي:

(أ) د راجستر دفترونه (لکه د تراستونو یا د تراست د شتمنیو مرکزي راجستر)، یا د ځمکو، املاکو، نقلیه وسیلو، اسهامو یا نورو شتمنیو د راجستر دفترونه

(ب) نور واکمن مراجع چې د تراستونو او تراستیګانو په باب معلومات ولري (لکه د مالیې مقامونه چې په تراستونو پورې اړونده شتمنیو او عوایدو په باب معلومات ټولوي).

(ت) د تراست نور اجنټونه او ده هغه ته د خدمتونو برابروونکي، د پانګې اچونې د مشاورینو او منجیرانو، حقوقي وکیلانو، یا تراست یا شرکت ته د خدمتونو د برابروونکو په شمول.

4. واکمن مراجع، په تیره بیا د قانون مجري مقامونه، باید ضروري واکونه په واک کې ولري چې په وخت سره هغو معلوماتو ته لاسرسنه پیدا کړي چې دتراستونو او نور اړخونو سره موجود وي، په تیره بیا هغه معلومات چې د مالي موسسو او مشخصو غیرمالي کارونو او مسلکونو سره د لاندې ټکو په باب

[46] دیو هیواد کورنې باصلاحیته مقامات او یا په یوه بهرني هیواد پورې تړلي باصلاحیته مقامات د نړیوالې همکارۍ د یوه مناسبې غوښتنې سره سم.

وجودولري: (الف) د نافع مالکیت؛ (ب) د تراستی موقعیت؛ او (ت) هغه شتمنۍ چې د مالی موسسو او مشخصو غیرمالی کارونو او مسلکونو سره د تراستونو په اړه وجودلري چې د هغو سره د سودا ګرۍ اړیکه ولري، یا د هغوی د پاره یوه غیرمنظمه مراوده ترسره کوي.

5. د مسلکي تراستونو څخه باید وغوښتل شي چې د ۱ پراګراف مندرج معلومات لږترلږه د پنځو کلونو د پاره د تراست سره د هغوی د دخالت نه وروسته وساتي. هیوادونه هڅول کیږي چې د غیرمسلکی تراستیګانو او نورو مراجعو، اشخاصو او ادارو څخه چې په ۳ پورتني پراګراف یادشویدی وغواړي چې دغه معلومات لږ تر لږه د پنځو کلونو د پاره وساتي.

6. هیوادونه باید وغواړي چې هر ډول معلومات چې د ۱ پراګراف پربنا ساتل شوی وي باید دقیق او تر ممکنه حده پورې تازه وی، او معلومات باید په معقولو موعدونو کې پس له هر بدلون نه تازه شي.

7. هیوادونه باید داسې اقدامونه په پام کې ونیسي چې د تراستونو په باب معلوماتو ته د مالی موسسو او مشخصو غیرمالی کارونو او مسلکونو لاسرسنه چې په ۳ پراګراف کې د یادشوو نورو مراجعو، اشخاصو یا ادارو سره موجودوی د ۱۰مې او ۲۲مې سپارښتنو د مندرجو غوښتنو مطابق آسانه کړي.

8. ددې سپارښتنې په باب د هیوادونو څخه نه غوښتل کیږي چې تراستونه په رسیمت و پیژني، بلکه د ۲، ۱ او ۴ پراګرافونو غوښتنې په خپلو قوانینو کې شاملې کړي، په دې شرط چې په دې باره کې د تراستیګانو دپاره لازم مکلفیتونه د مثال په توګه د کامنلا (common law) د حقوقی نظام یا د موردی حقوقی نظام(case law ) له لارې موجود وي.

## نور حکمی ترتیبونه

9. د حکمي ترتیبونو د نورو ډولونو په اړه چې ورته جوړښتونه یا دندې ولري، هیوادونه باید ورته تدابیر ونیسي چې د تراستونو د پاره ضروري وی ترڅو چې د رونتوب ورته اندازې ته ورسیږي . لږترلږه هیوادونه باید تامین کړی چې ورته معلومات چې پورته د تراستونو په باب په ګوته شول باید ثبت او په کره توګه وساتل شي او په منظمه توګه تازه شي، او دا معلومات د واکمنو مراجعو دپاره په وخت دلاسرسنې وړ وي.

## بین المللی همکاری

10. هیوادونه باید د ۳۷مې او ۴۰مې سپارښتنو پربنا د نافع مالکیت د معلوماتو په شمول د تراستونو او نورو حکمي ترتیبونو په باب د معلوماتو په اړه نړیواله همکاری په جوړونکي او اغیزمنه توګه په چټکتیا سره برابره کړي. دغه کار باید لاندې تکي ولري: (الف) د راجستر په دفترونو یا نورو کورنې مراجعو کې ثبت شوي معلوماتو ته د واکمنو خارجي مراجعو د لاسرسنې آسانه کول؛ (ب) د تراستونو او نورو حکمي ترتیبونو په باب د موجوده کورني اطلاعاتو تبادله؛ او (ت) د اندولو بهرنیو شرکتونو په استازیتوب د کورنیو قوانینو مطابق د واکمنو مراجعو د واکونو کارول.

## مسئولیت او بندیزونه

11. هیوادونه باید تامین کړي چې د دې یادښت د غوښتنو د رعایت په باب روښانه مسئولیتونه وجود ولري؛ او تراستیګانې د ۱، ۲، ۲ او (چیرته چې د اجرا وړوی) ۵ په پراګرافونو کې د یادشوو مکلفیتونو د پلې کولو په لاره کې د اړونده دندو د نه ترسره کولو په دلیل د قانون په وړاندې مسئول وي؛ یا داچې اغیزمنه، متناسب او مخنیوونکې بندیزونه، که جزایي وی یا مدني یا اداري، د نومو ړو مکلفیتونو د نه ترسره کولو د پاره وجود ولري". هیوادونه باید تامین کړي چې د تراست په باب په ۱ او ۵ پراګرافونو کې یادشوو معلوماتو ته د واکمنو مراجعو په وخت لاسرسې د نه ورکولو دپاره اغیزمنه، متناسب او مخنیوونکې بندیزونه ، که جزایي وی یا مدني یا اداري،وټاکل شي.

47 دا امر داغیزمنو ، متناسبو او مخه نیونکو بندیزونو پر مقتضیاتو باندې چې په نورو سپارښتنو کې دیاد شوو مطالبو د نه رعایت له امله وي ،اغیزه نلري.


© ۲۰۱۳

## د ۲۲ سپارښتنې په باب تفسیري یادښت
## (د مالي موسسو سمبالول او څارنه)
### د ګواښ پرېنسټ د څارنې په نسبت کړنلاره

1. د ګواښ پرېنا د څارنې په نسبت کړنلاره دوه ډوله ده: (الف) هغه عامه پروسه ده چې د هغې په وسیله د یوې اداري څارونکي د ګواښونو په باب د خپل درک او پوهې پراساس د AML/CFT څارنې ته خپلې سرچینې تخصیصوي؛ او (ب) د څارنې د موسسهو هغه خاصه پروسه ده چې د ګواښ پرېنا د AML/CFT څارنه کاروي.

2. د مالي موسسو د AML/CFT د سیستمونو او کنترولونو د څارنې په نسبت د ګواښ پرېنا د کړنلارې تاکل څارونکو مقامونو ته ددې امکان ورکوي چې سرچینې هغو ځایونو ته ځانګړې کړي چې په اغلب ګمان د ډیر لوړ ګواښ سبب ګرځي. دا پدې معنی ده چې څارونکي: (الف) باید په هیواد کې د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل د موجودو ګواښونو په باب روښانه پوهه ولري؛ (ب) د تر څارنې لاندې موسسو د مشتریانو، محصولاتو او خدمتونو په اړه د مشخصو کورنیو او نړیوالو ګواښونو په باب ټولو اړونده معلوماتو ته، د موسسه یا مالي ډلې (یا مالي ډلو، که چیرې د بنسټیزو اصولو لرونکو موسسو دپاره د تطبیق وړوي) د رعایت د دندې د کیفیت په شمول، مستقیمه یا لامستقیمه لاسرنه ولري. د موسسو یا مالی ډلو د AML/CFT د مستقیمې یا لامستقیمې څارنې تناوب او شدت باید د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل د ګواښونو، او د موسسه یا مالی ډلې د اړونده کړنلارو، کورنی کنترولوونو او پروسو پرېنسټ، څرنګه چې د موسسه یا مالی ډلې د ګواښ په باب د څارن په څیړنه کې راپیژندل شویدی، او په هیواد کې د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل د موجوده ګواښونو پرېنسټ صورت ومومي.

3. د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل له نظره د موسسه یا مالی ډلې د ګواښ په باب څیړنه، د سرغړونې د ګواښونو په شمول، باید هم په منظمه توګه او هم کله چې د موسسه یا مالي ډلې په مدیریت او چارو کې عمده پیښې یا بدلونونه منځ ته راځي، په هیواد کې د څارنې د روانو نافذو کړنلارو مطابق وڅیړل شي. دا څیړنه باید ثابته نه وي بلکه د وضعې د ودې او د ګواښونو د تکامل پر اساس به تغییر مومي.

4. د AML/CFT له نظره د موسسو یا مالي ډلو څارنه چې د ګواښ پرېنا کړنلاره کاروی باید د واک هغه اندازه په پام کې ونیسي کومه چې د موسسو یا مالي ډلو دپاره د RBA په کړنلاره کې ورته اجازه ورکړل شوې ده او ددې واک پرېنسټ د ګواښ پرېنا څیړنې او د تګلارو او کورني کنټرولونو او کړنلارو د بسیا او پلې کولو بیاکتنه په مناسبه توګه په ځان کې ولري.

5. نوموړي اصول باید د ټولو موسسو او مالي ډلو په مورد کې صدق وکړي. د AML/CFT د اغیزمنې څارنې په موخه څارن باید د موسسو او مالي ډلو خواص، په تیره بیا د مالي موسسو تنوع او شمیر، او د واک اندازه چې د RBA په کړنلاره کې ورته اجازه ورکړل شویده، په پام کې ونیسي.

## د څارنو سرچینې

6. هیوادونه باید تامین کړي چې مالي څارن بسیا مالی، بشری او تخنیکی سرچینې په واک کې ولري. دغه څارونکي باید په بسیا توګه اجرایی آزادی او خودمختاری ولري تر څو د هرډول نفوذ او مداخلې نه مبرا وي. هیوادونه باید داسې پروسې منځ ته راوړي کومې چې دا امر تأمین کړي چې د نوموړو مراجعو کارکوونکي د محرمیت په شمول د مسلکي لوړې کچې خاوندان وی او د لوړې کچې پاکوالی او مهارت ولري.


© ۲۰۱۳

## د ۲۸مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت

### (د DNFBPs سمبالول او څارنه)

1. د څارنې په نسبت د ګواښ پربنا کړنلاره دوه ډوله ده: (الف) هغه عامه پروسه ده چې د هغې په وسیله د یوې ادارې څارونکې د ګواښونو په باب د خپل درک او پوهې پراساس د AML/CFT څارنې ته خپلې سرچینې تخصیصوي؛ او (ب) د څارنې د موسسو هغه خاصه پروسه ده چې د ګواښ پربنا د AML/CFT څارنه کاروي.

2. څارونکي یا د ځان څارنې ادارې باید په ټاکل شویو غیرمالی کارونو او مسلکونو باندې د څارنې او پلټنې د تناوب او شدت کچه د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل د ګواښونو د پوهې پر اساس او د ټاکل شویو غیرمالی کارونو او مسلکونو د خصوصیاتو، په تیره بیا د هغوی د تنوع او شمیر په پام کې نیولو سره وټاکي ترڅو چې د AML/CFT اغیزمنه څارنه او پلټنه تامین کړي. دا خبره دا معنی لري چې (الف) په هیواد کې موجوده؛ او (ب) د غیرمالي شرکتونو یا مسلکونو یا مشتریانو، تولیداتو او خدمتونو په اړه د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل ګواښونه باید په روښانه توګه وپیژندل شي.

3. څارن او د ځان څارنې ادارې چې د ټاکل شویو غیرمالی کارونو او مسلکونو د کورنې کنترولونو، تګلارو او کړنلارو بستیا د AML/CFT له نظره څیړي، باید د دغو شرکتونو او مسلکونو د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل د ګواښ پروفیل او د واک هغه اندازه چې د RBA په کړنلاره کې ورته اجازه ورکړل شویده، په پام کې ونیسي.

4. څارن او د ځان څارنې ادارې باید د خپلو د ترسره کولو دپاره (د څارنې او تعزیر د واک په شمول) د بسیا واکونو خاوند وي، او په عین حال کې بسیا مالي، بشری او تخنیکي سرچینې په واک کې ولري. هیوادونه باید داسې پروسې منځ ته راوړي کومې چې دا امرتأمین کړي چې د نوموړو مراجعو کارکوونکي د محرمیت په شمول د مسلکي لوړې کچې خاوندان وی او د لوړې کچې پاکوالی او مهارت ولري.

## د ۲۹ مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت
### (مالی استخباراتی واحدونه)
### الف) عمومیات

1. دا یادونه د یوه استخباراتی مالی واحد (FIU) واک او دندې توضیح کوي او په هغو مکلفیتونو باندې رڼا اچوي چې په دې سپارښتنې کې نغښتې دي. دغه واحد د یوه هیواد د AML/CFT د اجرایي شبکې یوه برخه ګڼل کیږي او په دې شبکې کې مرکزي رول لوبوي او په عین حال کې د نورو واکمنو مراجعو د کار څخه ملاتړ کوي. د دې خبرې په پام کې نیولو سره چې د دې واحد بیلابیل مودلونه وجودلري، ۲۹ مه سپارښتنه د یوه خاص مودل دپاره د یوه هیواد په ټاکنې باندې مخکې له مخکې قضاوت نه کوي او په ټولو مودلونو باندې یو ډول د تطبیق وړ ده.

### ب) دندې

### ۱. د اطلاعاتو ترلاسه کول

2. استخباراتی مالی واحد داسې یوه مرکزی اداره ده چې هغه بربندوونکي رپوټونه چې د ادارو له خوا ثبتیږي په لاس راوړي. په دې رپوټونو کې باید لږترلږه د ۲۰مې او ۲۳مې سپارښتنو مطابق مشکوکو معاملو په باب او همداراز نور معلومات چې د هیواد د ملي قوانینو له خوا غوښتل کیږي لکه د نقدو پیسو معاملې، د الکترونیکی انتقالاتو رپوټونه او نور د ټاکل شویو حدودو پربنا ابلاغونه او افشاګانې شامل وي.

### ۲. تحلیل او څیړنه

3. د استخباراتی مالی واحد تحلیل او څیړنه باید د هغې اطلاع ارزښت چې د واحد له خوا ترلاسه او ساتل کیږي زیات کړي. په داسې حال کې چې ټول اطلاعات باید په پام کې ونیول شي، تحلیل او څیړنه کیدای شي د واحد په یوه اطلاع او په لازمو ټاکل شویو اطلاعاتو باندې متمرکزه شي. دا د لاسته راوړل شوي اطلاع په ډول او حجم او د خپریدو نه وروسته د هغې د بې ګټې اخیستنې پورې اړه نیسي. استخباراتی مالی واحد باید وهڅول شي چې کمپیوتری پروګرامونه د اطلاعاتو د پروسس او اړونده اړیکو ته د رسیدو د مرستې په موخه وکاروي. مګر دا ډول وسیلې نشي کولای دتحلیل د انسانی قضاوت عنصر ځای ونیسي. دا واحد باید لاندې تحلیلونه او څیړنې ترسره کړي:

- اجرایي تحلیل چې په هغه کې موجوده او په لاس راتلونکي اطلاعات د ټاکلو موخو د پیژندنې (د مثال په توګه اشخاصو، شتمنیو، شبکو او جنایي ټولنو)، د چارو او خاصو معاملو د تعقیب او پلټنې او د نوموړو موخو او د ممکنه جرمي عواید، د پیسو د تطهیر یا د ترهګریز تمویل ماقبل جرمونو تر منځ د اړیکو د معلومولو دپاره کارول کیږي.
- ستراتیژیک تحلیل چې په هغه کې موجوده او په لاس راتلونکي اطلاعات، د هغو معلوماتو په شمول چې کیدای شي د نورو اړونده مراجعو له خوا برابرشي، د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل په اړه د ټریندونو او الګوګانو د تشبیت دپاره کارول کیږي. دغه

اطلاعات د مالي استخباراتو د واحد یا د نورو دولتي ادارو له خوا د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل په اړه دګوابنونو او زیانمنتې د تثبیت په موخه هم کارول کیږي. ستراتیژیک تحلیل همدارنګه کولای شي د هغه واحد د پاره د تګلارو او موخو او یا په ډیره پراخه توګه د AML/CFT د رژیم په دننه کې د نورو ادارو د پاره مرسته وکړي.

۳. خپرول

4. د مالي استخباراتو واحد باید دې توان ولري چې په پخپله پریکړه یا د غوښتنې په صورت کې خپل معلومات او د تحلیل پایلې واکمنو مراجعو ته خپاره کړي. د خپریدو د پاره باید وقف شوي، ډاډمنې او باامنه لاروڅخه کار واخیستل شي.

- په خپل اختیار خپرونه : د مالي استخباراتو واحد باید دې توان ولري چې خپل معلومات او د تحلیل پایلې واکمنو مراجعو ته منتشر کړي که چیرې د پیسو د تطهیر او ماقبل جرمونه او ترهګریز تمویل شک وجود ولري. د نوموړي واحد د تحلیل پراساس، د اطلاعاتو خپرونه باید په اختیاري توګه وي او اخیستونکي مراجعو ته دې امکان ورکړي چې اړونده مواردو او معلوماتو ته پاملرنه وکړي.
- دغوښتنې په صورت کې خپرونه : د مالي استخباراتو واحد باید دې توان ولري چې واکمنو مراجعو ته د ۳۱مې سپارښتنې مطابق ځواب ورکړي. کله چې نوموړی واحد د یوه واکمنې مرجع څخه یوه غوښتنه ترلاسه کوي د تحلیل د سرته رسولو اویا غوښتونکي مرجع ته د معلوماتو د خپرولو پریکړه باید په نوموړي واحد پورې اړه ولري.

ت) معلوماتو ته لاسرسنه

۱. د رپوټ ورکوونکو ادارو څخه د نورو معلوماتو لاسته راوړل

5. د هغو معلوماتو سربیره چې اداري یې د مالي استخباراتو واحد ته (د اطلاعاتو د لاسته راوړلو د دندې په چوکاټ کې) ورکوي، نوموړی واحد باید دې توان ولري چې د رپوټ ورکوونکو ادارو څخه نور معلومات چې د تحلیل د ډیر ښه ترسره رسولو دپاره ضروري وي په لاس راوړي او ویې کاروي. هغه معلومات چې نوموړی واحد د هغو د لاسته راوړلو اجازه لري کیدای شي داسې معلومات پکې شامل وي چې رپوټ ورکوونکي اداري یې باید د FATF د سپارښتنو پر بنسټ (۱۰مه، ۱۱مه او ۱۲مه سپارښتنه) د ځانه سره ولري.

۲. د نورو سرچینو څخه د معلومات لاسته راوړل

6. په مناسبه توګه د تحلیل د ترسره کولو په موخه، مالي استخباراتي واحد باید مالي، اداري او د قانون د تطبیق معلوماتو ته په ممکن پراخ ډول لاسرسنه ولري لکه د خلاصو یا دولتي مراجعو څخه معلومات او همداراز هغه اړونده معلومات چې د نورو مراجعو له خوا یا د هغوی په استازیتوب راټول شوي یا ساتل شوي وي او که چیرې لازمه وي د سوداګرۍ ساتل شوي معلومات.

ث) د اطلاعاتو مصئونیت او محرمیت

7. هغه معلومات چې د مالي استخباراتی واحد له خوا حاصل، پروسس، ساتل او خپرول کیږي، باید یوازې د طرزالعملونو، تګ لارو، او اړونده قوانینو او مقرارتو پربنا په مصئونه توګه حفظ، تبادله او وکارول شي. له دې کبله یو مالي استخباراتی واحد باید داسې قواعد او اصول ولري چې د دا ډول معلوماتو مصئونیت او محرمیت تنظیم کړي لکه دغه معلوماتو سره چلند، د هغو ساتنه، خپرونه او خوندي کول او همداراز هغو ته لاسرسنه. نوموړی واحد باید تامین کړي چې دهغه کارکوونکي د امنیتي صداقت لازمه کچه او د حساسو او محرمو معلوماتو سره د چلند او خپرونې په وړاندې د خپلو مسئولیتونو لازمه پوهیدنه لري دا واحد باید تامین کړي چې د معلوماتو د تکنولوژۍ په شمول دهغه تسهیلاتو او اطلاعاتو ته لاسرسنه محدوده وي.

## ج) اجرائیوی خپلواکي

8. مالي استخباراتي واحد باید د خپلو کړنو له نظره خپلواک او ناپییلی وي، په دې معنی چې دا واحد باید ددې واک او ظرفیت ولري چې خپلې دندې په ازاده توګه ترسره کړي او د معلوماتو د تحلیل او یا د مشخصو معلوماتو د غوښتنې او خپرونې په باب په خپل واک سره پریکړه وکړي. په ټولو مواردو کې دا خبره په دې معنی ده چې یو مالي استخباراتي واحد خپلواک حق لري چې معلومات واکمنو مراجعو ته ولیږي یا یې خپاره کړي.

9. یو استخباراتی مالی واحد کیدای شي د یوه مقام د یوې برخې په توګه جوړشي. که چیرې یو مالي استخباراتی واحد د یو بل مقام په موجوده جوړښت کې ځای ولري، د هغه اساسي دندې باید د هغه بل مقام له دندو سره توپیر ولري.

10. د مالي استخباراتی واحد دپاره باید بسیا مالی، بشري او تخنیکی سرچینې په داسې ډول برابرې شي چې دهغه خپلواکي او ناپییلتوب وساتل شي او هغه ته امکان ورکړي چې خپلې دندې په اغیزمنه توګه سرته ورسوي. هیوادونه باید داسې پروسې ولري چې تامین کړي چې د دغو مقاماتو کارکوونکي د محرمیت په شمول د مسلک، صداقت او اړونده مهارت د لوړې کچې خاوندان وي.

11. یو مالي استخباراتي واحد باید همداراز ددې توان ولري چې د اړتیا وړ ترتیبات ونیسی یا د خپلو نورو واکمنو کورني مقامونو او بهرنیو سیالو مقامونو سره د اطلاعاتو د خپلواکې تبادلې په موخه په کار لاس پورې کړي.

## ح) بې ځایه لاسوهنه

12. یو مالي استخباراتي واحد باید ددې توان ولري چې په یوازې یا روتینه توګه د خپلو دندو د ترسره کولو دپاره، کومې چې د هرډول بیځایه سیاسي، حکومتي او سوداګرۍ د لاسوهنې نه چې د هغه د کړنو خپلواکي په خطر کې واچوي خلاصې وی، د اړتیا وړ سرچینې په لاس راوړي او وبې کاروي.

## خ) د ایګمانت (Egmont) ډله

13. هیوادونه باید تامین کړي چې مالی استخباراتی واحد د ایګمانت د ډلې د مرامنامې او د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل په اړه د مالي استخباراتی واحدونو ترمنځ د معلوماتو د تبادلې په باب د هغې ډلې

اصولو ته پاملرنه وکړي (په نومورو سندونو کې د مالي استخباراتي واحدونو او ددغو واحدونو ترمنځ د معلوماتو د تبادلې د میکانیزمونو په باب ارزښتناکه لارښوونې شته). مالي استخباراتي واحد باید د ایګمانت په ډلې کې د غړیتوب غوښتنه وکړي.

## د) د ډېرو زیاتو پیسو د لیږد رپوټ ورکول

14. هیوادونه باید د داسې یوه سیستم امکانات او کارول په پام کې وساتي، چیرې چې مالي موسسې او DNFBP به تر یوه ټاکلي حده د زیاتو پیسو د کورني او بهرني لیږد په هکله رپوټ ورکوي.

## د ۳۰ مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت
## (د قانون د تنفیذ او تحقیقي مراجعو مسئولیتونه)

1. باید د قانون و تنفیذ ټاکلي مراجع وجود ولري چې د دې کار د تامین مسئولیت په غاړه ولري چې د پیسو د تطهیر، د ماقبل جرمونو او ترهګریز تمویل د مالي تحقیقاتو له لارې په سمه توګه تحقیق کیږي. هیوادونه همدارنګه باید یو یا څو واکمن مراجع د ځښتنتوب د تشخیص، لټونې او انجماد او تصرف په موخه چې د ضبط په حال کې وي او کیدای شي ضبط شي وټاکي.

2. "مالي تحقیقات" یعنې د جرمي کارونو په اړه د مالي چارو په باب تحقیق د لاندې موخو دپاره:
   - د جنایي شبکو د لمنې او/یا د جنایت مقیاس تثبیتول؛
   - د جرم نه لاسته راغلي عوایدو، تروریستي پانګو یا نورو پانګو تثبیتول او لټونه چې د ضبط په حال کې وي او کیدای شي ضبط شي؛ او
   - د هغو مدارکو منځ ته راوړل چې په جزایي اجراآتو کې ورځنې کار واخیستل شي.

3. "موازي مالي تحقیق" یعنې د پیسو د تطهیر، د ماقبل جرمونو او ترهګریز تمویل په باب د (سنتي) جزایي تحقیق تر څنګ د مالي تحقیق مخته بیول. د قانون د تنفیذ محققان چې د ماقبل جرایمو په باب تحقیق کوي باید ددې واک ولري چې د یوه موازي تحقیق په ترڅ کې د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل په باب تحقیقات هم مخته بوزي، یا ددې توان ولري چې قضیه د دغه ډول تحقیقاتو د دوام په موخه یوې بلې ادارې ته وسپاري.

4. هیوادونه باید د تقنیني اقدامونو په شمول لازم اقدامونه په ملي کچه په پام کې ونیسي چې د هغوی واکمنو مراجعو ته چې د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل پر قضیو باندې کارکوي ددې امکان ورکړي چې د مظنونو اشخاصو نیول او/یا د پیسو تصرف په دغو عملونو کې د ښکیلو اشخاصو د تثبیت په موخه یا د مدارکو د راټولو په خاطر شاته واچوي او یا یې مستثنی کړي. د نومورو اقدامونو پرته د کنترول شوی سپارنې یا مخفي عملیاتو او داسې نور چلندونو کارول منع دي.

5. ۳۰مه سپارښتنه همدارنګه د هغو واکمنو مراجعو په باب صدق کوي چې د قانون د تنفیذ مراجع نه دي، مګر تر یوه حده پورې د ماقبل جرایمو د مالي تحقیقاتو د پرمخ بیولو مسئولیت په غاړه لري چې دغه واکمنې مراجع په خپل نفس کې د ۳۰ مې سپارښتنې دندې ترسره کوي.

6. د اداري فساد ضد مراجع چې د اداري واکونو خاوند دي کولای شي په ۳۰مې سپارښتنې کې مندرج د اداري فساد د جرمونو نه راپیداشوي یا د هغوی په اړه د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل د جرمونو دتحقیق واک ولري، او نوموړي مراجع باید د شتمنیو د تثبیت، لټونې او انجماد او تصرف بسیا واکونه ولري.

7. د قانون د تنفیذ او نورو واکمنو مراجعو لړۍ چې پورته ورته ګوته ونیول شوه باید په هغه مهال کې چې هیوادونه د مالي تحقیقاتو په باب د بیلابیلو ډلو نه ګډه اخلي په پام کې ونیول شي.


© ۲۰۱۳

8. د قانون د تنفیذ مراجع او د څارنوالي اداري باید بسیا مالي، بشري او تخنیکي سرچینې په واک کې ولري. هیوادونه باید داسې پروسې منځ ته راوړي چې تامین کړي چې د نوموړو مراجعو کارکوونکي د محرمیت په شمول د مسلک، صداقت او اړونده مهارت د لوړې کچې خاوندان وي.

## د ۳۲ مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت
## (د نقدو پیسو لیږدونکي)

### الف) موخې

1. د ۳۲ مې سپارښتنې د لیکلو موخه ددې خبرې تأمینول ؤ چې تروریستان او نور مجرمین ونشي کولای خپل فعالیتونه تمویل کړي یا د خپلو جرمونو عواید د هیواد له پولې نه بهر د اسعارو او د حامل د مبادلې وړ ابزارو (BNIs – bearer negotiable insturments) د فزیکي ترانسپورت له لارې تطهیر کړي. په تیره بیا دا چې هیوادونه د لاندې کارونو دپاره تدابیر ونیسي: (الف) د هیواد پولې نه بهر د اسعارو او د حامل د مبادلې وړ ابزارو د ترانسپورت کشف؛ (ب) د اسعارو او د حامل د مبادلې وړ ابزارو بندول یا مانع کیدل چې د ترهګریز تمویل او د پیسو د تطهیر په اړه تر شک لاندې وي؛ (ت) د اسعارو او د حامل د مبادلې وړ ابزارو بندول یا مانع کیدل چې په ناوړه توګه ښکاره شوي یا معلوم شوي وي؛ (ث) د ناوړې ښکاره کولو یا معلوم کولو په وړاندې د لازمو بندیزونو لګول؛ او (ج) د هغو اسعارو او د حامل د مبادلې وړ ابزارو د ضبطولو وړکول چې په ترهګریز تمویل او د پیسو په تطهیر پورې اړه ولري.

### ب) د نقدو پیسو د لیږدوونکو د مسئلې د څیړنې د سیستمونو ډولونه

2. هیوادونه کولای شي د ۳۲مې سپارښتنې او د دې تفسیري یادښت غوښتنو ته د لاندې سیستمونو څخه د یوه سیستم په کارولو سره ځواب ورکړي. مګر حتمي نده چې هیوادونه د اسعارو او د حامل د مبادلې وړ ابزارو په پولو کې د ورودي او خروجي ترانسپورت په وړاندې یو ډول سیستم وکاروي.

### د ښکاره کولو سیستم

3. د ټولو اشخاصو نه چې د هیواد د پولو د تیریدو په مهال د اسعارو او د حامل د مبادلې وړ ابزارو فزیکي ترانسپورت ترسره کوي، چې ارزښت یې د۱۵۰۰۰ دالرو/یورو د ټاکل شوي اعظمي حد نه زیات وي، غوښتل کیږي چې ټاکل شوي مراجعو ته یوه حقیقي اظهارلیک وړاندې کړي. هیوادونه کولای شي د اظهارلیک د لاندې دریو سیستمونو له منځ نه یو سیستم وټاکي: (۱) د ټولو مسافرینو د پاره یو تحریري اظهارلیک سیستم؛ (۲) د هغو مسافرینو دپاره یو تحریري اظهارلیک سیستم چې د ټاکل شوي حد نه زیات اسعار یا ابزار له ځانه سره حمل کوي؛ او (۳) دشفاهي بیانولو سیستم. دا درې سیستمه په راتلونکې برخه کې په مشخصه توګه توضیح شوي دي. مګر هیوادونه کولای شي یو مختلط سیستم وټاکي.

(أ) د ټولو مسافرینو د پاره یو تحریري اظهارلیک سیستم: په دغه سیستم کې ټول مسافرین مکلف دي یو تحریري اظهارلیک هیواد ته د ننوتنې مخکې بشپړ کړي. په دې کې هغه څیزونه شامل دي چې په عامو یا ګمرکي فورمو کې لیدل کیږي. په عمل کې مسافرین مکلف دي په تحریري توګه ووایي چې آیا د ځانه سره اسعار یا د حامل د مبادلې وړ ابزار لري که نه (د مثال په توګه د "هو" یا "نه" په وړاندې د چلیپا د نښانې کارول)..

(ب) د هغو مسافرینو دپاره یو تحریري اظهارلیک سیستم چې د ټاکل شوي حد نه زیات اسعار یا ابزار له ځانه سره حمل کوي: په دې سیستم کې ټول مسافرین چې د ټاکل شوي حد نه زیات اسعار یا ابزار له ځانه سره حمل کوي مکلف دي چې یو تحریري اظهارلیک بشپړ کړي. په عمل کې، هغه مسافرین چې د ټاکل شوي حد نه زیات اسعار یا ابزار له ځانه سره نه حمل کوي مکلف ندي کومه فورمه ډکه کړي.

(ت) د ټولو مسافرین دپاره دشفاهي بیانولو سیستم: په دې سیستم کې ټول مسافرین که چیرې د ټاکل شوي حد نه زیات اسعار یا ابزار له ځانه سره حمل کوي مکلف دي په شفاهي توګه دا خبره اظهار کړي. اکثراً، ګمرکي لیک ته د ننوتلو په مهال کې د مسافرینو نه غوښتل کیږي چې د "سرې لارې" (شیان باید وویل شي) او "شنې لارې" (د ویلو دپاره کوم شی نلري) له منځ نه یوه لاره وټاکي. دغه ټاکنه د مسافرینو وینا ګڼل کیږي. په عمل کې، مسافرین په تحریري توګه نه وايي، بلکه مکلف دي بالفعل دګمرک مامور ته رپوټ ورکړي.

## د ښکاره کولو سیستم

4. هیوادونه کولای شي داسې یو سیستم وټاکي چې مسافرین مکلف کړي چې د پوښتنې په صورت کې لازم معلومات وړاندې کړي. په دغه ډول سیستمونو کې، مسافرین مکلف نه دي چې یو تحریري یا شفاهي اظهار لیک د مخه وړاندې کړي. په عمل کې، د مسافرینو نه باید غوښتنه وشي چې د پوښتنې په صورت کې واکمنو مراجعو ته ریښتیا او حقیقي ځواب ورکړي.

## ت) نور عناصر چې په دواړو سیستمونو کې کارول کیدای شي

5. پرته له دې چې د سیستم ډول په پام کې ونیسو هیوادونه باید تامین کړي چې د هغوی په سیستم کې لاندنې عناصر نغښتي وي:

(أ) د بیانولو او ښکاره کولو سیستم باید هم د اسعارو او د حامل د مبادلې وړ ابزارو د رالیږدولو او وتلو په مهال وکارول شي.

(ب) اړونده واکمنې مراجع کله چې پوه شي چې د د اسعارو او د حامل د مبادلې وړ ابزارو بیانول/ښکاره کول سم ندي، باید ددې واک ولرې چې د نوموړې حامل نه د د اسعارو او د حامل د مبادلې وړ ابزارو منشا او د هغو د ګټې اخیستنې د موخې په باب نور معلومات وغواړي او ترلاسه یې کړي.

(ت) هغه معلومات چې د بیانولو/ښکاره کولو د پروسې په ترڅ کې په لاس راځي باید د داسې یو سیستم له لارې چې د مالي استخباراتو واحدد هیواد په پولو کې د مشکوکولیږدونو پیښو څخه باخبریږي، یا نوموړې واحد ته د بیانولو/ښکاره کولو د معلوماتو د ورکولو له لارې د مالي استخباراتو د واحد په واک کې ورکړل شي.

© ۲۰۱۳

(ث) هیوادونه باید په کورنۍ کچه تامین کړي چې د ګمرکي مراجعو، د مهاجرت د ادارو او نورو اړوند مراجعو تر منځ د ۳۲ مې سپارښتنې د پلي کېدو د مسئلو په باب همغږي او هماهنګي وجودولري.

(ج) په دوو لاندینو مواردو کې واکمنې مراجع باید وکولای شي نقدې پیسې او د حامل د مبادلې وړ ابزار د یوې معقولې مودې دپاره بندې کړي ترڅو معلوم کړي چې آیا د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل دپاره کوم مدارک ترلاسه کیدای شي او که نه: (۱) کله چې د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل شک وجودولري؛ (۲) کله چې بیانول یا ښکاره کول په سمه توګه ونشي.

(ح) د بیانولو/ښکاره کولو سیستم باید د ۳۲ مې او ۴۰ مې سپارښتنو مطابق د نړیوالې همکارۍ او مرستې د پاره ترټولو زیاته ممکنه زمینه برابره کړي. د دې همکارۍ د آسانولو په موخه په هغو حالاتو کې چې: (۱) یو بیان یا ښکارونه د هغو پیسو په باب چې د ۱۵۰۰۰ دالرو/یورو د معین حدنه زیاتې وي ولیدل شي؛ (۲) ناسمه بیانول/ښکارول ولیدل شي؛ (۳) د پیسو د تطیر او ترهګریز تمویل شکل وجودولري، بایددا راز معلومات د واکمنو مراجعو له خو د کارولو په موخه وساتل شي. نوموړي معلومات باید لږترلږه لاندې ټکي ولري: (۱) د بیان شوو، ښکاره شوو یا په بل ډول لاسته راغلو اسعارو او د حامل د مبادلې وړ ابزارو مقدار؛ او (۲) د حامل یا حاملینو د هویت په باب معلومات.

(خ) هیوادونه باید ۳۲مه سپارښتنه د جدي تضمیناتو سره سمه عملي کړي ترڅو چې د معلوماتو څخه ښه ګټه واخیستل شي پرته له دې چې (۱) د هیوادونو ترمنځ د کالیو او خدمتونو دپاره د سوداګریو د تادیاتو؛ یا (۲) د پانګې د حرکت د آزادۍ مخنیوی وکړي.

## ث) بندیزونه

6. هغه اشخاص چې درواغ بیان یا کاذبه ښکارنه وکړي باید تر اغیزمنې، متناسبې او مخنیوونکې جزایي، مدني یا اداري بندیزونو لاندې راشي. هغه خوک چې د ترهګریز تمویل، د پیسو د تطهیر یا ماقبل جرمونو اړونده د پولی نه د اسعارو او د مبادلې وړ ابزارو د لیږدونې کار مخته بیایی هم باید تر اغیزمنې، متناسبې او مخنیوونکې جزایي، مدني یا اداري بندیزونو لاندې راشي، او باید د هغو اقداموتو تابع شي چې د ۴مې سپارښتنې سره سمون ولری کوم چې د دې راز اسعارو د ضبط امکان برابروي.

7. هغه مراجع چې د ۳۲ مې سپارښتنې د پلي کولو مسئولیت په غاړه لري باید بسیا مالي، بشري او تخنیکي سرچینې په واک کې ولري. هیوادونه باید داسې پروسې منځ ته راوړي ترڅو دا تامین کړي چې د دغو مراجعو کارکوونکي د محرمیت په شمول د مسلک، صداقت اواړونده مهارت د لوړي کچې خاوندان وي.

## ث) سره زر، ګران فلزات او ګرانې ډبرې

8. سره زر، ګران فلزات او ګرانې ډبرې سره له دې چې په پیسو باندې د بدلیدو وړدي او په مشخصو حالاتو کې د ارزښت د تبادلې او لیږد د وسیلې په توګه ورځنې کار اخیستل کیدای شي، د ۳۲مې سپارښتنې په

موخو کې نه شاملیږي. دغه اقلام کیدای شي په بل ډول د ګمرکي قوانینو او مقرراتو سره سم په پام کې ونیول شي. که چیرې یو هیواد په پوله کې د سرو زرو، ګرانو فلزاتو او ګرانو ډبرو لیږدول کشف کړي، باید په پام کې ونیسي چې د هغو هیوادونو ګمرکي خدماتو یا نورو واکمنو مراجعو ته چې نوموړي اقلام ورځني سرچینه اخیستې وي یا هغو ته لیږدول کیدل خبرورکړي او د هغوی سره همکاري وکړي ترڅو چې د دغو اقلامو د لیږد مقصد او موخه وپیژندل شي او لازم اقدامات ترسره کړي.

## د هغو ځانګړو اصطلاحاتو معنا چې په دې سپارښتنه کې کارول شوي دي

| | |
|---|---|
| کاذب بیان (False declaration) | د لیږد په مهال د اسعارو او د حامل د مبادلې وړ ابزارو په باب د کاذب ارزښت وړاندې کول، یا د نورو اړونده معلوماتو کاذب ویل چې په بیان لیک کې باید څرګند شي یا په بل ډول د مراجعو له خوا وغوښتل شي. د لازمو بیاناتو نه ویل هم په همدې تعریف کې شاملیږي. |
| کاذبه ښکارونه (False disclosure) | د لیږد په مهال د اسعارو او د حامل د مبادلې وړ ابزارو په باب د کاذب ارزښت وړاندې کول، یا د نورو اړونده معلوماتو کاذب ویل چې د غوښتنې په صورت کې باید ښکاره شي یا په بل ډول د مراجعو له خوا وغوښتل شي. د لازمې ښکارونې نه کول هم په همدې تعریف کې شاملیږي. |
| د پولې نه د باندې فزیکي لیږدونه (Physical corss-border transportation) | هیواد ته د اسعارو یا د حامل د مبادلې وړ ابزارو رالیږدول یا بهر ته ایستل دي. دغه اصطلاح لاندیني د ټرانسپورټ ډولونه هم په ځان کې لري: (۱) دیوه طبیعي شخص له خوا، یا د هغه په بګاژ یا حامل موټر کې فزیکي لیږد؛ (۲) د کانتینري کارګو له لارې د اسعارو یا د حامل د مبادلې وړ ابزارو لیږد یا (۳) د یوه طبیعي یا حکمي شخص له خوا د پوستي له لارې د اسعارو یا ابزارو لیږد. |
| ترهګریز تمویل یا د پیسو تطهیر اړوند (Related to terrorist financing or money laundering) | دغه عبارت د اسعارو او د حامل د مبادلې وړ ابزارو په اړه په هغو اسعارو او ابزارو پورې اړه نیسي چې: (۱) د ترهګریز تمویل، ترهګریزو اعمالو یا ترهګریزو سازمانونو عواید وي، په هغو کې کارول شوي وي، یا هغوی ته د کارولو په موخه په پام کې نیول شوي وي؛ (۲) تطهیر شوي وي، یا د پیسو د تطهیر یاد ماقبل جرمونو عواید وي یا هغه وسایل وي چې د نوموړو جرمونو په ارتکاب کې ورڅخه ګټه اخیستل شوې وي یا هغوی ته د کارولو په موخه په پام کې نیول شوي وي. |

© ۲۰۱۳

## د ۳۹مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت

### (متقابله حقوقي همکاري: انجماد او مصادره)

1. هیوادونه باید د شتمنیو د غصب دپاره د یوه صندوق جوړول په پام کې ونیسي چې په هغه کې د مصادره شویو مالونو ټوله یا یوه برخه د قانون د تنفیذ، روغتیا، پوهنې او روزنې او نورو موخو دپاره وساتل شي. هیوادونه باید لازم تدابیر ونیسي چې دوی ته توان ورکړي چې مصادره شوي مالونه د نورو هیوادو ترمنځ شریک کړي په تیره بیا چې مصادره د مستقیمو یا غیرمستقیمو هماهنګي شویو عدلي فعالیتونو په پایله کې ترسره شوي وي.

2. هیوادونه د نه محکومیت پر بنا د مصادرې د اجراآتو پر اساس د همکارۍ د غوښتنو په اړه باید یوه اداره توظیف کړي چې د نوموړو غوښتنو سره سم اقدام وکړي، مګر باید ددې توان ولري چې دا کار لږ ترلږه په هغو حالتو کې ترسره کړي چې د جرم مرتکب د مرګ، تیښتې یا غیابت په دلیل وجود ونلري یا معلوم نه وي.

## د ۴۰مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت
## (د نړیوالې همکارۍ نورې بڼې)

### الف) د نړیوالې همکارۍ د ټولو ښو اصول

### د غوښتونکو مراجعو مکلفیتونه

1. واکمن مراجع باید د همکارۍ د غوښتنې په مهال هڅه وکړي چې کامل حقیقي معلومات، که لازمه وي، حقوقي معلومات برابر کړي او د هغو د سملاسي توب ارتیا څرګنده کړي تر څو چې غوښتنې ته په خپل مهال او په اغیزمنه توګه ځواب ورکول شي او د نومړو معلوماتو اټکل شوې ګټه اخیستنه ترسره شي. غوښتونکي مراجع د غوښتنې په صورت کې باید واکمنو غوښتل شویو مراجعو ته د لاسته راغلو معلوماتو د ګټې اخیستنې او مفیدیت په باب خپل نظر ورایي.

### بېځایه محدود کوونکي اقدامات

2. هیوادونه باید د اطلاعاتو یا مرستې د مبادلې دبرابرولو په لاره کې خنډ منځ ته را نه وړي یا بېځایه او غیرموجه محدودکوونکي شرطونه وراندې نکړي. په تېره بیا واکمن مراجع باید د لاندنیو دلایلو پربنا یوه غوښتنه رد نکړي:

(أ) په غوښتنه کې مالي چارې هم نغښتې دي، او/یا

(ب) قوانین د مالي موسسو یا ټاکل شویو غیرمالی کارونو یا مسلکونو څخه غواړي چې سریت یا محرمیت وساتي (مګر دا چې غوښتیدونکي معلومات د حقوقي امتیاز یا حقوقي مسلکي محرمیت په حالاتو کې ساتل کیږي؛ او/یا

(ت) په غوښتیدونکي هیواد کې تحقیق یا عدلي اجراآت جاري دي، مګر داچې مرسته د تحقیق یا عدلي اجراآتو خنډ وګرځي؛ او/یا

(ث) د غوښتونکي مرجع ماهیت یا وضعیت (د مدني، اداري، اجرای او نورو اړخونو له پلوه) د بهرني ساري سره توپیر لري.

### د تبادله شوو معلوماتو مصؤنیتونه

3. تبادله شوي معلومات باید یوازې د مطلوبې موخې دپاره وکارول شي. نورو مراجعو یا دریمو اړخونو ته د معلوماتو خپرول، یا د معلوماتو څخه د اداري، تحقیقاتي، عدلي یا قضایي موخو دپاره ګټه اخیستل چې د لومړني موخو نه وراندې وي باید د غوښتیدونکي واکمن مرجع د مخکینۍ اجازې نه وروسته صورت ونومومي.

4. واکمن مراجع باید د همکارۍ او د معلوماتو د تبادلې غوښتنه په لازم محرمیت کې وساتي ترڅو چې د تحقیقاتو"، سلامتیا د معلوماتو د سریت او خوندی کولو په اره د خواوو د مکلفیتونو سره سم وساتل شي . لږترلږه واکمن مراجع باید تبادله شوي معلومات لکه د کورنیو سرچینو څخه د لاسته راغلو

[48] معلومات کیدای شي چې څرګند شي، که چیرې دا سې څرګندونه د همکارۍ د غوښتنې لپاره ضروري وي.

معلوماتو په شان وساتي. هیوادونه باید ددې کار د تامین دپاره کنترولرونه او مصئونیتونه منځ ته راوړي چې هغه معلومات چې د واکمنو مراجعو له خوا تبادله کیږي یوازې په هغه ډول چې مجوز دی وکارول شي. د معلوماتو تبادله باید په مصئون ډول او د ډاډمنو کانالونو یا میکانیزمونو له لارې ترسره شي. غوښتیدونکي واکمن مراجع کولای شي د اړتیا په صورت کې د معلوماتو د وړاندې کولو څخه ډډه وکړي که چیرې غوښتونکي واکمنه مرجع ونشي کولای په اغیزمنه توګه معلومات وساتي.

## د معلوماتو د لټونې واک

5. واکمن مراجع باید وکولای شي چې د بهرني ساري په استازیتوب تحقیقات ترسره کړي او د خپلو بهرنیو ساریو سره ټول معلومات چې د هغوی له خوا د لاسته راوړلو وړ وي تبادله کړي که چیرې دغه راز تحقیقات د هیواد په دننه کې ترسره شوي وای.

## د نړیوالې همکارۍ د ټاکلو بنو اصول

6. پورتني عمومي اصول باید د ساریو یا غیرساریو ترمنځ د معلوماتو د تبادلې د ټولو بڼو په باب د لاندینو پراګرافونو پر اساس د تطبیق وړ وي.

## د مالي استخباراتي واحدونو ترمنځ د معلوماتو تبادله

7. مالي استخباراتي واحدونه باید د بهرنیو مالي استخباراتي واحدونو سره د هغوی د دریغ د پاملرنې پرته معلومات تبادله کړي؛ که څه هم دغه معلومات اداري، عدلي قضایي یا داسې نور ماهیت ولري. ددې کار دپاره نوموړي واحدونه باید د پیسو د تطهیر، د ماقبل جرمونو او ترهګریز تمویل په باب د همکارۍ د کولو دپاره بسیا حقوقي پایه ولري.

8. مالي استخباراتي واحدونه د همکارۍ د غوښتنې په مهال باید هڅه وکړي چې پوره حقیقي او، که لازمه وي، حقوقي معلومات برابر کړي، د قضیې په باب توضیحات ورکړي او د هغې بالقوه اړیکه د غوښتیدونکي هیوا سره په ګوته کړي. مالي استخباراتي واحدونه د غوښتنې په صورت کې او کله چې ممکنه وي باید خپلو بهرنیو ساریو ته د برابرشویو معلوماتو د کارولو په باب او همداراز د برابرشویو معلوماتو پربنا د سرته رسول شوې ارزونې د پایلې په باب خپلې نظریې وړاندې کړي.

9. مالي استخباراتي واحدونه باید ددې واک ولري چې لاندینې معلومات تبادله کړي:

(أ) ټول هغه معلومات چې د FATF د سپارښتنو سره سم، په تیره بیا د ۲۹ شمیرې پربنا په لاس راځي باید په مستقیمه یا غیرمستقیمه توګه د مالي استخباراتي واحد له خوا د لاسرسنې او اکتساب وړ وي؛ او

(ب) د بالمثل عمل پربنا هغه معلومات چې هغوی یې په کورنۍ کچه د مستقیمې یا غیرمستقیمې لاسرسنې یا اکتساب واک لري.

## د مالي څارونکو[49] ترمنځ د معلوماتو تبادله

49 این به نظارت کنندگان مالی ای اطلاق می شود که مقامات ذیصلاح اند.


© ۲۰۱۳

10. مالي څارونکي باید د خپلو بهرنیو ساریو سره د هغوی د ماهیت یا دریځ د پاملرنې پرته همکاري وکړي. د مالي څارونکو ترمنځ اغیزمنه همکاري د AML/CFT له نظره د مالي موسسو د اغیزمنې څارنې کار آسانه کوي. ددې کار دپاره مالي څارونکي باید د څارنې د اړونده نړیوالو موازینو سره سم، په تیره بیا د AML/CFT د موخو په اړه د څارنې د اړونده معلوماتو د تبادلې دپاره یو بسیا حقوقي اساس ولري.

11. مالي څارونکي باید ددې واک ولري چې د هغو معلوماتو په شمول د مالي موسسو سره موجود دي، هغه معلومات چې د هیواد په دننه کې د دوی د اړونده اړتیاوو په تناسب د لاسرسي وړ دي د بهرنیو ساریو سره تبادله کړي. مالي څارونکي باید وکولای شي لاندیني بیلابیل معلومات چې د AML/CFT د موخو سره اړه ولري ، په تیره بیا د نورو اړونده څارونکو سره چې د ډلې په دننه کې د مالي موسسو مسئولیت په غاړه لري، تبادله کړي.

(أ) مقرراتي معلومات، لکه د کورنیو مقرراتو د سیستم په باب معلومات، او د مالي سکتورونو په باب عمومي معلومات.

(ب) احتیاطي معلومات، په تیره بیا د اساسي اصولو د څارونکو دپاره، لکه د سوداګریزو فعالیتونو، نافع مالکیت، منجمنت، او مساعدوالي او د په ځای والی له نظره د مالي موسسو په باب معلومات

(ت) د AML/CFT معلومات ، لکهAML/CFT په اړه د مالي موسسو کورنې تګلارې او کړنلارې ، د سي دي دي معلومات، د مشتریانو دوسیې، د حسابونو نمونې او د معاملاتو معلومات.

12. مالي څارونکي باید وکولای شي د خپلو بهرنیو ساریو په استازیتوب تحقیقات مخ ته بوزي، او د اړتیا په صورت کې بهرنیو ساریو ته اجازه ورکړي یا مرسته ورسره وکړي چې پخپله وکولای شي په هیواد کې تحقیقات سرته ورسوي او په دې ترتیب د اغیزمنې ډله ایزې څارنې لاره برابره کړي.

13. د تبادله شوو معلوماتو هر ډول خپرونه یا د دې معلوماتو څخه د څارنې یا غیرڅارنې په موخو ګټه اخیستنه باید د غوښتونکي مالي څارن د اجازې تابع وي، مګر داچې غوښتونکی مالي څارن حقوقی مکلفیت ولري چې معلومات افشا کړي یا رپوټ ورکړي. په داسې مواردو کې، لږترلږه غوښتونکی مالي څارن باید غوښتندونکی مرجع د دغه مکلفیت نه په چټکه توګه باخبره کړي. مخکینۍ اجازه په هغو پخوانیو اجازو کې شاملیږي چې د تفاهم په یادښتلیک یا د تفاهم په څوارخیز یادښتلیک کې درج شوي وي کوم چې د اساسي اصولو د ستندرد د مرجع له خوا صادریږي او د تفاهم د یادښتلیک یا د تفاهم د څوارخیز یادښتلیک پرېنا د معلوماتو د تبادلې په باب مرعی الاجرا دي.

## د قانون د تنفیذ د مراجعو ترمنځ د معلوماتو تبادله

14. د قانون د تنفیذ مراجع باید وکولای شي د هیواد په دننه کې موجود معلومات د بهرنیو ساریو سره د پیسو د تطهیر، ماقبل جرمونو یا ترهګریز تمویل په اړه د استخباراتي او تحقیقاتي موخو دپاره او همدارازد هویت د تثبیت او د جرمونو د عواید او اسبابو د تعقیب په موخه تبادله کړي.


© ۲۰۱۳

15. د قانون د تنفیذ مراجع همدارنګه باید وکولای شي چې، د هرډول موجودو تحقیقاتي تخنیکونو په شمول، د خپلو واکونو څخه د هغوی د کورنیو قوانینو سره سم، د تحقیقاتو د سرته رسولو او د معلوماتو د لاسته راوړلو په موخه د بهرنیو ساریو په استازیتوب ګټه واخلي. پر داسې عدلي همکارۍ باندې حاکم موجود رژیمونه او تګلارې، لکه د انترپول، یوروپول یا یوروجست او بیلابیلو هیوادو ترمنځ تړونونه، باید ټول هغه محدودیتونه چې غوښتندونکي عدلي مرجع د هغو د کارولو په وړاندې وضع کړې دي تنظیم کړي.

16. د قانون د تنفیذ مراجع باید وکولای شي چې ګډ تحقیقاتي ټیمونه د همکاره تحقیقاتو د ترسره کولو په موخه جوړکړي، او د اړتیا په صورت کې هیوادونه باید دوه اړخیزه یا څو اړخیزه ترتیبات د نوموړو ګډو تحقیقاتو د سرته رسولو دپاره منځ ته راوړي. هیوادونه هڅول کیږي چې د AML/CFT موجودو عدلي شبکو سره یوځای شي او د هغو ملاتړ وکړي، او د هیواد نه بهر د قانون د تنفیذ د مراجعو سره، په بهر کې د اړیکو د کارکوونکو د ټاکلو په شمول، د اغیزمنې او په خپل وخت همکارۍ د آسانولو په موخه اړیکې ټینګې کړي.

## د غیر ساریو خواوو ترمنځ د معلوماتو تبادله

17. هیوادونه باید خپلو واکمنو مراجعو ته اجازه ورکړي چې د غیرساریو اړخونو سره د هغو اصولو په کارولو سره چې پورته ورته اشاره وشوه، په غیرمستقیمه توګه معلومات تبادله کړي. د معلوماتو غیرمستقیمه تبادله یعنې هغه مطلوب معلومات چې د غوښتندونکې مرجع څخه د یوه یا څو کورنیو یا بهرنیو مراجعو له لارې غوښتونکې مرجع ته رسیږي. د معلوماتو دا ډول تبادله او دهغو کارول کیدای شي په غوښتندونکي هیواد کې د یوه یا څو مرجعو د اجازې تابع وي. هغه واکمنه مرجع چې معلومات غواړي باید همیشه واضح کړي چې د څه مقصد او د چا په استازیتوب یې دغه غوښتنه وړاندې کړې ده.

18. هیوادونه همدارنګه هڅول کیږي چې د غیرساریو خواوو سره په نیغه د معلوماتو د چټکې او جوړونکې تبادلې اجازه ورکړي.


© ۲۰۱۳

© ۲۰۱۳

## د مالي موسسو او DNFBPs د مقتضیاتو حقوقي بنسټ

1. ټولې هغه غوښتنې چې د مالي موسسو او مشخصو غیرمالي شرکتونو او مسلکونو (DNFBPs) د پاره په پام کې نیول شوې دي باید (الف) په قانون کې (په دې باب په ۱۰، ۱۱ او ۲۰ مو سپارښتنو کې تاکل شوو غوښتنو ته مراجعه وکړئ)، یا (ب) په ټولو نورو مواردو کې، په قانون یا نورو د اجرا وړ وسیلو کې (تاکنه د هیواد په واک کې ده) اتکل شوې وي.

2. په ۱۰، ۱۱ او ۲۰ مو سپارښتنو کې د "قانون" اصطلاح د هر تقنیني سند په معنا ده چې د یوې پارلماني پروسې یا یوې بلې معادلې وسیلې له لارې د هیواد د اساسي قانون په چوکاټ کې صادر شوی یا تصویب شوی وي او الزامي مکلفیتونه او د هغه د نه رعایت کولو په وړاندې بندیزونه وضع وکوي. دغه بندیزونه باید اغیزمنه، متناسب او مخنیوونکي وي (۳۵ مې سپارښتنې ته مراجعه وکړئ). د قانون په اصطلاح کې همدا رنګه هغه قضایي احکام شاملیږي چې نوموړې غوښتنې تحمیلوي او د هیواد په ټولو سیمو کې الزامي او معتبر وي.

3. د "اجرا وړ وسیلې" اصطلاح د مقرراتو، لارښودونو، لارښوونو یا نورو سندونو یا میکانیزمونو په معنا ده چې د AML/CFT غوښتنې په الزامي عبارت او د هغو د نه رعایت کولو په وړاندې بندیزونه پکې ځغښتې دي او د یوې واکمنې مرجع له خوا صادریږي یا په تصویب رسیږي. دغه بندیزونه باید اغیزمنه، متناسب او مخنیوونکي وي (۳۵ مې سپارښتنې ته مراجعه وکړئ).

4. د دې پوښتنې د څیړنې په مهال چې آیا یو سند یا یو میکانیزم داسې غوښتنې لري چې د "اجرا وړ وسیلو" په توګه وپیژندل شي او که نه، باید لاندیني عوامل په پام کې ونیول شي:

(أ) باید یو سند یا میکانیزم وجود ولري چې په هغه کې د FATF د سپارښتنو مسئلو ته د حل د پاره غوښتنې شاملې وي، او په واضحه توګه بیان شوې غوښتنې وړاندې کړي چې هغه غوښتنې همدا رنګه بیان کړي. د مثال په توګه:

(i) که چیرې په ټاکلو اقداماتو کې، د فعل مرستیال لکه "به" (shall) یا "باید" (must) کارول شوی وي، دغه اقدام باید الزامي وګڼل شي؛

(ii) که چیرې په دا ډول اقداماتو کې د فعل د مرستیال ماضي یا تیر حالت "باید" (should) کارول شوی وي، دغه اقدام کیدای شي الزامي وګڼل شي په دې شرط چې هم تنظیم کوونکې اداره او تنظیم کیدونکې اداره وښیي چې د نظر وړ اقدامونه په مستقیمه یا غیرمستقیمه توګه ضروري دي او د پلې کیدو په حال کې دي؛ هغه نور عبارتونه لکه "هڅول کیږي" یا "سپارښتنه ورکول کیږي" یا داچې موسسې "باید په پام کې ونیسي" په ډیر لږ احتمال سره الزامي ګڼل کیږي. په هر مورد کې چې کمزوری عبارت کارول شوی وي کیدای شي فرض شي چې دغه عبارت الزامي ندی (مګر داچې هیواد هغه په بل ډول ښکاره کړي).

(ب) نوموړی سند/میکانیزم باید د واکمنې مرجع له خوا صادر یا تصویب شوی وي.

(ت) د سرغړونې دپاره باید بندیزونه په پام کې نیول شوي وي (بندیزونه حتمي ندي چې د غوښتنو په سند کې ځای ولري، او کیدای شي په یوبل سند کې راشي، په دې شرط چې د غوښتنو او بندیزونو ترمنځ یوه واضحه اړیکه وجود ولري)، او دا بندیزونه باید اغیزمنه، متناسب او مخنیوونکي وي. دا کار د پاره باید لاندې مطلبونه په پام کې ونیول شي:

(i) باید د اغیزناکو، متناسبو او مخنیوونکو بندیزونو یوه بسیا مجموعه وجود ولري که چیرې اشخاص خپل مکلفیتونه ترسره نکړي؛

(ii) بندیزونه باید د AML/CFT دغوښتنو د سرغړونې په وړاندې په مستقیمه یا غیرمستقیمه توګه اجرا شي. که چیرې د نوموړو غوښتنو د یوې غوښتنې سرغړونه داسې تعزیر ونلري چې په نیغه په هغې پورې اړه ونیسي، په دې صورت کې د غوښتنو د سرغړونې ډیر پراخه بندیزونه، لکه د لازمو سیستمونو یا کنټرولوو نه درلودل یا د مصئون او سالم کار نه کول، هم د قناعت وړدي، په دې شرط چې لږترلږه د یوه یا څو AML/CFT غوښتنو سرغړونه په بسیا توګه تر بندیز لاندې راشي (او یا راغلې وی) پرته له دې چې ضرور وي د نور احتیاطي سرغړوونې چې پهAML/CFT پورې اړه ونلري ثابتې شي؛ او

(iii) آیا قانع کوونکی ثبوت وجود لري چې اغیزمنه، متناسبه او مخنیوونکي بندیزونه پلي شوی دي که نه.

5. په ټولو مواردو کې باید روښانه شي چې مالي موسسې او مشخص غیرمالي شرکتونه او مسلکونه پوهیږي چې د سرغړونې په وړاندې بندیزونه کارول کیږي او دا چې دغه بندیزونه کوم دي.

# د اصطلاحاتو معنی

| اصطلاحات | تعریفونه |
|---|---|
| Accounts | "حساباتو" ته اشارې باید د مالي موسسو او مشتریانو ترمنځ نورې ورته اړیکې هم په ځان کې ولري. |
| Accurate | د ۱۲مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت ته مراجعه وکړئ. |
| Agent | د ۱۴مې او ۱۲مې سپارښتنو په هکله اجنټ یا استازی، د یوه طبیعي یا حکمي شخص په معنا دی چې د پیسو یا ارزونو د لیږد خدمتونه د هغو د برابروونکي په استازیتوب د یوه تړون له لارې یا د نوموړي برابروونکي په لارښوونه ترسره کوي. |
| Appropriate authorities | د ۸مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت ته مراجعه وکړئ. |
| Associate NPOs | د ۸مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت ته مراجعه وکړئ. |
| Batch transfer | د ۱۲مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت ته مراجعه وکړئ. |
| Bearer negotiable instruments | د حامل د تبادلې وړ ابزار، د حامل په بڼه د پیسو ابزارو ته وایي لکه سفري چیکونه؛ د تبادلې وړ ابزار (چیکونه، ژمن لیکونه، د پیسو حوالې) چې په حامل بڼه د یوه مجازي لاسته راوړونکي په وجه کې د محدودیت نه پرته صادرېږي او یا په بل ډول چې عنوان یې د سپارنې په مهال لیږدول کېږي صادرېږي؛ نابشپړه ابزار (لکه چیکونه، ژمن لیکونه، د پیسو حوالې) چې لاسلیک شوي وي مګر د لاسته راوړونکي نوم حذف کېږي. |
| Bearer shares | حامل اسهام هغه د تبادلې وړ ابزار دي چې د یوه حکمي شخص څښتنتوب داسې شخص ته نسبت ورکوي چې د حامل سهم د تصدیق خاوند وي. |
| Beneficial owner | نافع څښتن هغه طبیعي شخص یا اشخاصو ته وایي چې په آخر کې[50] یو مشتري[51] تصاحب یا کنټرولوي او/یا هغه طبیعي شخص ته وایي چې د هغه په استازیتوب یوه معامله صورت مومي. دغه اصطلاح هغه اشخاص هم په ځان کې لري چې په یو حکمي شخص یا سازمان باندې اغېزمنه کنټرول ولري. |
| Beneficiary | د ګټه وال اصطلاح د FATF په سپارښتنو کې په موضوع پورې تړلې ده:<br>■ د اماناتو په قانون کې ګټه وال هغه شخص یا اشخاصو ته ویل کېږي چې د تراست په یوه تنظیم کې د ګټې اخیستو حق ولري. یو ګټه وال کولای شي یو طبیعي شخص یا حکمي شخص یا یو حکمي تنظیم وي. ټول تراستونه (د خیریه تراستونو یا قانوناً غیرخیریه تراستونو په استثنا) باید د تثبیت وړ ګټه وال اشخاص ولري. په داسې حال کې چې تراستونه تل باید ګټه وال |

[50] "په آخر کې تصاحب یا کنټرول کولو" او "په آخر کې اغېزناکه کنټرول کولو" ته اشاره د هغو حالاتو معنا لري چې څښتنتوب/کنټرول د څښتنتوب د یو ځنځیر له لارې یا د یوه کنټرول په واسطه چې مستقیم کنټرول نه وي، منځ ته راځي.

[51] دغه تعریف باید د ژوند د بیمې یا د پانګې اچونې په اړه بیمې د یوه مشتري د نافع څښتن په مورد کې هم صدق وکړي.

| | |
|---|---|
| | او په پای کې ګټه وال اشخاص ولري، تراستونه کولای شي تعریف شوي موجود ګټه وال اشخاص ونلري بلکه یوازې د واک څېزونه ولري تر هغه مهاله پورې چې شخص د تاکل شوې مودې په پای کې چې د تجمع د مودې په نامه یادیږي، د عوایدو یا پانګې دګټه وال په نامه وپیژندل شي. دا دوره معمولاً د امانت د دوام د دورې سره معادله ده چې اکثراً د امانت په سند کې د اعتماد په دورې معرفي کیږي.<br>■ د ژوند د بیمې یا بل ډول بیمې کې چې په پانګې اچونې پورې اړه ولري، ګټه وال د یوه طبیعي یا حکمي شخص یا حکمي تنظیم یا اشخاصو کټګوریو ته وایې چې که چیرې یا کله په بیمې پورې تړلې یوه پیښه صورت ومومې چې د بیمې د پالیسۍ په چوکاټ کې نغښتې وي، په دې پالیسۍ کې ټاکل شوې پیسې ترلاسه کوي.<br>مهرباني وکړئ د ۸مې او ۱۲مې سپارښتنو په باب تفسیري یادونو ته مراجعه وکړئ. |
| **Beneficiary Financial Institution** | مهرباني وکړئ د ۱۲مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت ته مراجعه وکړئ. |
| **Competent Authorities** | واکمن مراجع ټولو هغو دولتي مراجعو[52] ته وايي چې د پیسو د تطهیر او ترهګریز تمویل پرضد د مبارزې مسئولیت په غاړه ولري. په دغې اصطلاح کې په تیره بیا لاندې مراجع شاملیږي: مالي استخباراتي واحد؛ هغه مراجع چې د پیسو د تطهیر، اړونده ماقبل جرمونو او ترهګریز تمویل د تحقیق او/یا عدلي تعقیب، او د جرمي شتمنیو د مصادرې، انجماد او ضبط دنده په غاړه لري؛ هغه مراجع چې د اسعارو او د حامل د تبادلې وړ ابزارو د پولې نه د لیږد رپوټونه په لاس راوړي؛ او هغه مراجع چې د AML/CFT په اړه د مسئولیتونو د څارنې او کتنې دنده په غاړه لري چې د هغې موخه د مالي موسسو او غیرمالي نومول شویو کارونو او مسلکونو له خوا د AML/CFT دغوښتنو مراعاتول دي. ځېل څارنې اداري باید د واکمنو مراجعو په توګه ونه شمیرل شي. |
| **Confiscation** | د ضبط اصطلاح چې په اړونده مواردو کې مصادره هم شاملوي د یوې واکمنې مرجع یا محکمې د حکم په موجب د پانګو یا نورو شتمنیو د دایمي سلب معنا لري ضبط یا مصادره د قضایي یا اداري اجراآتو له لارې صورت مومي چې د پانګو یا نورو شتمنیو څښتنتوب دولت ته لیږدول کیږي. په دې مورد کې، هغه شخص یا اداره چې د ضبط یا مصادرې پر مهال په ټاکلو پانګو او شتمنیو کې ګټه وال وي په اصل کې د ټولو ضبط شویو پانګو او نورو شتمنیو حقونه له لاسه ورکوي. د ضبط یا مصادرې |

[52] د ملي څارونکو په شمول چې د ځېلواکو ناحکومتي مراجعو په توګه د قانوني واک په لرلو سره جوړې شوې دي.

| | |
|---|---|
| | حکمونه معمولاً د یوه جزایي حکم یا د محکمې په پریکړې پورې اړه نیسي چې په هغه کې تثبیت کیږي چې ضبط شوی یا مصادره شوی ملکیت د قانون د سرغړونې څه سرچینه نیسي یا د قانون د سرغړونې په موخه ورځنې ګټه اخیستل کیدله |
| **Core Principles** | بنسټیز اصول په لاندې اصولو باندې دلالت کوي: د اغیزمنه بانکی څارنې بنسټیز اصول چې د بازل د کمیټې د بانکې څارنې ( Basel Committee on Banking Supervision ) له خوا صادر شویدي، د تضمینونو د مقرراتو موخې او اصول چې د تضمینونو د کمیسیونونو د نړیوال سازمان ( International Organization of Securities Commissions ) له خوا صادرشویدی، او د بیمې د څارنې اصول چې د بیمې د څارونکو د نړیوالې ټولنې ( International Association of Insurance Supervisors ) له خوا صادرشویدی. |
| **Correspondent banking** | منځګړې بانکداري – د یوه بانک له خوا (منځګړئ بانک) بل بانک ته (عامل بانک) د بانکي خدمتونو برابرول دي. لوی نړیوال بانکونه معمولاً د منځګړي بانکونو په توګه په نړۍ کې په زرهاوو نورو بانکونو ته خدمت کوي. هغوی عاملو بانکونو ته پراخه خدمتونه لکه د نقدو پیسو مدیریت (د مثال په توګه د راز راز اسعارو د ګټې حسابونه)، نړیوالې الکترونیکي لیږدونې، د چیکونو تادیې، د نیغې تادیې حسابونه او بهرنیو اسعارو خدمتونه برابرولای شي. |
| **Country** | ټولې هغه اشارې چې د FATF په سپارښتنو کې هیواد یا هیوادونو ته شویدي په هماغه کچه په ټاټوبونو او د واک په حوزو پورې هم اړه نیسي. |
| **Cover Payment** | مهرباني وکړی د ۱۲مې سپارښتنې په باب تفسیری یادښت ته مراجعه وکړی. |
| **Criminal activity** | جرمي فعالیت: (الف) ټول جرمي فعالیتونه چې د پیسو د تطهیر د ماقبل جرم په نامه په هیواد کې وګڼل شي؛ (ب) لږترلږه هغه جرمونه چې د ۳مې سپارښتنې سره سم د ماقبل جرم په توګه وګڼل شي. |
| **Cross-border Wire Transfer** | مهرباني وکړی د ۱۲مې سپارښتنې په باب تفسیری یادښت ته مراجعه وکړی. |
| **Currency** | اسعار، بانکې نوټونو او سکوکو ته وایي چې د تبادلې د وسیلې په توګه په دوران کې وي |
| **Designated categories of offences** | د جرمونو کټګوری:<br>■ په یوه تنظیم شوي جنایي سازمان یا باج نیونه کې ګډون<br>■ د ترهګریز تمویل په شمول تروریزم<br>■ د انسانانو سوداګري او د مهاجرینو قاچاق<br>■ د ماشامونو د جنسي استثمار په شمول جنسي استثمار<br>■ د نیشه یي او سایکو تراپیک توکو نامشروع سوداګری<br>■ د وسلو نامشروع سوداګری<br>■ د مسروقه څیزو او داسې نورو نامشروع سوداګری |


© ۲۰۱۳

- اداري فساد او ارتشا
- تقلب او فریب
- د پیسو جعل
- د محصولاتو جعل او غلا
- د ژوند د چاپیریال جرمونه
- وژنه، د بدن شدید تپي کول
- برمته نیول، ناقانوني نیونه او یرغمل نیول
- لارنیونه یا غلا
- قاچاق کول؛ (د گمرکونو او کورنیو مالیو او گمرکي محصول په اړه قاچاق کول)
- دمالیو جرمونه (د مستقیمو مالیو او غیرمستقیمو مالیو په اړه)
- اخاذي (په زور اخیستنه)
- د اسنادو جعل
- سمندري غلا؛ او
- د اسهامو کورنۍ احتکار او د بازار لاسوهنه

کله چې د جرمونو د څرنگوالي په باب پریکړه کیږي چې آیا یو جرم د ماقبل جرم په توگه په نوموړو کتگوریو کې پېږ راشي او که نه، هر هیواد کولای شي د خپلو کورنیو قوانینو سره سم د دغو جرمونو د تعریف او د هغوی د شدت د خاصو عناصر د ماهیت په باب پریکړه وکړي.

**Designated nonfinancial businesses and professions**

نومول شوي غیرمالي کارونه او مسلکونه:

(أ) کازینوگانې[53] (قمارخایونه)
(ب) د غیرمنقولو شتمنیو اجنټان
(ت) د گرانو فلزاتو سوداگران
(ث) د گرانو ډبرو سوداگران
(ج) حقوقي وکیلان ، دارالوکالې، نور مسلکیان او حقوقي محاسبه چیان—دا په مسلکي شرکتونو کې بوخت کارکوونکي، شریکان یا مسلکیان دي او په هغو مسلکیانو دلالت نه کوي کوم چې په بل ډول شرکتونو کې د کارکوونکو په توگه بوخت دي یا په دولتي ادارو کې دنده ترسره کوي او کیدای شي د AML/CFT د اقداموتو تابع وي.
(ح) د تراست او شرکت د خدمتونو برابروونکي په ټولو هغو اشخاصو او شرکتونو دلالت کوي چې په دغو سپارښتنو کې بل چیرته یادشوي ندي او د یوه شرکت په توگه د دریمې خوا دپاره لاندې خدمتونه ترسره کوي:

[53] هغه اشارې چې د FATF په ټولو موازینو کې د کازینوگانو په باب شوي دي د انټرنټ او بیړیو کازینوگانې هم پکې شاملیږي.

- د حکمي اشخاصو د تشکل د استازي په توگه عمل کوي ؛
- د نورو حکمي اشخاصو په اړه د یوه شرکت د مشر یا منشي په توگه (یا د بل شخص په خاطر ددې موقف د ترتیبولو دپاره)، د شراکت د شریک په توگه یا ورته موقف کې عمل کول؛
- د یوه شرکت، یو مشارکت یا شخص یا بل حکمي تنظیم ته د یوه راجسترشوی دفتر برابرول،د کار یا هستوگنې پته، پوستي یا اداري پته؛
- د یوه اکسپرس تراست د تراستي په توگه (یا د بل شخص دپاره ددې موقف د ترتیبولو دپاره) عمل کول یا د یو بل ډول حکمي تنظیم دپاره د یوې معادلې دندې ترسره کول؛
- د یوه بل شخص دپاره د سهم لرونکي د نامزد په توگه (یا د بل شخص دپاره ددې موقف د ترتیبولو دپاره) عمل کول.

| | |
|---|---|
| **Designated person or entity** | تشخیص شوئ شخص یا اداره:<br>(i) هغه افراد، ډلې، سازمانونه او ادارې چې د امنیت شورا د کمیټې له خوا، کومه چې د 1267 ( 1999 ) د پریکړه لیک پربنا (د 1267کمیټې په نامه) جوړه شوې ده، په القاعده پورې تړلې افراد نومول شویدی، یا ادارې او نورې ډلې او سازمانونه چې په القاعده پورې تړلي وی؛<br>(ii) هغه افراد، ډلې، سازمانونه او ادارې چې د امنیت شورا د کمیټې له خوا، کومه چې د 1988 ( 2011 ) د پریکړه لیک پربنا (د 1988کمیټې په نامه) جوړه شوې ده، د افغانستان د سولې، ثبات او امنیت ته د گواښ د پیدا کولو په لاره کې په طالبانو پورې تړلې افراد نومول شویدی، یا ادارې او نورې ډلې او سازمانونه چې په طالبانو پورې تړلي وی؛<br>(iii) هغه طبیعي یا حکمي شخص یا سازمان چې د قضایي پریکړو یا مافوق ملي پریکړو پربنا د 1373 ( 2001 ) پریکړه لیک سره سم نومول شوي دي ؛<br>(iv) هغه طبیعي یا حکمي شخص یا سازمان چې د پام وړ مالي بندیزونو د پلي کولو دپاره د امنیت د شورا د 1718 ( 2006 ) پریکړه لیک او د هغې نه وروسته پریکړه لیکونو سره سم د امنیت د شورا له خوا داروندہ پریکړه لیکونو په ضمایموکې، یا د امنیت د شورا د کمیټې له خوا، چې د 1718 ( 2006 ) پریکړه لیک سره سم د 1718 دبندیزونو کمیټې په نامه جوړه شویده، د امنیت د شورا د 1718 ( 2006 ) پریکړه لیک سره سم نومول شویدي؛ او<br>(v) هغه طبیعي یا حکمي شخص یا سازمان چې د ټینه شوي مالي بندیزونو د پلي کولو دپاره د امنیت د شورا د 1737 ( 2006 ) پریکړه لیک او د هغې نه وروسته پریکړه لیکونو سره سم د امنیت د شورا له خوا داروندہ پریکړه لیکونو په ضمایموکې، یا د امنیت د شورا د کمیټې له خوا، چې د 1737 |


© ۲۰۱۳

| | |
|---|---|
| | ( 2006) پریکړه لیک د 18 مادې سره سم د 1737 د بندیزونو کمیټې په نامه جوړه شویده، د امنیت د شورا د 1737 ( 2006) پریکړه لیک سره سم نومول شویدي. |
| Designation | د تشخیص اصطلاح د یوه شخص:- یا سازمان د هویت د تثبیتولو معنا لري چې د امنیت د شورا د لاندې پریکړه لیکونو سره سم تر تاکل شوو مالي بندیزونو لاندې راځي:<br>■ د ملګرو ملتو د امنیت شورا 1267 ( 1999) پریکړه لیک او په هغه پسې راتلونکي پریکړه لیکونه؛<br>■ د امنیت شورا 1373 ( 2001) پریکړه لیک، په دې نیت چې اړونده بندیزونه به پر شخص یا اداري باندې پلي کیږي او خلکو ته به خبر خپرول کیږي ؛<br>■ د امنیت شورا 1737 ( 2006) پریکړه لیک او په هغه پسي راتلونکي پریکړه لیکونه ؛ او<br>■ د امنیت شورا راتلونکي پریکړه لیکونه چې د ډله ایزې وژنې د وسلو د خپرولو په وړاندې تنبه شوي مالي بندیزونه وضع کړي |
| Domestic Wire Transfer | مهرباني وکړی د ۱۲مې سپارښتني په باب تفسیري یادښت ته مراجعه وکړی. |
| Enforceable means | مهرباني وکړی د مالي موسسو او مشخص شوو غیرمالي چاروا و مسلکونو مقتضیاتو د حقوقي بنسټ په باب یادښت ته مراجعه وکړی. |
| Ex Parte | هغه کار چې داغیزمن اړخ د مخکیني خبرتیا او ګډون نه پرته ترسره کیږي. |
| Express trust | څرګند یا اکسپرس تراست هغه تراست دی چې د امانت ورکوونکي له خوا په روښانه توګه اغلباً د یوه سندلکه د تراست د یوه تحریري سند په بڼه جوړشوی وي. دا ډول تراستونه له هغو تراستونو نه توپیر لري چې د قانون د تنفیذ له لاري منځ ته راځي او د یوه تراست او ورته حکمي تنظیمونو (لکه جوړونکئ تراست) د جوړولو په باب د امانت ورکوونکي د واضح نیت او پریکړې نه سرچینه نه اخلي. |
| False declaration | مهرباني وکړی د ۳۲مې سپارښتني په باب تفسیري یادښت ته مراجعه وکړی. |
| False disclosure | مهرباني وکړی د ۳۲مې سپارښتني په باب تفسیري یادښت ته مراجعه وکړی. |
| Financial group | مالي ډله هغه ډله ده چې د یوې مورني یا یو بل ډول حکمي شخص څخه چې جوړه شوې وي چې د ډلې په پاتې برخې ، د شعبو او څانګو سره یوځای چې د ډلې په کچه د AML/CFT د تګلارو او کړنلارو تابع دي، د ډلې د څارنې په موخې د بنسټیزو اصولو سره سم د کنټرول او هماهنګي چارې سرته رسوي. |
| Financial | مالي موسسې هغه طبیعي یا حکمي اشخاصو ته وایي چې د شرکت په توګه د |

[54] طبیعي یا حکمي.

| | |
|---|---|
| **institutions** | مشتري دپاره یا د هغه په استازیتوب د لاندینیو فعالیتونو څخه یو یا څو فعالیتونه ترسره کوي:<br>1. د خلکو له خوا د پیسو او نورو د استرداد وړ پانګو د ایښودلو منل ـ[55]<br>2. دپور ورکړه.[56]<br>3. مالي اجاره .[57]<br>4. د پیسو یا ارزونو د لیږد خدمتونه.[58]<br>5. د تادیې د وسیلو صادرول او مدیریت کول (لکه د کریدت او دیبت کارتونه، چیکونه، سفري چیکونه، بانکي حوالې، الترونیکي پیسې).<br>6. مالي تضمینونه او ژمنې.<br>7. په لاندې ډګرونو کې سوداګري:<br>(أ) د پیسو د ابزارو بازار (چیکونه، بیلونه، د پیسو د ساتلو تصدیقونه ، مشتقونه، او نور)؛<br>(ب) بهرنې تبادله؛<br>(ت) تبادله، د ربحې نرخ او د ایندیکس ابزارونه ؛<br>(ث) د لیږد وړ تضمینونه ؛<br>(ج) د کالیو د راتلونکو سوداګري.<br>8. د تضمینونو په مسئلو کې برخه اخیستنه او ددغه مسئلو په اړه د مالي خدمتونو برابرول.<br>9. د اسهامو ځانګړې او ټولیز مدیریت<br>10. د نورو اشخاصو په استازیتوب د نقدو پیسو او پانګو ساتل او اداره کول.<br>11. د نورو اشخاصو په استازیتوب په بل ډول د پانګو یا پیسو کارول او اداره کول.<br>12. د ژوند د بیمو او نور د پانګې اچونې اړونده بیمو ځیړنه او منل.[59]<br>13. د پیسو او اسعارو بدلول. |
| **Foreign counterparts** | بهرنې ساریان هغه واکمن مراجع دي چې د اړونده همکارۍ په اړه ورته مسئولیتونه او دندې لري، ولو که دغه راز واکمن بهرنې مراجع بیلابیل ماهیت یا دریځ ولري (د مثال په توګه، په هر هیواد کې د AML/CFT له نظره د یو شمیر مالي سکتورونو څارنه کیدای شي دیوه څارن له خوا چې د څارنې محتاطانه مسئولیتونه په غاړه لري |

[55] دا موضوع په خصوصي بانکداری پورې هم اړه لري.

[56] په دې خبره کې لاندې تکي شامل دي: استهلاکی کریدت ، د املاکو کریدت ، د مراجعې سره یا له هغې نه پرته فکتورجوړنه، او د سوداګریزو معاملو تمویل (د تاوان په شمول).

[57] دا خبره د استهلاکي محصولاتو په اړه د مالي اجارې په ترتیباتو اړیکه نلري

[58] د اخبره په طبیعی یا حکمی شخص پورې اړه نه نیسي چې د ملي نهادونو دپاره یوازې د پیغام سیستمونه یا نور ساتونکي سیستمونه د پانګو د لیږد په موخه برابروي. د ۱۲ سپارښتنې په باب تفسیري یادښت ته مراجعه وکړی.

[59] دا خبره هم د بیمې د ادارو او هم د بیمې د منځګړیو شرکتونو (اجنټ یا دلال) پورې اړه نیسي.


© ۲۰۱۳

| | |
|---|---|
| یا د مالي استخباراتو د واحد د څارنې د یوې مرجع له خوا ترسره شي). | |
| د انجماد اصطلاح د ضبطولو او لنډمهاله اقداماتو په اړه (لکه ۴مې، ۳۲مې او ۳۸سپارښتنې) د ملکیتونو، تجهیزاتو یا نورو ابزارو د لیږد، بدلونې، سپارنې یا خوځولو منع کولو ته وایي چې د یوې واکمنې مرجع یا محکمې د اقدام پر بنسټ او دهغه په تاکل شوې موده کې د انجماد د یوه میکانیزم سره سم یا د واکمنې مرجع د مصادرې او ضبط د پریکړې تر صادرولو پورې، صورت مومي.<br><br>د انجماد اصطلاح د ۲ مې او ۷مې سپارښتنې په اړه د د ښنه شویو مالي بندیزونو د پلي کولو په باب د هغو پانګو یا نورو شتمنیو د لیږد، بدلونې، سپارنې یا خوځولو منع کولو ته وایي چې په نومول شوو اشخاصو یا ادارو پورې اړه ولري یا دهغوی له خوا کنټرولیږي او د هغه اقدام پر بنسټ او په ټاکل شوې موده کې صورت مومي چې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا یا د امنیت شورا د پریکړه لیکونو سره سم د واکمنې مرجع له خوا نیول شوی وي.<br><br>په ټولو مواردو کې، منجمد شوي ملکیتونه، تجهیزات، ابزار، پانګې یا نورې شتمنۍ د هغه طبیعي یا حکمي شخص یا اشخاصو د شتمنیو په توګه پاتې کیږي چې د انجماد په مهال یې په هغو کې نفع درلوده او کیدای شي د دریم لور له خوا، یا د نورو تنظیمونو له لارې چې د نوموړو طبیعي یا حکمي اشخاصو په واسطه د اقدام د پیل نه مخکې د انجماد د میکانیزم سره سم ټاکل شوي وي، یا د کورنیو قوانینو د احکامو سره سم په راتلونکې کې هم اداره شي. هیوادونه کولای شي د انجماد د اقدام د پلي کولو دیوې برخې په توګه پریکړه وکړي چې د ملکیتونو، تجهیزاتو، ابزارو، پانګو یا نورو شتمنیو کنټرول د تیښتې نه د مخنیوي د یوې وسیلې په توګه په لاس کې واخلي. | **Freeze** |
| د کورني قانون بنسټیز اصول هغه بنسټیز حقوقي اصول دي چې ملي حقوقي سیستمونه په هغو ولاړ دي او داسې یو چوکاټ په لاس راکوي چې په هغه کې ملي قوانین تدوین شوي او صلاحیتونه کارول کیږي. دغه بنسټیز اصول معمولاً د ملي اساسي قانون په دننه یا ورته سند کې، یا د هیواد د سترې محکمې د پریکړو له لارې چې د کورني قوانینو د الزامي تفسیر او معنا واک ولري، تسجیل او بیانیږي. که څه هم دا موضوع د هیواد نه تر بل هیواده پورې توپیر لري، خو کیدای شي دلته د دغو بنسټیزو اصولو یو څو مثالونه وړاندې شي لکه د محاکمو له خوا په وخت سره د مراحلو د پرمخ بیولو حق، د برائت الزمي حق، او د شخص د اغیزمنې ساتنې حق. | **Fundamental principles of domestic law** |
| پانګې یا وجوه د هر ډول شتمنیو په معنا ده که مادي وي یا غیرمادي، که د لمس وړوي یا د لمس وړ نه وي، منقول یا غیرمنقول، د اکتساب ډول ته د پاملرنې پرته، او د حقوقي اسنادو او ابزارو بڼې لکه الکترونیک یا ډیجیټال چې د نوموړو شتمنیو ملکیت یا په ګټې لرلو باندې شهادت ورکوي. | **Funds** |

| | |
|---|---|
| **Funds or other assets** | د پانګو او نور شتمنیو اصطلاح د هر ډول شتمنیو په معنا ده لکه مالي شتمنۍ، اقتصادي سرچینې، راز راز املاک، که د لمس وړ وي یا نه وي، منقول وي یا نه وي، د اکتساب ډول ته د پاملرنې پرته، او د حقوقي اسنادو او ابزارو بڼې لکه الکترونیک یا ډیجیټال چې د نوموړو شتمنیو ملکیت یا د ګټې لرلو باندې شهادت ورکوي لکه بانکي کریډیټونه، سفري چکونه، بانکي چکونه، د پیسې حوالې، اسهام، مالي تضمینونه، باندونه، بانکي حوالې، لیترآف کریډیټونه، او ربح، ګټه یا نور عاید چې د نوموړو پانګو یا شتمنیو نه په لاس راځي |
| **Identification data** | د هویت د معلوماتو اصطلاح د معتبرو او د خپلواکې سرچینې لرونکو اسنادو، اعدادو یا معلوماتو ته وایي. |
| **Intermediary financial institution** | مهرباني وکړی د ۱۲مې سپارښتنې په باب تفسیری یادښت ته مراجعه وکړی. |
| **International organisations** | نړیوال سازمانونه هغه سازمانونه دي چې د غړو هیوادو ترمنځ د رسمي سیاسي توافقاتو پربنا جوړیږي او د نړیوالو تړونونو دریځ لري؛ د هغوی موجودیت په غړو هیوادونو کې د قانون له لارې په رسمیت پیژندل کیږي؛ او دا سازمانونه په هغو هیوادونو کې چې میشته دي د هغو د میشته موسسهی واحدونو څخه نه شمیرل کیږي لکه د ملګرو ملتو سازمان او دهغه نور نړیوال غړي سازمانونه لکه د سمندري چلند نړیوال سازمان؛ سیمه ایز نړیوال سازمانونه لکه د اروپا شورا، د اروپا د اتحادیې موسسې، په اروپا کې د امنیت او همکارۍ سازمان او د امریکایي دولتونو سازمان؛ نړیوال پوځي سازمانونه لکه د شمالي اتلانتیک د تړون سازمان، او نور نړیوال سازمانونه لکه د سوداګریز نړیوال سازمان، د جنوب ختیزې اسیا د هیوادونو اتحادیه او نور. |
| **Law** | مهرباني وکړی د مالي موسسو او نومولي غیرمالي شرکتونو او مسلکونو نه د غوښتنو حقوقي بنسټ. |
| **Legal arrangements** | حکمي ترتیبات یا تنظیمونه، تراستونو یا نورو ورته ترتیباتو ته وایي. د نورو ورته ترتیباتو مثالونه (د AML/CFT د موخو له نظره) د treuhand, fiducie او fideicomiso ترتیبونه دي |
| **Legal persons** | حکمي اشخاص، له طبیعی اشخاصو نه پرته ټولې هغه موسسې دي چې کولای شي د یوه مشتري دایمي اړیکه د یوه مالي موسسه سره منځ ته راوړي یا د ملکیت څښتن وی لکه شرکتونه، موسسې، بنسټونه، ټولنې، مشارکتونه، یا اتحادیې یا نور ورته جوړښتونه. |
| **Money laundering offence** | هغه اشارې چې د پیسو تطهیر ته شویدي (د ۳مې سپارښتنې په استثنا ) نه یوازې په اصلي جرم یا جرمونو بلکه همدارنګه په فرعي جرمونو هم دلالت کوي. |
| **Money or value transfer** | د پیسو یا ارزښتونو د لیږد خدمتونه (MVTS) مالي خدمتونو ته وایي لکه د نقدو |


© ۲۰۱۳

| | |
|---|---|
| **service** | پیسو، چکونو، نورو د پیسو ابزارو یا نورو ارزي زیرمو منل او اخیستونکي شخص ته د کمونیکشن، پیغام، لیږد، یا د کلیرنس د شبکې له لارې چې د خدمتونو برابروونکی په هغه پورې اړه ولري په نقدي بڼه یا په بله توګه د نظر وړ پیسو تادیه کول. هغه معاملې چې د دغو خدمتونو له لارې ترسره کیږي کیدای شي د تادیو نوي میتودونه ولري. کله کله دغه خدمتونه په خاصو جغرافیایي سیمو پورې اړه نیسي او د مشخصو اصطلاتو په کارولو لکه حواله، هوندي یا فایچین سره تعریفیږي. |
| **Non-conviction based confiscation** | د محکمې د حکم نه پرته ضبط، هغه ضبط ته وایي چې د یوه جرم په اړه د جزایي اجراآتو له لارې سرته رسیږي چې د هغې دپاره د محکمې حکم ته ضرورت نه وي. |
| **Non-profit organisations** | مهرباني وکړی د ۸مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت ته مراجعه وکړی. |
| **Originator** | مهرباني وکړی د ۱۲مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت ته مراجعه وکړی. |
| **Ordering financial institution** | مهرباني وکړی د ۱۲مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت ته مراجعه وکړی. |
| **Payable - through accounts** | مهرباني وکړی د ۱۳مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت ته مراجعه وکړی. |
| **Physical crossborder transportation** | مهرباني وکړی د ۳۲مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت ته مراجعه وکړی. |
| **Politically Exposed Persons (PEPs)** | بهرني معروف سیاسی اشخاص هغه خلک دي چې یو بهرنی هیواد هغو ته یوه څرګنده اوچته دولتي دنده سپارلې وي او یا یې ورسپاري . د مثال په توګه، د دولتونو یا حکومتونو رئیسان، ارشده سیاستمداران، نامتو حکومتي، قضایي یا پوځي کارکوونکي، د دولتي شرکتونو مشران، د سیاسي احزابو مهم کارکوونکي.<br><br>کورني معروف سیاسی اشخاص هغه خلک دي چې د هیواد په دننه کې هغوی ته څرګندې اوچتې دندې سپارل شوې وي یا سپارل کیږي لکه د دولتونو یا حکومتونو رئیسان، ارشدسیاستمداران، نامتو حکومتي، قضایي یا پوځي کارکوونکي، د دولتي شرکتونو مشران، د سیاسي احزابو مهم کارکوونکي.<br><br>هغه اشخاص چې د یوه نړیوال سازمان له خوا ورته یوه اوچته دنده سپارل شوې وي یا سپارل کیږي د هغو په مشرتابه دلالت کوي لکه د دغو سازمانونو مشران، مرستیالان او د عامل هیئت غړي یا د معادلو دندو اشخاص.<br><br>د معروفو سیاسی اشخاص تعریف په پورتنیو کتګوریو کې په منځینو کارکوونکو یا ډیر ځوانو اشخاصو پورې اړه نه نیسي. |
| **Proceeds** | عواید هغه ملکیت ته ویل کیږي چې د جرم د ارتکاب له لارې منځ ته راځي یا په مستقیمه یا غیرمستقیمه بڼه د هغه نه په لاس راځي. |

| | |
|---|---|
| ملکيت د راز راز شتمنيو معنی لري که مادي يا غيرمادي، منقول وي يا غيرمنقول، د لمس وړ وي يا نه وي، او قانوني اسناد يا ابزار چې د نوموړو شتمنيو پر څښتنتوب يا ګټه والي باندې شهادت ورکوي. | **Property** |
| مهرباني وکړی د ۱۶مې سپارښتنې په باب تفسيري يادښت ته مراجعه وکړی. | **Qualifying wire transfers** |
| د معقولو تدابيرو اصطلاح د هغو لازمو اقداماتو په معنا ده چې د پيسو د تطهير او ترهګريز تمويل د خطرونو سره متناسب وي. | **Reasonable measures** |
| مهرباني وکړی د ۳۲مې سپارښتنې په باب تفسيري يادښت ته مراجعه وکړی. | **Related to terrorist financing or money laundering** |
| مهرباني وکړی د ۱۶مې سپارښتنې په باب تفسيري يادښت ته مراجعه وکړی. | **Required** |
| ګواښ يا خطر ته تولې اشارې د پيسو د تطهير او/يا ترهګريز تمويل ګواښ په معنا دي. دغه اصطلاح بايد د لومړۍ سپارښتنې په باب د تفسيري يادښت په اړه مطالعه شي. | **Risk** |
| کله چې يو مالي موسسه ته اشاره کيږي چې د يو مسئلې په باب يې قناعت حاصل شوی دی، دغه موسسه بايد خپله ارزونه واکمنو مراجعو ته توجيه کړای شي. | **Satisfied** |
| د غصب اصطلاح د يوه اقدام پربنا، چې د يوې واکمنې مرجع يا محکمې له خوا د انجماد د ميکانيزم سره سم نيول کيږي، د يوه ملکيت د ليږد، بدلولو، سپارلو يا خوځولو منع کول دي مګر د انجماد د اقدام برخلاف، غصب د داسې يو ميکانيزم له لارې ترسره کيږي چې واکمنې مرجع ته امکان ورکوي چې پر شخصي ملکيت کنټرول ولري. غصب شوی ملکيت د طبيعي شخص يا اشخاصو شتمنې پاتې کيږي چې د غصب په مهال ورکې ګټه درلوده که څه هم واکمنه مرجع يا محکمه اغلباً د غصب شوي ملکيت تصاحب، اداره او مديت په لاس کې نيسي. | **Seize** |
| د خپل ځانيزې څارنې اداره، هغه سازمان دی چې د يوه مسلک (لکه حقوقي وکيلان، دارالوکالو، نور مسلکونو او حقوقي محاسبانو) څخه استازيتوب کوي، او د هغه مسلک د غړو څخه جوړيږي او د هغو اشخاصو په تنظيم کې رول لوبوي چې په دې مسلک کې د برخې اخيستنې او اشتغال واک لري، او همداراز د څارنې ځرګندې دندې سرته رسوي. دغه ډول ادارې بايد داسې قواعد پلې کړي چې د معنوي او اخلاقي لوړې کچې ساتل د هغو اشخاصو له خوا تامين شي چې دغه مسلک مخته بيايي. | **Self-regulatory body (SRB)** |
| مهرباني وکړی د ۱۶مې سپارښتنې په باب تفسيري يادښت ته مراجعه وکړی. | **Serial Payment** |
| امانت ورکوونکي، هغه طبيعي يا حکمي اشخاص دي چې د خپلو شتمنيو څښتنتوب د يوه اعتباري سند (تراست) يا ورته ترتيب له لارې امانت لرونکو | **Settlor** |


© ۲۰۱۳

| | |
|---|---|
| | (تراستي گانو) ته سپاري. |
| **Shell bank** | مجازي بانک هغه بانک دی چې په هغه هیواد کې چې یې جواز اخیستی او راجستر شوی دی اصلاً فزیکي موجودیت نلري، او د یوه داسې تنظیم شوی مالي ډلې سره اړیکه نلري چې د اغیزمنه توحیدشوې څارنې تابع وي. یوازې د یوه محلي اجنت یا د ټیټې کچې د کارکوونکو شته والی د فزیکي موجودیت معنا نلري. |
| **Should** | د FATF د سپارښتنو د رعایت د ارزونې په موخه د should کلمه د must معنا لري. |
| **Straight-through processing** | مهرباني وکړی د ۱۶مې سپارښتنې په باب تفسیري یادښت ته مراجعه وکړی. |
| **Supervisors** | څارونکې هغو نومول شویو واکمنو مراجعو یا غیردولتي ادارو ته وایي چې د مالي موسسو ("مالي څارونکی"[60]) او نومول شویو غیرمالي شرکتونو او مسلکونو له خوا د پیسو د تطهیر او ترهگریز تمویل پرضد د مبارزې د غوښتنو د رعایت د تامین مسئولیت په غاړه لري. غیردولتي اداري چې د دې ډول خپل ځاني څارنې په ډله کې شاملیدای شي، باید ددې واک ولري چې مالي موسسې او نومول شوی غیرمالي کارونه او مسلکونه د غوښتنو سره سم وڅاري او تعزیر ورباندې وضع کړي. دا غیردولتي اداري همدارنگه باید د قانون پراساس ددې واک ولري چې خپلې محوله دندې ترسره کړي او د یوې واکمنې مرجع له خوا د نومورو دندو په اړه تر څارنې لاندې ونیول شي. |
| **Targeted financial sanctions** | په نښه شوي بندیزونه هم د شتمنیو انجماد او هم د ممانعتونو وضع کولو ته وایي چې د نومولو شویو اشخاصو یا ادارو په گټه د پانگو د مستقیم یا غیرمستقیم د برابرولو نه مخنیوی کوي. |
| **Terrorist** | د تروریست کلمه یو طبیعي شخص ته نسبت ورکول کیږي چې: (۱)ترهگریز اعمال په هرې وسیلې سره، څه مستقیم وی یا غیرمستقیم، په غیرقانوني یا عمدي توگه مرتکب کیږي یا د ارتکاب نیت یې لري؛ (۲) د شریک په توگه په ترهگریزو اعمالو کې برخه اخلي؛ (۳) نور خلک د ترهگریزو اعمالو د ارتکاب دپاره سازمان یا لارښونه ورکوي؛ یا (۴) د اشخاصو د یوې ډلې له خوا، چې د یوې گډې موخې دپاره عمل کوي، د ترهگریزو اعمالو د ارتکاب سره مرسته کوي او دغه مرسته په عمدي توگه او د ترهگریز عمل د ملاتړ په موخه د ډلې له خوا د ترهگریز عمل د ارتکاب د نیت د پوهیدو سره ترسره کوي. |
| **Terrorist act** | یو ترهگریز عمل لاندې اعمالو ته وایي:<br>(أ) هغه عمل چې د لاندینو تړونونو د یوه تړون په چوکاټ کې جرم وگڼل شي: (۱) د الوتکې د غیرقانوني غصب د شنډولو کنوانسیون (۱۹۷۰)؛ (۲) د ملکي هوایي چلند د مصئونیت پرضد د غیرقانوني اعمالو د شنډولو کنوانسیون |

[60] د بنسټیزو اصولو د څارونکو په شمول چې د FATF د توصیو د پلي کولو د څارنې دندې ترسره کوي.

| | |
|---|---|
| | (۱۹۷۱)؛ (۳) د ديپلوماتيکو استازو په شمول د نړیوالې ساتنې تر پوښښ لاندې اشخاصو پرضد د جرمونو د مخنیونې او سزاورکونې کنوانسیون (۱۹۷۳)؛ (۴) د يرغمل نيولو پرضد نړیوال کنوانسیون (۱۹۷۹)؛ (۵) د هسته يي توکو د فزيکي ساتنې کنوانسیون (۱۹۸۰)؛ (۶) د نړیوال ملکي هوايي چلند په هوايي ډګرونو د تاوتریخوالي د غیرقانوني اعمالو د شنډولو پروتوکول، د ملکي هوايي چلند د مصئونيت پرضد د غيرقانوني اعمالو د شنډولو د کنوانسیون ضمیمه (۱۹۸۸)؛ (۷)د سمندري چلند د مصئونیت پرضد د غیرقانوني اعمالو د شنډولو کنوانسیون (۲۰۰۵)؛ (۸) د لويو وچو په غاړه په ګوګځاى کې د ثابتو پلاتفرمونو د مصئونيت پرضد د تاوتریخوالي د غیرقانوني اعمالو د شنډولو پروتوکول (۲۰۰۵)؛ (۹) د ترهګريز بم ايښودلو د شنډولو نړیوال کنوانسیون (۱۹۷۷)؛ او (۱۰) د ترهګريز تمويل د شنډولو نړیوال کنوانسیون (۲۰۰۹).<br>(ب) هر ډول بل عمل چې موخه يې د ملکي خلکو او نورو انسانانو د وژنې يا ټپي کيدو سبب شي چې په شخړو کې د وسله وال کړکيچ په مهال کې فعاله ونډه ونلري، که چیرې ددې عمل موخه د هغه د ماهيت او تړاو له مخې د خلکو بيرول يا د يوه کار په کولو يا نه کولو د يوه حکومت يا نړیوال سازمان مجبورول وي. |
| Terrorist financing | ترهګريز تمويل يعني د ترهګريزو اعمالو او ترهګرو او ترهګريز سازمانانو تمويلول. |
| Terrorist financing offence | په سپارښتنو کې (د ۴مې سپارښتنې نه پرته) هغه اشارې چې د ترهګريز تمويل ته شوې دي يوازې په اصلي جرم يا جرمونو پورې نه بلکه همدارنګه په فرعي جرمونو پورې هم اړه نيسي. |
| Terrorist organisation | د ترهګريزسازمان اصطلاح په يوې ترهګرې ډلې پورې اړه نيسي چې: (۱)ترهګريز اعمال په هرې وسيلې سره، څه مستقيمه يا غيرمستقيمه، په غيرقانوني يا عمدي توګه مرتکب کيږي يا د هغه د ارتکاب نيت لري؛ (۲) د شريک په توګه په ترهګريزو اعمالو کې برخه اخلي؛ (۳) نور د تترهګريزو اعمالو د ارتکاب دپاره سازمان او لارښوونه ورکوي؛ يا (۴)د اشخاصو د يوې ډلې له خوا ، چې د يوې ګډې موخې دپاره عمل کوي، د ترهګريزو اعمالو د ارتکاب سره مرسته کوي او دغه مرسته په عمدي توګه او د ترهګريز عمل د ملاتړ په موخه د ډلې له خوا د ترهګريز عمل د ارتکاب د نيت د پوهيدو سره ترسره کوي. |
| Third parties | په دريمو اړخونو کې، د ۶مې او ۷مې سپارښتنو له مخې، مالي موسسې او نومول شوي غيرمالي کارونه او مسلکونه شامل دي. مهرباني وکړئ د ۱۷مې سپارښتنې په باب د تفسيري يادښت ته مراجعه وکړئ. |
| Trustee | د تراست او تراستي کلمې د تراستونو او دهغوي د پيژندنې د قانون په باب د هاګ د |

| | |
|---|---|
| | کنوانسیون په ۲ ماده کې تعریف شویدي":<br>امانت لرونکي کیدای شي مسلکي وی (د مثال په توگه د واک د حوزې له مخې، یو حقوقي وکیل د کورنی په استازیتوب د اجرت نه پرته کارکوي). |
| **Unique transaction reference number** | مهرباني وکړی د ۱۲مې سپارښتنې په باب تفسیری یادښت ته مراجعه وکړی. |
| **Without delay** | د بې له ځنډه عبارت د ملگرو ملتو د امنیت شورا یا د بندیزونو اړونده کمیټې د نومولو نه وروسته د څو ساعتونو مهالې واټن ته وایي (د مثال په توگه، د ۱۲۶۷ کمیټه، د ۱۹۸۸ کمیټه، د ۱۷۱۸ د بندیزونو کمیته یا د ۱۷۳۷ د بندیزونو کمیته). د S/RES/1373(2001) د پریکړه لیک له مخې نومورې عبارت په دې معنا دئ چې د معقولو دلایلو یا معقول بنسټ د لرلو پر اساس کیدای شي شک پیداشي یا په دې باور وشي چې یو شخص یا یو سازمان یو تروریست دي یا دا چې ترهگری یا یو ترهگر سازمان تمویلوي. په دواړو مواردو کې، د "بې له ځنډه" عبارت د هغو پانگو یا نورو شتمنیو د تینبتې یا ورکیدو د مخنیوې د ضرورت په موخه، کومې چې په ترهگرانو، ترهگروسازمانونو، د ترهگرۍ په تمویل کوونکو، او د ډله ایزې وژنې د وسلو د پراخولو په تمویلولو پورې اړه لري، او د هغوی د بهیر د سملاسي بندولو او له منځه وړلو په موخه د نړیوال تولیز اقدام د ضرورت په موخه باید تفسیر شي. |

61 د هاگ دکنوانسیون ۲مه ماده وایي:
د دغه کنوانسیون د موخو له مخې، د "trust" کلمه د حقوقي اړیکو په معنی ده چې د یوه شخص یعنې settlor له خوا د ژوند په مهال یا د مرینې په وخت کې یوې ایمني مرجع یعنې trusteeپه کنترول کې د شتمنیو په ورکولو سره د گټه لرونکي د گټې یا د یوه ټلې تاکلي موخې د پاره جوړیږي.
یو تراست د لاندې خصوصیاتو لرونکئ دئ:
(أ) شتمني جلا پانگې دي چې د امانت لرونکي د شتمنیو په ډله کې نه راځي؛
(ب) د شتمنیو د څښتنتوب سند د امانت لرونکي په نامه یا د یو بل سړي په نامه د امانت لرونکي په استازیتوب؛
(ت) امانتدار واک او دنده لري او ددې دندې په وړاندې مسئولیت لري چې شتمنی د امانت د شرایطو او خاصو دندو سره سم چې د قانون له خوا پر هغه باندې تحمیلیږي، اداره کوي، کاروی یا یې ترتیبوي
د امانت ورکوونکي د حقوقو او واکونو ساتل، او دا چې امانت لرونکی پخپله د گټه وال حق لري، حتمي نه ده چې د تراست د موجودیت مانع وگرځي.

## د مخففاتو جدول

| | |
|---|---|
| AML/CFT | د پیسو د تطهیر او تروریستي تمویل پرضد مبارزه |
| BNI | د حامل د تبادلې وړ ابزار |
| CDD | د مشتری کره کتنه |
| DNFBP | نومول شوئ غیرمالي شرکت یا مسلک |
| FATF | د مالی اقداماتو کاري ځواک |
| FIU | مالی استخباراتی واحد |
| IN | تفسیری یادښت |
| ML | د پیسو تطهیر |
| MVTS | د پیسو یا ارزښت د لیږد خدمتونه |
| NPO | غیرانتفاعی سازمان |
| Palermo Convenstion | د سازمان ورکړشوو فراملتي جرمونو په باب د ۲۰۰۰ کال مصوب د ملګرو ملتونو کنوانسیون |
| REP | نامتو سیاسی شخص |
| R. | سپارښتنه |
| RBA | د ګواښ پربنا کړنلاره |
| SR. | خاصه سپارښتنه |
| SRB | د خپل ځاني ځارنې اداري |
| STR | د مشکوکې معاملې په باب رپوټ |
| TCSP | د تراست او شرکت د خدمتونو برابرونکئ |
| Terrorist Financing Convension | د ترهګرۍ د تمویل د شنډولو په باب د ۱۹۹۹ کال مصوب نړیوال کنوانسیون |
| UN | د ملګرو ملتونو سازمان |
| Vienna Convention | د نشه يي توکو او سایکوتراپیکو موادو د غیرقانوني سوداګرۍ پرضد د ۱۹۸۸ کال مصوب د ملګرو ملتونو کنوانسیون |


© ۲۰۱۳

# لومړۍ ضمیمه: د FATF دلارښوونې سندونه

*Best Practice Guidelines on Providing Feedback to Reporting Financial Institutions and Other Persons (June 1998).*

*Guidance for Financial Institutions in Detecting Terrorist Financing (April 2002).*

*International Best Practices: Combating the Abuse of Non-Profit Organisations (October 2002).*

*International Best Practices: Combating the Abuse of Alternative Remittance Systems (June 2003).*

*The Implementation of Financial Provisions of United Nations Security Council Resolutions to Counter the Proliferation of Weapons of Mass Destruction (June 2007).*

*Guidance on the Risk-Based Approach (June 2007 - October 2009). Nine documents including RBA Guidance for:*

- *the Financial Sector;*
- *Real Estate Agents;*
- *Accountants;*
- *TCSPs;*
- *Dealers in precious metals and stones;*
- *Casinos;*
- *Legal Professionals;*
- *Money Service Businesses; and*
- *the Life Insurance Sector.*

*The Implementation of Activity-Based Financial Prohibitions of United Nations Security Council Resolution 1737 (October 2007).*

*Capacity Building for Mutual Evaluations and Implementation of the FATF Standards within Low Capacity Countries (February 2008).*

*Best Practices Paper on Trade Based Money Laundering (June 2008).*

*The Implementation of Financial Provisions of UN Security Council Resolution 1803 (October 2008).*

*International Best Practices: Freezing of Terrorist Assets (June 2009).*

*International Best Practices: Detecting and Preventing the Illicit Cross-Border Transportation of Cash and Bearer Negotiable Instruments (February 2010).*

*Best Practices Paper on Recommendation 2: Sharing among domestic competent authorities information related to the financing of proliferation (March 2012)*

*Financial Investigations Guidance (July 2012)*

*Best Practices: Managing the Anti-Money Laundering and Counter-Terrorist Financing Policy Implications of Voluntary Tax Compliance Programmes (October 2012).*

*Best Practices on Confiscation (Recommendations 4 and 38) and a Framework for Ongoing Work on Asset Recovery (October 2012)*

*Revised FATF Guidance on Anti-Money Laundering and Terrorist Financing Measures and Financial Inclusion (February 2013).*

*Guidance on National Risk Assessment (February 2013).*


© ۲۰۱۳

 © ۲۰۱۳

## ۲مه ضمیمه: د FATF په سپارښتنو کې د وروستیو بدلونونو په باب معلومات

| نیټه | د تعدیلاتو ډول | د تعدیلاتو برخه |
|---|---|---|
| فبروری 2013 | د ستندردنو همغږي کول<br>د R.37 او R.40 سپارښتنې | د R.37(d) سپارښتنه – 27 مخ<br>د دې اشارې تزئید چې د DNFBP محرمیت یا د قوانینو محرمیت باید په متقابله حقوقي همکارۍ باندې اغیزه ونکړي، د هغه حالت په استثنا چې اړونده غوښتل شوې معلومات د مسلکي حقوقي امتیاز د ایجاب یا د مسلکي حقوقي محرمیت پر بنا ساتل شوې وي |


© ۲۰۱۳

FATF

# د پیسو د تطهیر او د ترهګرۍ د تمویل
# او د ډله ایزې وژنې د وسلو د خپربښت پر ضد
# د مبارزې نړیوال معیارونه

## دمالي اقداماتو ادارې (FATF) سپارښتنې

د ۲۰۱۲ کال فبروري